

پر معیاري ژبه
د معیار په ژبه یوه څېړنه
لیکوال:
محمد معصوم هوتک
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرمعیاري ژبه
# دمعیارپه ژبه
# یوه خېړنه

لیکوال:
محمد معصوم هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه |
| لیکوال: | محمد معصوم هوتک |
| دلیکلو نېټه: | ډسمبر ۲۰۰۶ ع |
| دلیکلو ځای: | اوکویل ـ کاناډا |
| کمپوز: | محمد معصوم هوتک |
| ډیزاین: | م - روهیال |
| خپروونکی: | علامه رشاد خپرندویه ټولنه - کندهار |
| دچاپ نېټه: | جنوري ۲۰۰۷ ع |
| دچاپ شمېر: | زر ټوکه |
| انلاین چاري: | ګل اغا احسان - لراوبر ډاټ کام |

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک

سرلیک


- دلوی خدای په نامه
- ژبه
- مفاهمه
- دژبي مبداء
- دژبو تاریخي څېړنه
- دخیل لغتونه
- ژبه او دملتو په جوړښت کي دهغې رول
- لهجه څه ته وایي ؟
- دژبو کورنۍ
- لیکدود
- دپښتو لیکدود پرون او نن
- معیار ـ دژبي دمعیاري کولو اړتیـ..
- معیاري ژبه څه ته وایي ؟
- دپښتو ژبي دمعیاري کولو هڅي څه...
- د معیاري لیکني پر هڅو باندي د ...
- دنوو جوړو سوو لغتو دتلفظ ستونزه
- دژبي دسوچه توب دوه اړخه
- پښتو دسوچه توب پرپیچو مو
- په خوله کړلي تصفیه په زړه منلی ...
- پښتو نیولوګیزم ژبنۍ اړتیاکه..
- نظري معیار عملي ګډوډي
- د(په) او (پر) ګډوډي
- دمجهولي (ې) لانجه
- چې ـ مې ـ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library




- ښځینه جمعي
- التباس ته نه پاملرنه
- دايي لابله
- مونږ - موږ - موږه
- آیا د معیاریت هڅه بري ته رسـ..
- د معیاري ژبي عامیانه درک
- د کره لیکنې پښتو داوسنې هڅي....
- څه باید وسي ؟
- په پښتویي وکاږم که پرپښتو ؟
- ټکي په ټکي ژباړي ـ تلفظي...
- پرپښتو کره لیکنه باندي دنیول...
- د متروکو اوارکاییکو لغتونو
- دایوه مي لاواورئ نورنو ستاسـ..
- سپلمې وهڅولم
- ماخذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلوی خدای(ج) په نامه

غالبأبه د۱۳۲۷ش کال شاوخواوه، چي دعلامه رشادمرحوم په کورکي مي ددوی عالمانه خبروته غوږنیولی و. دخبروپه ترخ کي مي د پښتو د هغه وخت په نشراتوکي دمسلطي ژبي اودهغې په برخه کي دخپلو ستونزوپه باب ځیني پوښتني ځني وکړې. په دغه وخت کي ما د باختر آژانس په پښتوڅانګه کي دغړي په توګه کارکاوه. استاددژبي اود هغې دتحولاتواوتطوراتوپه باب اودغه رازدهغه وخت ددولتي پښتو ضد پالیسیوپه باره کي اوږدې څرګندوني وکړې. دخبروپه پای کي ما ځني وپوښتل چي ولي په دې برخه کي څه لیکئ نه ؟ په جواب کې راته وویل:"داکارستاسي ځوانانورسالت دئ. ژبه ملي امانت دئ. موږ دادئ ترتاسي پوري راورسوله. ښه موراورسوله که بده ، سمه مو را ورسوله که ناسمه ، دابه وروستي نسلونه قضاوت کوي. خواوس وار ستاسي دئ چي له دغه امانت سره بې پروایي ونه سي. اصالت ته یې صدمه ونه رسیږي. لوبي ورسره ونه سي." ماورته د فارسي دابیت وواېه:

آسمان بارامانت نتوانست کشید
قـــــرعهٔ فال بنام من دیوانه زدند

استادومسل اوزیاته یې کړه."په دې پلمونسې خلاصېدلای. دا امانت تاسي ته درپاته دئ." له هغې ورځي څخه بیاترننه پوري چي زه د " امانت" کلمه واورم ، اوږې مي راته درنې سي. داسي راته وایسي لکه ددغه امانت وړلوتوان چي نه لرم . خوداستاد(رح) آهنګ لرونکې خبره مي ترغوږوهیسته ازانګې وکړي."داکارستاسي ځوانانورسالت دئ." دهمدغه ملکوتي ږغ اغېزه وه ، چي نن یې په ماکي پردغه رازجنجالي موضوع( اوسنی پښتو یا کره پښتو؟) باندي دلیکلوجرأت پیداکړ .
ددې لیکني په شروع کي زه په دووزړوکي وم چي آیاپردغه مشخصه موضوع ( دپښتودمعیاري کولوپرهڅو) باندي دڅه لیکلواجازه لرم که یا؟ ډاکټرپالوال وایي : هو ، لرې یې (۱) .ډاکټرزیارروایي دژبي مسایل ژبپوهانوته پرېږدئ څکه دادهغوی مسلکي دنده ده . نو ګویا دده جواب منفي دئ . زه له ډاکټرپالوال څخه تشکرکوم چي دده دفتواله اسیته مي پدل مات سو اوپردغه موضوع باندي مي دلیکني جواز تر لاسه کړ اوپر څنګ یې له ډاکټرزیارڅخه بخښنه غواړم چي بې لایسنسه مي قلم چلولی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه وکړم هغه دچاخبره ٌکې خورمه کافرکېږم ، کې نه خورم وړی کېږم ٌ ددغه راز پاڼ وپړانګ ترمنځ به سترګي پټي کړم ، دخدای توکل به واخلم اودهغه حق مجراينه به وکړم چي دپښتانه خواراوننلی قوم يې راباندي لري اوپرڅنګ به مي داستادعليه الرحمه هغي توصيې ته هم يوه داوړوپزه جوړه کړې وي ، چي په ډېره جدي لهجه يې راته کړې وه اوتاسي ته مې څوکرښي وړاندي يادونه وکړه . واهمه مي ځکه ډېره ده ، چي لوړګړنګ دئ . بېرېږم چي ځان ژوبل نه کړم . يوشی چي دليکني جرئت راکوي هغه دمشرانو پوهانو بزرګواري اودکشرانواخلاص دئ اوپرڅنګ يې هررازانتقاداوکره کتني ته زماخلاصه غېږده . که زماله دې ټولي ليکني او استدلال سره سره بياهم يوچاپه دغه خبره سررا خلاص کړ، چي انډيواله ! کره دي اخيستې ده . بيابه زه هم له خپل نيلي څخه راکښته سم اوپرخپله تړه به ځم . معناداچي خپلي خبري نعوذبالله من ذلک ، قرآني احکام نه ګڼم .

په دې اثرکي ماله ځينوکتابوڅخه اوږده اوږده اقتباسونه کړي دي . دا کار دي لوستونکي دليکني دپنډوالې په انګېزه نه ګڼي . زمارساله يې هغه هم خواره بوښکې ده . زماهدف دمعياريت اوسني جريان ته کره کتنه غوندې ده . ددې له پاره زه دنظرياتواونقل قولونوبيارانقلولوته اړ کېدم ځکه له رانقلېدوپرته يې لوستونکي په تاريکه کي پاتېدل . خو له دې سره دي هم مالوستونکي وبخښي . په کتاب کي يوشمېرمکررو خبروزماپه خيال څه بېځوندي پيښه کړې ده.مادموضوع دلازيات وضاحت په نيامت دمکرراتوبېځوندي پرځان منلې ده . هيله ده ښاغلي لوستونکي يې په بزرګواری سره په ٌ تکرارحسن ٌ کي وشمېري .ددې ليکني ځيني برخي ترجمې دي ، چي په متن کي مي يې ماخذ ښوولی دئ اونوره زماخپله څېړنه ده .

په پښتنوکي له بده مرغه پرعلمي مسئلوباندي دنظرڅرګندولو پای ناندرواوشخړوته درېږي . په دغه حقيقت باندي له پوهېدوسره سره ، بياهم زه خپل تاريخي مسئوليت دې ته اړکړی يم چي دهغوزرونو پښتنو اندېښني منعکسي کړم ،چي دپښتودننی په اصطلاح کره ليکني له بابته ورته پيښي سوي دي .

اګربينی که نابيناوچـــاه است
اګرخاموش بنشستی ګناه است

+++++

محمدمعصوم هوتک
اوکويل – کاناډا
۲۰ نومبر۲۰۰۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



)١ (ډاکټرصاحب پالوال داخبره دلغاتو جوړولو په برخه کي کړې ده اوو ايي چي دلغاتو جوړول دژبي دهر مستعدويونکي حق دئ .خوزه به ددوی له دغي اجازې څخه لږڅه پراخه استفاده وکړم.
)وګ: معياري پښتو ـ۲۴۰مخ. (

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبه

په انسا سيکلو پيډيا بريټانيکا کې يې د ژبې په تعريف کې کښلي دي چې ژبه د ږغيزو سيمبولونو د خپلي خوښي سيستم دئ چي د هغه په واسطه انسانان ديوې ټولنيزې ډلي او ديوه کلتور د برخه والو په توګه متقابله پوهونه او راپوهونه (مفاهمه) سرته رسوي. په دې تعريف کي ځاى سوي مفاهيم که جلا جلا وشنل سي ، نو به :

ږغيز (vocal) معنادا چي د ژبي په تعريف کي مورډ مفاهمې په برخه کي يوازي د (وينا ) پر اړخ زوراچوو. د مفاهمې نور سيستمونه هم سته لکه ديوه ټاکلي مفهوم دافادې له پاره د سراولاس ښورول ، داوړو پورته کول ، د ستر ګو کشول ، پزه بوچه نيول اونور، چي دا هريو يې ديوه مشخص مفهوم په ښوونه کي مرسته کوي خو موړ په ژبه کي يوازي ږغيز سيستم په پام کي نيولى دئ (۱ . ( له خپلي خوښي مطلق (arbitrary) سيستم څخه مومراد دادئ چي د ژبني سمبول او د هغه داصلي مادي ترمنځ هيڅ رازلازمي اړيکي نه وي. د مثال په توګه په پښتو کي يو حيوان ته آس وايي. د دغه نامه له پاره په پاړسي کي اسپ ، په عربي کي فرس ، په هندي کي ګهوړا ، په انګرېزي کي هورس ، په فرانسوي کي شاوال او په روسي کي لوښاد ؟ ټاکل سوى دئ. له دغو لغتونو څخه هيڅ يو يې دنو موړي حيوان له واقعي حالت سره مناسبت نه لري ، بلکي صرف يوه نومونه ده چي د (ولي ؟) له پاره يې نه جواب سته او نه ژبپوهان له دې بابته پرځان باندي د څېړني تکليف ايږدي. داخبره حتى په تقليدي لغتونو (imitative words) کي ، چي ديوه ږغ د تمثيلولو له پاره وضع سوي وي ،لاهم تريوې اندازې صدق کوي. په انګرېزي کي د پيشو خرهاري ته (purr) وايي او په فرانسوي کي ورته (ronronner) وايي. دواړه لغتونه د پيشي (پيشو ) د خرکي ږغونه تمثيلوي خو تاسي وينئ چي دهغو په شکل او جوړښت کي څومره توپير سته .

سيمبولونه د شيانو څرګندوونکي دي خو پخپله شيان نه دي. د کتاب لغت پخپله کتاب نه دئ بلکي دهغه څرګندوى دئ.

کله چي مورډ ژبي لغت پرخوله راوړو ، ترزياتي اندازې پوري مومراد دويلو ژبه (spoken language) ده . ليکلې ژبه بيا يو بل سيستم دئ چي له وينا سره سيده اړيکي لري.

اروانباد پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام ليکي: "ژبه دانساني ږغونو يو رمزى سيستم دى چي ديوې ژبنۍ ټولنى غړى يى د مفاهمى له پاره په کاروى. مورډ ژبى دغه ږغيز سيستم ته وينا وايو. انسانانو د خپلو وينايى ژبو د ثبتولو او ساتلو له پاره ګرافيک سيستمونه اختراع کړي دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ یې لیک بولو . وینا او لیک په ماهیت کې دوه بیل سیستمونه دي. د وینا اساسي جوړونکي عناصر ږغونه دی او د لیک اساسی جوړوونکی عناصر توري دي. ږغونه د اسې فزیکی پدیدې دي چې احساس یې د غوږونو په واسطه کیږي او توري بیا د اسي بل ډول فزیکي پدیدې دي چی احساس یې د سترګو په واسطه کیږي....ٌ (۲)

ډاکټر عبدالرازق پالوال د ژبې یوه بر خوندور تعریف کړئ دئ او هغه دا چې ٌ ژبه د پوهوني او پوهېدني هغه صوتي سیمبولیک وسیله ده چې ودې او تکامل یې بشر د انسانیت و تکاملي پړاو ته، او د لیک ایجاد یې انسان د مدنیت و تکاملي پړاو ته رسولئ دئ.ٌ (۳)

۱) ځیني پوهان د مرغانو ږېز ، د انسانانو له خواد ٌهوٌ پرځای سربښورول ، یا د بې علاقه ګۍ ښوولو پر ځای د اوږو پورته کول هم په ژبه کي راوړي خو په دې شرط چې د غه حرکات او نخښې تل همدا یوه معنا ورکړي .

وګ: الستړیتیډ ورلډ انسایکلوپیډیا ـ ۳۰۳۲ مخ ـ نیویارک )

۲) د خان شهید یاد ـ د مقالو مجموعه ـ ۷۳ مخ ـ د سرحدونو چارو وزارت ـ کابل ـ ۱۳۷۰ ش

۳) پالوال ، ډاکټر عبدالرازق ـ معیاري پښتو ـ د پښتنې لومړی مخ ـ ۱۳۸۴ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مفاهمه

انسانان ټولنیز ژوند کوي. دغه وی په سلوک کي یو له بل سره متقابل عملونه او دغه رازله چاپیریال سره متقابل عملونه دواړه شامل دي. دغه متقابل عملونه او فعالیتونه د مفاهمې له لاري ، یو بل ته د پیغامو او اطلاعاتو د رسولو له لاري سرته رسېږي. دغه راز منظم او پر یوه ټاکلي سیستم باندي ولاړ متقابل عملونه یوازي د انسانانو ځانګړتیا ده. نور حیوانان (ژوي)هم
د ټاکلو ږغونو او حرکتونو په واسطه یو بل ته پیغامونه رسوي ، خو دغه وی مفاهمه د انسانانو د منظم ژبني سیستم په توګه نه وي.ژوي یوازي د ږغونو جوړولو غریزوي وړتیا لري خو انسانان د خپلي ټولنیزي ډلي د ژبي د زده کولو او نوروته د ورلېږدولو توان هم لري. د پوهني دلېږدوني همدا توان د بشري مدنیت د منځ ته راتګ تادا و ګڼل کېدلای سي. که د ژبي تعریف په پام کي و نیول سي نو انسانانو هر وخت د خبرو کولو توان درلود ، خو د دې معنادا نه ده چي ژبه دي نو د کلمې په واقعي معنادا انسان د پیدا ایښت همزولې وي .

په مفاهمه کي دري ډوله سیستمونه شامل دي چي یو یې ږغونه دي ، بل یې د بدن حرکتونه دي او دریم یې ، چي ترنورو دووډولونو ډېرزیات بنسټیزاهمیت لري ، ژبه ده. په ژبه کي بېلابېل ږغونه تریوه ځانګړي انتظام لاندي او ډل سوي وي.

ټولو انسانانو د ځان له پاره دو یلو یوه ژبه جوړه کړې ده او هرچیري چي بیا مدنیتونه منځ ته راغلي دي ، هورې بیا ورسره سم لیکلې ژبه ایجاد سوې ده. له لرغونو ژبو څخه بېلابېلي نوري ژبي رازېږېدلي دي او اوس په نړۍ کي تریوزرزیاتي ژبي سته چي ځیني یې په میلیونونو ویونکي لري او ځیني یې بیا یوازي په یوه محدوده قبیله کي د یو لږ شمېر ویونکو له خوا ویل کېږي. ژبه د انسانانو او انساني مدنیت یوه ډېره ستره بریا (لاس ته راوړنه ) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دژبي مبداء

دبشریت په تاریخ کي دداسي یوه وخت اټکل کېدلای سي چي دنړیوانسانانو نیکه ګانو دي دمفاهمې له پاره دژبي په نامه یوه منظمه وسیله نه درلوده. تاریخي څېړني دنړۍ دموجودوژبو نېټه فقط یوڅو زره کاله وړاندي بیولای سي. دداسي یوې ژبي یا ژبو په باب زموږ سره معلومات نسته، چي موږیې دانسانانولومړنۍ (primitive)ژبه وبولو. دومره قدرپوهېږوچي په انساني تاریخ کي نه بې ژبو انسانانو وجود درلوداونه بل حیوان دخبروکولواستعدادلري. دانسانانود فوسیلونو څېړنه(۱)موږته دیوملیون کالویاترهغه وړاندي زمانه کي دژبي دستهوالي ثرک راکوي .

۱) (فوسیل fossil دلرغونوژوندیوموجوداتو(حیواني یانباتي )آثارویابقایاووته ویل کیږي لکه هډوکي اوغاښونه چي دمځکي په طبقاتوکي پاته سوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دژبو تاریخي څېړنه

ننني حالت ته دژبو دتکاملي سیر څېړنه ځکه سخته ده ، چي په دې برخه کي زیات مواد او ارقام (data)نسته. خوله نېکه مرغه ننۍ ژبي سره پرتله کېدلای سي او که دهغو ترمنځ منظم ورته والی وموندل سي ، ددغه ورته والي له مخي ځوک کولای سي دنو موړو ژبو یوه مخکښنۍ او زړه مرحله پیدا اکاندي. هغه پوهنه چي دغه رازمسایل څېړي ، د تاریخي ژبپوهني (historical languistics)په نامه یادېږي او مقایسوي ژبپوهنه (comparative languistics) دهمدې علم یوه څانګه ده .

ژبي دژوندیو موجوداتو دنورو فعالیتو په شان دچاپیریال له بدلو نو څخه اغېزمني کیږي. دوګړو دکلتوري سیستمونو په هره برخه کي چي کوم بدلون راسي ، اړونده ژبه یې هم تریوې اندازې پوري هرومرو بدلیږي. له دې سره سم دژبي زاړه لغتونه او اصطلاحات له استعماله لوېږي یا یې معناوي بدلون مومي ، نوي لغاتونه منځ ته راځي. سربېره پردې دژبي ویونکي هم تل تغیرمومي. لوییږي ، زړیږي ، مري او نوي ویونکي منځ ته راځي. دیوې ژبي هرویونکی فردهم دخپل عمرپه اوږدو کي دژبي دویلوځیني لاري چاري بدلوي. له دغه فرد سره ښایي نورهم دده دلاري تقلیدوکړي. په دې ډول دوخت په تېریدو سره په ژبه کي ډېربدلون راځي. دابهېرورو ورو پرمخ ځي. که ځوک دیوې ژبي د ډېرو سپین ږیرو اوزلمیوویونکوویناوي واوري ، په هغوکي به د یادوني وړتوپیرووویني. دلغتونو داستعمال په برخه کي هم ورو ورو او ناڅاپي بدلونونه پېښېږي. که چیري دیوې ژبي لیکلي ثبتونه موجود وي ، نوڅېړونکي په اسانۍ سره کولای سي چي دغه رازبدلونونه پیدا کړي .

په لغتونو کي بدلونونه په څوډوله منځ ته راځي:

ــ معناوي یې بدلون ومومي(١ . (

ــ یو لغت له استعماله لوېږي .

ــ نوي لغتونه او اصطلاحات جوړېږي.

ــ له نوروژبو څخه لغتونه اخیستل کېږي .

١) (دمثال په توګه په انګرېزي کي د (deer)لغت چي نن دهوسۍ په معنا رواج لري ، په زړه انګلیسي کي په عمومي توګه د(حیوان) په معناکارېدئ. په پښتو کي دسیال کلمه دپښتانه له پاره یوه درنه اودویاړ وړ کلمه وه، نن یې دمعیارکاروباریان ددښمن له پاره کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخيل لغتونه

له نورو ژبو څخه دلغتونو اخيستلو بهېرته (لغت پورول) وايي اوکوم لغتونه چي په دې ډول ژبې ته ننوزي د(دخيلو لغتونو ) په نامه ياد ېږي. هره ژبه خوراډېر دخيل لغتونه لري او مجرده ژبه په نړۍ کي اصلاً وجود نه لري. ارواښاد علامه رشاد(رح ) وايي: ٌ په دنيا کي مجرده ژبه نه سته او مجرد قوم هم نه سته. تاسي وګورئ عربي داسي يوه ژبه ده چي قرآن پکښې نازل سوی دی او دعربو قد امت هم واضح دی. مګرپه قرآن کي اتلس توري غيرعربي راغلي دي. هغه دعربو نه دي او دعربي دخيلو لغاتوله پاره خفاجي يولوی کتاب ليکلی ، شفاءالعليل يا ځيني کسان يې شفاءالغليل لاوايي... سيد سليمان ندوی دلغات جديده په نامه باندي يو بل کتاب ليکلی ، چي په هغه کي يې په عربي کي نوي ور داخل سوي لغات څېړلي دي...ٌ (۱(
انګرېزي ژبي ته تر۱۰۶۶م کال وروسته خوراډېر فرانسوي لغتونه ننوتل(۲ ) . د مثال په توګه د (chair) لغت په همدې وخت کي انګرېزۍ ته ننوتئ چي نن ورځ څوک د دخيل لغت خيال لانه ورباندي کوي. په زړه انګرېزي کي پخوا دهمدې لغت پرځای (stol) يا (stool)رواج درلود.

د دخيلو لغتونوله مخي ديوې ژبي دويونکو اړيکي له بلي ژبي او بل قوم سره څرګند ېدلای سي. کله چي يوې ژبي ته کوم لغت له بلي ژبي څخه ورننوت او هورې يې په ژبه کي واخښل سو ، نوريې نودژبي ويونکی خپل لغت او دژبي خپل مال بولي .
لکه وړاندي چي موو ويل ،ژبي تل دپېړيو په اوږدو کي بدلون مومي .
که دانسانانو دوه داسي ګروپونه په پام کي ونيسو ،چي په پيل کي يې يوه ژبه ويله خود ځينو عواملوله امله يوله بله سره بېل ژوند کولو ته اړ سول ، څو سوه کاله وروسته به يې ژبي يوله بله سره ډېرتوپيرولري اوکه دا حالت همداسي روان وي نو څوزره کاله وروسته به يې ژبي دومره سره ليري سوي وي ، چي يوازي به دژبي ماهران په پوهېږي چي ددې دووژبو مورګنۍ يوه وه .

دهرقوم ژبه دهغه قوم له ټولنيز، اقتصادي او کلتوري حالته سره تړلې ده. که يې قوم دسيالانو سيال و ، ژبه يې هم ترسيالانو نه پاتېږي. پښتو دپښتانه ژبه ده. دپښتو تاريخ دپښتنوله تاريخ سره تړلی دئ. ترقي او پرمختګ يې هم دپښتنوله ترقۍ او پرمختګ سره سيده اړيکی لري. پښتانه چي دخپل ټولنيز انکشاف په داسي پړاو کي وي ، چي په ېسوادۍ کي پاچهۍ کولای سي ،خانۍ کولای سي، سوداګرۍ کولای سي، پيرۍ او مريدۍ کولای سي ،نوژبه به يې څرنګه او ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر مختللې وي ؟
هره ژبه که دهغې له ویونکو څخه مجرده وڅېړل سي ، ګویانه ده څېړل سوې. ژبه پر ویونکو اغېزه کوي او ویونکي بیا ژبه سره سمبالوي او سموي یې .

۱) ګوربت مجله ـ لومړی کال ، شپږمه ګڼه ـ ۲۳مخ
۲) په دغه کال انګلستان د Normans له خوا فتح سو . د نورمن نوم پخوا په عمومي توګه د سکاندنیویایي خلکو له پاره کارېدئ خو وروسته یوازي د ناروې خلک په دغه وبلل سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبه او دملتو په جوړښت کي دهغې رول

ديوه ملت دجوړېدو اساسي عناصرګڼه جغرافيايي سيمه ، ګډ تاريخ او ګډ کلتور(دين ، ژبه ، .... ) دي خو ددې عناصرو داغېزې درجې يورازنه دي. زياتره پوهان په دې عقيده دي چي ژبه ديوه ملت د جوړېدو ډېرمهم عنصردئ. دمانچسټرپه پوهنتون کي دانګرېزي ژبي استاد ټوني کراولي Tony Crowley١) (دژبي دهغې اغېزې په باب چي په نونسمه پېړۍ کي يې په اروپا کي دنوو منځ ته راغلو ملتو په ژوند کي درلوده ، داسي ليکي :
په١٩ پېړۍ کي په اروپا کي يوشمېرمهمي سياسي پرمختياوي منځ ته راغلې اودهغوپه ترځ کي ځيني نوي ملتونه راڅرګند سول چي خپل ځانونه يې دلومړي وارله پاره وپېژندل اوله نوروڅخه يې هم دپېژندني غوښتنه وکړه. په دغه کلتوري اوسياسي بدلون کي ژبي مهم رول ولوباوه. ځکه لکه څرنګه چي ژبه په يوه ملت کي دشاملېدلو اوله هغه څخه دوتلوله پاره يوه په زړه پوري اساسي وسيله وه ، دغه رازديوه ملت د منځ ته راتګ لومړنۍ وسيله هم وه .
Pedersen څرګنده کړې ده ، په نونسمه پېړۍ کي داروپاد ملي ويښتيا او دژبپوهني پيلتيا له يوه لاسه بل لاس ته کېدله اود زياترو نوو را پيدا سوو ملتوله پاره دګرامرکتاب ليکنه يادېوې ډيکشنرۍ ترتيبول د سياسي ارمان اعلاميې اوڅرګندوني وې .

لکه ميولر Muller چي ويلي دي ژبه دبشريت دټول تاريخ يوژوندی او ګويا شاهددئ. دی زياتوي چي په دې ډول به ژبه دبشريت ديوه يو موټي اوډله ييز ګروپ ياپه بل عبارت يوه ملت ژوندی اوګويا شاهد هم وي.کله چي ميولر وايي،په معاصروخت کي دځينو ډېرو سرسامونکو ټولنيزواوسياسي لانجودحل له پاره ژبپوهني ته مراجعه سوې ده ، په حقيقت کي يې دژبي دمطالعې پرسياسي رول باندي تبصره کړې ده. دغه رول دواکمنو کورنيو اودهغوی دترونونو په ګټه لوبېدلی نه دئ بلکي دهغوی پرضد يې دملتونو اوژبو په ګټه عمل کړی دئ. دنونسمي پېړۍ په دغه عصرکي دغي مفکورې ډېره وده وکړه چي" ژبه ملي هويت اوتشخص منعکسوي". دمثال په توګه G.F.Graham د ژبي د رول او اهميت په باب داسي څرګندوني لري :
ژبه ديوه ملت دتمايلاتو اوعادتونوڅرګنده څېره ده اوددوی دپوهي او احساساتو ډېرغوره محک دئ. که داتشريح ومنله سي نوطبيعي نتيجه يې داراوزي چي داولسو اودهغو دژبي ترمنځ اړيکی دومره سره نژدې دئ چي يويې بايد دبل له مخي وپېژندل سي.ژبه داولس دخوی اوخصلت وروستی يادګاردئ. دی ور پسي زياتوي چي ژبه ديوه ملت له يووالي سره په غوڅه توګه تړلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



G.P.Marsh لیکلي دي: څرګنده ده چي دیوه اولس دیوو الي له پاره د ژبي یووالی اساسي توکی دئ. د ملت په جوړښت کي د ژبي اشتراک د دین او حکومت تر اشتراک زیات غښتلی عنصر دئ. دیوې ژبي همزمانه ملتونه که هرڅو دعقایدو او سیاسي تشکیلاتو د توپیرونو له امله د شکل له مخي سره بېل سوي وي ، خو په اصل کي یو کلتور، یو ارمان او د حوادثو په مقابل کي یو راز عکس العمل لري.

۱) (ټوني کراولي په لیورپول کي زېږېدلی اولوی سوی دئ. د اکسفورډ ، سوت ټامپټن ، رتجرز، بارسیلونا او سانډیاګو په پوهنتونو کي درس لوستی دئ. اوس (۲۰۰۵م کال) د مانچسټر پوهنتون د انګلیسي ژبي پروفیسر دئ. دده په لیکلو آثارو کي Proper English? ) ، Language in History and The Politics of Language in Northern Ireland ، او Standard English and The Politics of Language ) یادوني وړ دي.
دهمدې عنوان مطالب د ټوني کراولي د Standard English & the Politics of Language د کتاب له دوهم چاپ د ۵۲ ـ ۵۷ مخونو څخه اخیستل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لهجه dialect څه ته وايي؟

لهجه د خبرو اترو طرز یا د خبرو د د افادې یوډول دئ. لهجې ته په انګرېزي کې dialect وايي چې د یوناني لغت dialectos څخه مشتقه کلمه ده او ډیالکټوس د خبرو کولو طریقې ته ویل کیږي. لهجه د یوې ژبې محلي نوعه هم بللای سو. لهجې ته فرېزیو لوجي phraseology هم ویله سوې ده (۱) او هغه هم د افادې د ځرګندولو لارې ته ویل کېږي.

لهجې پر جغرافیايي ماحول سربېره په ټولنه کې د یوې ژبې د ویونکو له ټولنیزاو اقتصادي دریځ سره هم بدلون مومي. د کلیوالو لهجه، د بزګرو لهجه، د مامورینو لهجه، د اشرافو لهجه، او نوري ډېري لهجې یې په مثالو کي راتللای سي .

د ژبې پوهان په دې عقیده دي، چې د ژبې لهجه هغه وخت منځ ته راځي چې ویونکي یې له خپل اصلي او طبیعي ټاټوبي څخه د بېلابېلو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نظامي عواملو له امله نورو سیموته ولېږدېږي او هورې د نورو ژبو په ګاونډ کي واقع سي او د نورو ژبو او ثقافت تراغېزې لاندي راسي. د ځینو لهجو د انکشاف لړۍ دومره پسې اوږده سي، چې یوه بله ژبه منځ ته راوړي .

)۱(ټوني کاولي ۸۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دژبوکورنۍ

ژبپوهانو دانسانانو دبېلابېلو نژادونو، قومونو او ملتونو ژبې سره مقایسه کړې دي او هغه یې پرکورنیو باندي سره وېشلي دي. دژبو دې راز مقایسې ته comparative method وایي. د دې مقایسې په نتیجه کي دوی ته څرګنده سوې ده چي په ځینو ژبو کي لغتونه یو له بل سره ورته ښکاري او له دې څخه داسې نتیجه راباسي چي دا ژبې په یوه واحده ژبنۍ کورنۍ پوري اړه لري. دوی هڅه کوي چي د دې ژبنۍ کورنۍ مبداء ژبه پیدا کړي. دغه مبداء ژبه زیاتره فرضي hypothetical ژبه وي ځکه دهغې دسته والي دثبوت له پاره پوره اندازه لیکلي مواد په لاس کي نه وي(۱. (
په ژبنیو کورنیو کي یوه دهندواروپایي Indo-European ژبو کورنۍ ده. دهندواروپایي ژبو مفهوم وار دوارډ دووتنوورونو جرمن ژبپوهانو ویلیام ګریم او جیکب ګریم نړۍ ته اعلان کړ. په دې ورونو کي جیکب ګریم دیو قانون پرکشف باندي بریالی سو، چي وروسته دګریم د قانون په نامه مشهور سو(۲ ).ګریم پخپل قانون کي وښودله چي انګلیسي، جرمني ،لاتیني او داروپاډېري نوري ژبې په یوه کورنۍ پوري اړه لري او دا کورنۍ وروسته دهندواروپایي کورنۍ په نامه یاده سوه. پوهانو ته لا دا خبره ښه پوره معلومه نه ده چي دهندو اروپایي ژبو مبداء چیري ده (۳).
پښتو دهمدې کورنۍ د آریانۍ څانګي په ختیځ ښاخ اړه لري.

)۱ (الستریټیډ ورلډ انسایکلوپیډیا ـ دیارلسم ټوک ـ ۳۰۳۱ ، ۳۰۳۳ مخونه ـ نیویارک
)۲(جیکب لـــــــــــودویګ ګریم (Jakob Ludwig Grimm(1785-1863 او ویلیام کارل ګـــــــــــریم
Wilhelm Karl Grimm(1786-1859 )دوه ورونه وه چي څه د پاسه دوه سوه کاله وړاندي په جرمني کي اوسېدله. دوی پر جرمني فولکلور باندي ډېر کار وکړ او د فولکلوریکو کیسو یوه مجموعه یې راغونډه کړه چي نن Grimm?s Fairy Tales نومېږي. دا کیسې په ټوله نړۍ کي شهرت لري خو په وروستیو کلونو کي د کیسو د کرکټرونو د خشن توب له امله تر انتقاد لاندي راغلي دي. (وګ: الستریټیډ ورلډ انسایکلوپیډیا ـ لسم ټوک ـ ۲۴۲۷ مخ (
)۳ (هماغه اثر ـ ۲۷۴۲ مخ
)۴ (ویکیپیډیا Wikipedia دایره المعارف ـ دانټرنیټ په حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکدود

دلیکلو (writing) عملیه پریوه وسیله باندي د کرکټرونو (تورو ) کیندل یا کښل دي. له دې فعالیت څخه مراد دلغاتو او نورو هغو جوړ ښتو سره اوډل یا ثبتول دي ، چې دیوې ژبې نمایندګي کوي. داوډلو او ثبتولو له پاره له ټایپ څخه هم کار اخیستل کېږي خو دلیک دقیق ماهران ټایپ کولو ته دلیکلو عملیه نه وایي. ددوی په نزد لیکل (writing) او ټایپ کول (typing) دوې سره بېلې عملیې دي. په نړۍ کي دلیکلو اساسي سیستمونه پر څلورو برخو وېشل سوي دي: لوګو ګرافي ، سیلابي، الفبایي او شکلي. په دې ټولو کي یې زموږد بحث وړ برخه الفبایي سیستم دئ. الفبې د سمبولونو یو مجموعه ده چې هر سمبول یې دژبې دیوه فونیم ( ږغ ) نمایندګي کوي. بشپړې الفباوي هغه الفباوو ته ویل کېږي چې داړوندي ژبې ټول اوازونه او حرکتونه په بشپړه توګه سره تمثیل کړلای سي. یعنې که یوه لیکونکي ته دیوه لغت تلفظ ورکړه سي ، دی یې دلیکلو تر عهده وو تلای سي او که یوه لوستونکي ته یو لیکل سوی لغت وړاندي سي ، دی یې د تلفظ کولو تر عهده وو تلای سي.(۱ ) د سیمبولونو یا الفباوو په واسطه دیوې ژبې تمثیل ته د هغې ژبې لیکدود وایي. څرنګه چې دیوې ژبې او بلې ژبې تر منځ او دغه راز په یوه ژبه کي دننه د بېلا بېلو لهجو تر منځ دږغونو توپیر سته ، ځکه نو لیکدودونه هم توپیر سره لري. هر څو مره چې دیوې مشخصې ژبې دلهجو دیونکو تر منځ راشه درشه او نور ټولنیز او کلتوري اړیکي سره نږدې کېږي، هغو مره یې دواحدي ژبې او واحد لیکدود له پاره زمینه برابرېږي .

دیوې ژبې دلیکنې سیستم (لیکدود ) تل د هغې ژبې دویونکو د اړتیاوو پر بنسټ بدلون او انکشاف مومي. کله کله دوخت په تېرېدو سره د سمبولونو په شکل کي هم بدلون راځي. له همدې امله دئ چې دیوې لیکلې نسخې د انکشاف دڅېړنې له لاري هم داړوندوویونکو د اړتیاوو په باب معلومات ترلاسه کولای سو او هم یې دوخت په اوږدو کي د بدلونونو په څرنګوالي پوهېدلای سو. دهمدې حقیقت له امله باید د متونو په ثبت او خپرولو کي د خطاط د سلیقې یا لهجې په خاطر بدلون رانه وستل سي ځکه که داکاروسي ، متون مسخه کېږي او دژبې د تاریخي مطالعې په څېړنه کي څېړونکی بې لاري کېږي او پر خپله څېړنه باندي غلطې نتیجې بناکوي .

دالفبې تاریخي سابقه لرغوني مصرته رسېږي او پیل یې د۲۷۰۰ ق م څخه رانښول کېږي. لرغونو مصریانو دهیروغلیف ددوه ویشتو سمبولو په ایجاد او انکشاف سره دخپلې ژبې کانسونینټونه را پېژندلي دي. د لیکدود دتاریخچې او دلیک دډولونو څېړنه زموږ تر بحث وتلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

)۱ (ارواښاد پوهاند ډاکټر الهام لیکلي دي: د پښتو په اوسني لیکدودي سیستم کې
د هر کانسونانتي ږغیز واحد (فونیم) له پاره یو خاص لیکدودي واحد (ګرافیم) شته او کومه ستونزه
په کې نه احساسیږي. مګر د پښتو د ږغیز سیستم جوړښت واولي ږغیز واحدونه لري خو د لیکدود په
سیستم کې یې یوازې پنځه ګرافیمونه موندلای شو. له بلې خوا پښتو ځینې داسې ږغونه هم لري
چې له دوو واولونو څخه ترکیبیږي او په لیکدودکې ګرافیمونه ورته نشته
او د پښتو د لیکدود ستونزې له همدې کمبوتیو څخه راولاړیږي .
)وګ: د خان شهید یاد ــ ۷۴ مخ(

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپښتو لیکدود پرون او نن

دپښتو الفبې د منځ ته راتګ پر خبره باندې کورني او بهرني پوهان په یوه خوله نه دي. او دوي لانجې تاداو پردغه حقیقت باندي ولاړ دئ چي دلیک مرحلې ته د پښتو ژبې د رسېدلو دوخت په باب موړپوره مدارک په لاس کي نه لرو. دلیکدود پرسر باندي په اوسنۍ زمانه کي لا نه توافق او یو لړ نورعیني واقعیتونه د دې خبري ښکارندويي کوي چي پښتنو دي تر نورو ګاونډیو وروسته لیک ته اړتیا موندلې وي. د دې موضوع تفصیلي څېړنه موږ له خپل هدف څخه لیري کوي. د پخوانیو روایتو او اوسنیو څېړنوله مخي د پښتو الفبې ایجاد ، یا په یوه روایت سمول د غزنوي سلطان محمود ( ۳۸۷ـ ۴۲۱ هـ ق )زمانې ته رسېږي. دا روایت د خیراللغات د مولف قاضي خیرالله نوښاري له خوا د نو موړي کتاب په
مقدمه کي ( د ۱۹۰۳ع چاپ ) بیان سوی او وروسته عام سوی دئ. قاضي خیرالله د دغه روایت نه راوي ښوولی دئ او نه یې هم ماخذ ، چي څېړونکي دي د نورو څېړنو له پاره ورته مراجعه وکړي. علامه رشاد (۱۳۰۰ـ ۱۳۸۳هـ ش) د دغو روایتو تر یادوني وروسته د پیر روښان بایزید (۹۳۱ ـ ۹۸۰ هـ ق ) هغه ادعا رانقلوي چي وایي پر عربي تورو باندي د پښتو تورو ورزیاتول د ده ( بایزید ) کارنامه ده. (۱) د پښتو تورو په جوړولو کي د روښان پیر دغه ادعا دده یو پیاوړي مرید او پیرو دولت لواني په دغه بیت سره تایید کړې ده:

افغاني لفظ مشکل و ، لوست کو ښن نه شه<br>
ورته وشـــــــوه، کننده د یارلس حرفـــونه

دپښتو دا توري د روښان پیر دلوی عقیدوي او سیاسي مخالف اخوند درویزه ننګرهاري (۹۳۹ـ ۱۰۴۸هـ ق )له خوا هم کارسوي دي او له همدې استعمال څخه ګیورګ مارګنسترنې (۱۸۹۲ـ ۱۹۷۸ع ) دا سي نتیجه اخیستې ده چي ګویا د روښان پیر پورتنۍ ادعا حقیقت نه لري (۲ ).
که د غزنوي سلطان محمود په وخت کي د پښتو الفبې په باب غښتلي اسناد تر لاسه هم سي ، له دې حقیقت څخه سترګي نسي پټېدلای چي د غې الفبې د ایجاد له زمانې ( پنځمي هجري پېړۍ ) څخه بیا د روښان پیر تر وخته ( لسمي هجري پېړۍ ) پوري منظم او پرله پسې تداوم نه دئ موندلی او که یې موندلی هم وي ، زموږ په واک کي دا سي اسناد نسته چي له هغو څخه دي د دغه تداوم د سته والي په باب د استدلال له پاره کار واخلو. د موجودو اسنادو له مخي د پښتو الفبې مستند لیکلی ثبت چي وروسته یې زموږ تر زمانې پوري له ډېرو بدلونونو سره پرله پسې تداوم موندلئ دئ ، د خیرالبیان لیکدود دئ چي زموږ په څېړنو کي ورته روښاني لیکدود ویل سوئ دئ. روښاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکدود د دغه غورځنګ په نشراتو او شعري دېوانونو کي پالل سوئ دئ او په دغه لیکدود باندي لیکلي سوي نسخې د پښتو نسخو په زېرمو کي موندل کېږي. تررو ښاني ادبیاتو، چي مراد مي د روښاني غورځنګ د پیروانو د دېوانونه دي، په هاخوا زموږ په لاس کي اوس داسي کومه خطي نسخه نسته چي دغه لیکدود دي یې پاللی وي.

د روښان پیرلوی مخالف اخوند درویزه او دهغه پیروان ځان ته خپل پښتو لیکدود لري چي په خپله نوعه کي خو یو جلا لیکدود ورته ویلای سو، مګر له روښاني لیکدود سره یې په ځینو برخو کي ورته والی لیدل کېدای سي.

تر دغه لیکدود وروسته نو زموږ مخي ته د خوشحال خان ختک لیکدود (ځنځیري لیکدود) راځي .داليکدود د خوشحال خان خپل ایجاد دئ. دده خپل آثار او دده د زامنو او لمسیو آثار په دغه لیکدود لیکل سوي دي او خپربښت یې تررو ښاني لیکدود ځکه زیات دئ، چي د خوشحال خاني غورځنګ ادبي ایجادات تررو ښاني غورځنګ زیات او پراخ دي. د خوشحال خاني لیکدود یوه وروستنۍ بېلګه، چي دده تر عصره بر وروسته دده د کورنۍ دیوه پرد بس غړي دوست محمد ختک په قلم را پاته ده، د بحرالعلوم (۳) خطي نسخه (د ۱۲۹۰ هـ ق کال خطاطي ) ده. په دې نسخه کي دوست محمد ختک خپل قبیلوي نوم (تخلص) په خوشحال خاني لیکدود لیکي او د ختک کلمې د (ټ) پر ځای (ط) کاروي او تر لاندي (ء) ورته ږدي .

د پښتو لیکدود د تاریخي سیر څېړونکي د پټې خزانې او د دغه عصر د لیکدود په باب هم ږغېږي. خو څرنګه چي د پټې خزانې دغه اوسنۍ نسخه په دیارلسمه هجري پېړۍ کي خطاطي سوې ده، ځکه نو دهغې له رویه د اصلي نسخې د لیکدود په باب تبصره کول ماته مشکله ښکاري.

خود هغو نسخو له مطالعې څخه چي د غه عصر ته نژدې یا تر هغه وروسته لیکل سوي دي، داسي ښکاري چي د خوشحال خاني لیکدود تر اغېزې لاندي چي لیکلي سوي نه وي.

خو دا خبره مو باید په ټینګه په پام کي نیولې وي چي له خطي نسخو څخه په یوه عصر کي د مروج لیکدود یا پخپله د لیکوال یا شاعر لخوا کارسوی لیکدود معلومول ډېره ګرانه خبره ده. ځکه خطاطان د نسخو په کاپي کولو کي خپله ځاني سلیقه او خپله لهجه هرومرو داخلوي (۴. (

په افغانستان کي د امیر شیرعلیخان ترزمانې پوري چي د پښتو کوم لیکدود په لږو ډېر بدلون سره رواج درلود، هغه لیکدود دئ چي په مشخصه توګه له احمد شاهي عصره راهیسي په پښتو لیکنو کي پالل کېدئ. دې لیکدود کومه معیاري بڼه نه درلوده او ترزیاتي اندازې پوري د هر لیکوال او شاعر په سلیقه او برداشت پوري تړلی و .

په شلمه پېړۍ کي چي افغانستان ته د تجدد او مدنیت پالني اغېزې د امیر حبیب الله خان (سراج

(c) ketabton.com: The Digital Library



الملت والدين ) په پاچهۍ کي د سراج الاخبار د خپروونو له لاري ورسېدلې ، نو پر ځنګ يې د پښتو نشراتو له پاره عيني زمينه برابره سوه .سراج الاخبار په لومړي سر کي په سنګي چاپ خپرېدئ او وروسته چي د عنايت مطبعه په کابل کي تاسيس سوه (۱۹۱۱ع) ، سراج الاخبار هم په حروفي تورو خپل نشرات پيل کړل. دا توري پارسي توري وه او پښتو مضامين او اشعار يې هم په همدې تورو خپرول.ځکه نو موږ د دغي دورې پر پښتو ليکدود باندي د سراج الاخبار د نشراتو پر بنسټ نه سو رڼا غېدلای. موږ ته معلومه ده چي په سراجي عصر کي د حبيبيې مدرسې له پاره د پښتو درې کتابونه د مولوي صالح محمد په قلم ليکل سوي دي. دا کتابونه اوس زما سره نسته خو پخوا مي ترنظر تېر کړي وه .په هغو کي لومړی پښتو کتاب ښاغلي عبدالکريم بريالي ( د پښتو ليکدود ) په نامه پخپل نوي چاپ سوي اثر ۱۰۵ مخ کي په لنډه توګه معرفي کړی دئ. ما ته د دغه کتاب په باب د ښاغلي بريالي له بيان او خپلو مشاهداتو څخه ځرګنده سوه چي د کتاب ليکدود له هغه رسم الخط سره ورته دئ، چي وروسته د اماني عصر په ( مرکه د پښتو ) کي هم منل سوی و او تاسي به يې په راتلونکو کرښو کي تفصيل ولولئ.

دا امير امان الله خان په روښانه دوره کي د پښتو ليکدود له پاره منظمه رسمي هڅه د هغي ټولني له خوا له سره را پيل سوه ، چي ٌمرکه د پښتو ٌنومېدله (۵ . (

مرکه د پښتو تر ۱۳۰۲ هـ ش کال د مخه منځ ته راغلې وه او لومړی رئيس يې مولوي عبدالواسع خان کاکړ او تر هغه وروسته يې دوهم رئيس عبدالرحمن خان لودين و. دې مرکې دوولس تنه غړي درلودل او د وخت په اساسي قانون ( نظامنامه د تشکيلات اساسی افغانستان ) کي يې په درجېدلو سره رسمي او قانوني بڼه موندلې وه. د دې مرکي وظايف د پښتو ژبې د قاعدو جوړول او د درسي کتابو ترجمه کول او نقلول وو(۶). د ښاغلي رفيع صاحب د څېړني له مخي ، دې مرکې چي د پښتو الفبې له پاره کوم ليکدود ټاکلی و ، له اوسني مروج ليکدود سره يې زيات توپير نه درلود .يوازنی توپيريې دا و ، چي د ( ځ ) رڼغ له پاره يې د(ح ) ګرافيم ته يو ټکی پرسربل په غبرګ کي ورکاوه. له هغو بېلګو څخه چي ښاغلي رفيع صاحب د(يوازينۍ پښتو ) له کتابه را اخيستي دي ، ښکاري چي مرکې د کندهارۍ لهجې ځانګړتياوي منلي وې.چي تفصيل به يې تاسي په راتلونکو پاڼو کي ولولئ.

د ليکدود کوم اصول چي (مرکه د پښتو ) ټاکلي وه ، په طلوع افغان اخبار کي هم په لږ ډېر توپير سره تعقيبېدل. خو بل چاپي د پاللو هڅه نه کوله او تر ډېري اندازې د کاغذ پر مخ پاته سوي دي.(۷ (

مرکه د پښتو د اماني دورې له ختمېدو سره پای ته ورسېده. کله چي په هيواد کي تر سقوي انارشۍ وروسته دولتي نظم د اعليحضرت محمد نادرخان او د هغه د غښتلو وروڼو په موټه ټينګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو ،ورسره سم یې په کابل کې د(انجمن ادبی ) ترجوړېدو(۱۳۱۰ش )یوکال وروسته په کندهارکې د پښتوانجمن خښته کښېښوول سوه.
د پښتوادبي انجمن د۱۳۱۱ش کال دلیندۍ په نهمه نېټه د کندهار ولایت په عامه سلامخانه کې دوزیرمحمدګل خان مومندپه وینا پرانیستل سو. نوموړي په خپله پرانیستونکې وینا کې دانجمن دندې داسې بیان کړې:
۱ـ انتشارد یوه مجله علمی اوادبی او اجتماعی اوتاریخي چی د پښتانه د شانه سره ښایی اومناسب ددغه کام اوژبی یی .
۲ـ جمع اوتدوین دلغات متفرقه د پښتو په هرکام اوهرکلی کی د پښتنو چی هرچیری وی اودفع اوورکول دمفهوم داختلاف دلغات چی بلااندیشه دکوم مصیبت څه په میانځ کی وی یا پیدا شی.
۳ـ جمع کول اوټولول دادبی کتابونود پښتو ،چی مطبوع یاغیر مطبوع وی اوتشویق دتصنیف اوتالیف دداسی آثارادبیه.
۴ـ ترجمه ددرسی کتابونوچی په موجب د پروګرام رسمی دوزارت معارف دافغانستان په مدرسواومکتبوکی ویل کیږی.
۵ـ ترجمه اوتالیف دنورمفید علمی اوفنی اوتاریخی اوغیره کتابونه عصری دهری ژبی چی وی په شرط ددی چی خلاف دعقاید اسلامی دمسلمان ملت د پښتون اومخالف د سیاست دحکومت مستقله دافغانستان نه وی.
۶ـ تاسیس دیو (ملی کتب خانه د پښتو ) اوهم ضمناً دهغه کتابو نو چی د پاسنی مطالبود پاره مفیدوی.
۷ـ په ذریعه دنشرد(( مجله ادبی )) جلب توجه دتمام ملت ودی خواته اوحاصلول دنیک بینی په نسبت د((پښتو ))"(۸ ).
دانجمن په دندوکې دلیکدودپه باب مشخصه یادونه نه ده سوې خو دانجمن له نشراتو څخه څوک معلومولای سي چي دلیکدود یوه ټاکلې لارېې تعقیبوله اوښاغلی بریالی وایي چې"... دلیک په اندازکښی لړبدلون راوستلئ ...."(۹ ). ښاغلي رفیع په ژبپالنه کې دانجمن د تشکیلاتو اونشراتوپه باب ښه پوره څېړنه کړې ده خود لیکدودپه باب یې څه نه دي ویلي .
دکندهاردپښتوادبي انجمن په ۱۳۱۲ ش کال دکابل له ادبي انجمن سره یوځای سواوددواړوله ترکیبه څخه پښتوټولنه منځ ته راغله.
پښتوټولنه د۱۳۱۶ ش کال دثورپه لومړۍ نېټه تاسیس سوه. دې ټولنې خپل کاراووظایف ترخپلو مخکنیوانجمنونو منظم اوپراخ کړل اوهغه په دې ډول وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ دافغانستان د تاريخ تدوين او دافغانستان په تاريخي څرنګوالي له هره پلوه پوره ،پوره رڼا اچول .
۲ـ ژبې او ادب ته تحول او ترقي ورکول ، ملي آثار(فولکلور ) دوطن له هره ګوټه راټولول او نشرول.
۳ـ د يوې عصري او عملي ژبې په حيث د پښتوژبې دراژوندي کولو او تدوينولو کار.
۴ـ د کابل مجلې او کالنۍ او نورو وطني جرائدو په واسطه ادب او ژبې ته ترقي ورکول او جهان ته په
يو ابرومند صورت دافغانستان معرفي کول. (۱۰ (
په ۱۳۳۳ ش کال د پښتوټولني په اهدافو او وظايفو کي يو ژور بدلون راغی او دنويو وظايفو په لړکي
يې ٌ د پښتوژبې دلغاتو او قواعدو تدوين ، دضرورت له مخې دنويو اصلاحاتو او لغاتو وضع کول ،
ادبي اولغوي څېړني او د پښتو په لساني علومو پورې مربوط آثارليکل او خپرول ٌ شامل سول.(۱۱ (
پښتوټولنه دهماغه پيل څخه دليکدود ديو کولو په لټه کي وه خو ددغه هدف دترسره کېدو له پاره
يې لومړنۍ منظمه هڅه ترخپل تاسيس پنځه کاله وروسته د۱۳۲۱ ش د جوزا په مياشت (
۲۱مې۱۹۴۲ع ) د يوې غونډي په ترڅ کي چي دهيواد ۲۵ تنه پوهان اوليکوال پکښې راغونډ سوي
وه ، پريوويشتو اختلافي موادو باندي تربحث وروسته فيصله وکړه . تردې فيصلې شپږ کاله
وروسته يې بيا د ۱۳۲۷ ش کال دسنبلې په اتمه ( ۳۰ اګست ۱۹۴۸ع ) دافغانستان اولرو پښتنو يوې
۱۹کسيزې ډلې غونډه وکړه او په هغه کي يې پريولړ اختلافي موادو فيصله وکړه .دريمه فيصله
د ۱۳۳۷ ش کال دسنبلې په ۲۵ مه ( ۲۷ اګست ۱۹۵۸ع ) دافغانستان ، پېښور
او پښتنو ليکوالو او پوهانو په ګډون غونډه وکړه او دلومړۍ فيصلې پرڅلورو موادو يې له سره
بيا غور وکړ او دنورو ۷۳ موادو پرسريې موافقه سره وکړه .
په دې فيصلو کي د پښتو الفبې پرسرله ( ڼ ـ نړ ) پرته نور اختلاف نسته او هغه هم په ټولو فيصلو کي
(ڼ) ټاکل سوی دئ. په لومړۍ فيصله کي په ( لاړ ـ ولاړ ) کي د(ولاړ ) شکل فيصله سوی دئ او په
دوهمه کي دواړه صورتونه منل سوي دي. په لومړۍ فيصله کي په ( لځ ـ لوځ ) کي (لځ) فيصله
سوی دئ خو په دريمه فيصله کي بيرته په ( لوځ ) باندي تعديل سوی دئ. په لومړۍ کي په (مونږ ـ
موږ ) کي (مونږ) فيصله سوی و ، خو په دريمه کي دواړه منل سوي دي. دغه راز په ټولو فيصلو کي (
ږغ ـ غږ) دواړه شکله منل سوي دي. په لومړۍ فيصله کي د اروانښاد الفت دکتاب په حواله د( شو ،
شي ، شته ، ... ) اشکال منل سوي دي خود ښاغلي بريالي دکتاب په ۱۱۲ مخ کي ورته کښل سوي
دي ( دواړه صحيح دي ) خو ددوهمي فيصلې په برخه کي يې دغه اختلاف ته (دواړه ) قيد نه دئ
وراچولئ ( ۱۱۵مخ ) . زمالاس اوس اصلي فيصلې ته نه رسېږي چي ددغه اختلافي روايت حقيقت
ځان ته معلوم کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې فیصلو ټول اختلافي مواد راوړل دلته لازم نه دي او لوستونکي يې د اروابناد ګل پاچا الفت په (لیکوالی ، املاء او انشاء ) نومي اثر کي او دغه راز دښاغلي عبدالکریم بریالي (د پښتو لیکدود ) په نامه کتاب کي لوستلای سي. لکه وړاندي چي مي مثالونه راوړل ،په دغو دوو کتابو کي راغلي فیصلې یوله بله توپیر سره لري .

دلیکدود په برخه کي ددې فیصلو تطبیقي اړخ په افغانستان کي تر یوې اندازې عملي سو ځکه چي یو راز مرکزي دولتي ملاتړ ورسره موجود و. خو تر کومه ځایه چي ما ته معلومات سته په لرو پښتنو کي د آزادو مطبعوسته والي د دغو فیصلو په تطبیق کي خنډونه اچول او عملي اړخ يې نن لا هم کمزوری ښکاره سوی دئ .

زموږ معاصر ژبپوه دوکتور زیار صاحب دغو فیصلو ته د اهمیت په ستر ګه نه ګوري او وايي چي ٌ پخوا به په پښتو ټولنه یا پښتو مرکه کي داسي کار کېده چي لاس به پورته کېده ، که به د کندهاریانو لاسونه زیات شوه د کندهاریانو پښتو به شوه ، که به د ننګرهاریانو د ازیات وو ، د هغو به شوه . خو موږ دا کار پرېښوده... زموږ له پښتو ټولني او بیا ستر انسان محمد ګل خان سره دا تو پیرو چي هغوی لومړی غوښتل چي د لاس په پورته کولو او ریفرنډم له لاري یو ستنډرډ لیکنی فورم پیدا کړي او په تېره بیا وزیر محمد ګل خان د خلکو په خولو کي ژبه ورسموله ، دا امکان نه لري ....ٌ (۱۲ )

په افغانستان کي د کره پښتو ژبي دغور ځنګ تر منځ ته راتګ وروسته د پښتو ټولني په فیصلو کي لاسونه وو هل سول او د ( شو ، سو ، ... ) فیصلې خوېې د پښتو ستورو له خوا لا هم ماتي سوې. او دا کار ددې حقیقت ښکارندويي کوي چي د فیصلو پر وخت د رایو اتفاق نه و او د پو هاند زیار صاحب خبره پر ځای ده.

د پښتو لیکدود په باب وروستۍ فیصله دباړه ګلۍ د سیمینار فیصله ده. دا سیمینار په۱۹۹۲ع کال په باړه ګلۍ کي د پښتو نخوا او افغانستان د مهاجرو لیکوالو په ګډون جوړ سو. د سیمینار د منځ ته راتګ زمینه د هغو ټولنیزو او کلتوري اړیکو له امله برابره سوه چي په افغانستان کي د ثور د بخولي(فاجعې ) له خاطره پاکستان ته د افغانانو د ډله ییز مهاجرت وروسته دلرو او برو پښتنو تر منځ ټینګې سوې وې. په دې سیمینار کي د تېرو فیصلو ځیني مواد تعدیل سول او د ښاغلي رفیع صاحب د خولې خبره ده چي په مجموع کي هغه لیکدود تر ډېرې اندازې ومنل سو چي په افغانستان کي پالل کېدئ. داسي ښکاري چي د سیمینار له نتایجو سره ځینو پو هانو ،چي په سیمینار کي یې برخه نه وه اخیستې، په ځینو برخو کي موافقه نه درلوده. د پېښور نامتو لیکوال اروابناد قلندر مومند خوله لومړي سره د سیمینار پر ضد و. ځکه ده خپل ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی لیکدود را ایستلی و او کتابونه یې ( پټه خزانه فی المیزان او خیر البیان او نور ) هم په خپاره کړي وه. پوهاند دوکتور زیار صاحب دباره ګلیـ فیصلو ته انتقادي نظر لري او لیکي چې په دې سیمینار کې ځیني منلي او عامي سوي سموني بیرته باطلي سوي دي. لکهٌ عربي ټول پوروییونه په اره بڼه لیکل لکه قمیص، طمع، شمط ..نیم کانسونینټي (معدوله) و او نه لیکل لکه په خله(خوله) ، ګټ(ګوټ) ... کې ، همدارنګه د پښتو اوږده یا مجهول (و ) پرځای له پېښ (ضمې) او اوږدې یا مجهولې (ې) پرځای له زېر(کسرې) کار اخیستل لکه په ګمان
(ګومان)، رمان(رومان) او ګله(ګېله یا ګیله)، ډموکراسي (ډېموکراسي) او له دې ټولو سره تر (ک) ، (ګ) غوره ګڼل چې یو بې سر و بوله کاردی ، ځکه دا خو کوم غبرګژبیز سېمبول نه دی چې کړیـ ور واچول شي او خوشې یو توری پر پښتو ابېځې(الفباء) ورسرباری شي چې هم تخنیکي ستونزه(ټایپ، کمپوز او پرینټ په اړه) را منځته کوي او هم اقتصادي او مهالي هغه.ٌ (۱۳)
دې سیمینار ته د زیار صاحبٌ ۱۲۲ معیاري آرونهٌ وړاندې سوي وه خو ونه منل سول چې دوکتور زیار له دې بابته خپل ناراضیتوب ښوولی دئ. (۱۴)
ډاکټر پالوال دباره ګلیـ له دې فیصلې سره موافقه نه لري چې وایي په پښتو کې (مد) نسته. د پالوال صاحب په عقیده پښتو مد لري او ده دهمدې موضوع او یو لړ نورو خبرو په باب خپل دلایل په تفصیل سره پخپل نوي کتاب ( معیاري پښتوـ ۹۷ مخ ) کې راوړي دي.
ښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل په دې برخه کې مصلحت آمېزه نظر ورکوي او لیکي:ٌ ... کومې فیصلې چې د دې سیمینار په نتایجو مرتبې شوې د تطبیق ساحه یې د پخوانیو فیصلو په پرتله ژوره او پراخه وه ، خو زه ورسره دا خبره زیاتول غواړم، چې دا فیصلې ځیني تخنیکي مشکلات لري ، د دې لپاره چې د تطبیق ساحه نوره هم پراخه شي د افغان، پښتونخوا (سرحد) او جنوبي پښتونخوا (بلوچستان) د متخصصو ژبپوهانو یوه ډله بیا پرې غور وکړي ، هغه مشکلات او تخنیکي ګرانیـ چې پکې شته ، هغه پکې رفع کړي او بیا یې د تطبیق ساحې ته وړاندې کړي وروسته تر دې باید د پښتنو د بېلوبېلو سیمو او ثقافتي حوزو رسم الخطونه سره یو وي.ٌ (۱۵)
ښاغلي هیوادمل دا تخنیکي ګرانیـ ښوولي نه دي چې کومې دي خود بیان له سیاقه یې ښکاري چې له فیصلو سره یې بشپړتوافق نسته.
د پښتو لیکدود په باب ځیني شخصي او انفرادي هڅې هم سوي دي لکه د شهید خان عبدالصمد خان لیکدو ، د وزیر محمد ګل خان لیکدود ، د قلندر مومند لیکدود او نور. خو د دې ټولو لیکدودو زني دهغوی د مخترعینو تروفات وروسته ورتړلي سوي دي.
د لیکدود په ټاکلو کې زه دا سي نظر لرم چې موږ باید د پښتو ږغونو (فونیمونو) له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیمبولونو پر ټاکلو فیصلې وکړو ، نه د تلفظونو په باب. د مثال په توګه پر دې خبره باید توافق وسي چې اوږده یا مجهوله (ې) څه رازولیکل سي. په دې بر خه فیصله سوې ده چې دوه ټکي دي سرپرسرورکړه سي. بس همدا فیصله ده. اوس که دژبې ویونکي په هرلغت کي دا وږدې (ې) اړتیا احساس کړي ، همدغه شکل به ورته راوړي. موږ که په لیکدوکي دا خبره فیصله کووچي اوږده(ې) دي په پلانۍ کلمه کي استعمال سي ، دادلیکدود سمونه نه ده ، بلکي دتلفظ اصلاح کول دي. دتلفظ اصلاح کول په فیصله نسي ترسره کېدلای بلکي دهغه له پاره یوا وږد تدریجي بهېر او مشخص ژبني او تاریخي شرایط برابرېدل لازم دئ. دلیکدود پرسرد اختلاف اساسي ستونزه همدغه مسئله ده اوزموږد ژبې متخصصین ورته دېره پاملرنه نه کوي. د پښتوټولني په فیصله کي ویل سوي وه چي شو ، شم ، شي به لیکو ـ بخښل ، کښېښستل به لیکو ـ چې ، کې ، مې به لیکو ـ وږغ ، غږ به لیکو ، نورنو دهرچا خوښه چي هرراز يې تلفظ کوي. سو ، سم ، سي يې تلفظ کوي او که بخل او کېنستل او که چي ، کي ، مي. د دې عجیبې فیصلې له مخي نوګویاد(ش) ګرافیم د(س) او ازهم ورکولای سي،(ښ) چي په کوموتوروکي راغلی دئ ، دانګرېزي په شان ګونګ (silent) کېدلای هم سي او مجهوله (ې) دمعروفي(ي) کارهم ورکولای سي. د (ښ) او (ږ) په برخه کي دا خبره پرځای ده چي لیکلی ګرافیم باید په همدې شکل وي خو په وینګ کي دي هره لهجه خپل دا په پام ونیسي ، ځکه دا دعین ګرافیم او فونیم بېلا بېل تلفظونه دي. مګر د(سو) او(شو) په باب دا حکم چي (شو) به يې لیکو ، نوردهرچا خوښه چي څه رازيې تلفظ کوي ، یوه بې بنیاده خبره ده. ځکه (س) او(ش) دوه جلا ږغونه اودوه سره بېل ګرافیمونه دي او پښتانه ددواړو په لیکنه اولوستنه کي هیڅ رازمشکل نه لري. دا به یوه ژبنۍ مضحکه وي چي (ش) به لیکو ، که يې ځوک (س) تلفظ کوي ، پروانه لري. که دادیوې قاعدې په توګه ومنل سي نوآیا په نوروشین لرونکولغاتوکي به هم دا جراوړوي که یا؟له بلي خوا چي لهجوته دتلفظ حق ورکول کېږي اود(س) او(ش) په تلفظ کي دوی خپل اختیارلري ، نو په لیکلوکي ولي دا حق نه ورکول کېږي. که دتلفظ له پاره ددغه شان حکم په برخه کي ژبنی جواز موجود وي ، نوولي يې په لیکلوکي دغه رازجوازنسته. داکارکه ځوک دنه پوهېدني له مخي کوي یا يې یودبل له مراعته کوي ،په دواړوصورتوکي زما په نظردژبپوهني په اصولوکي یوناوړه بدعت دئ. د دې پرځای يې معقوله فیصله داده چي دکېنستل اوکښېناستل دواړه شکله دي ومنل سي ، چي ـ مي ـ کي که چا په مجهوله (ې) تلفظ کول ،همدا سي دي ولیکل سي اوکه يې په معروفه تلفظ کاوه د(چي ، مي ، کي ) په شکل دي ولیکل سي. په دې صورت کي به نود الفبې یوه ګرافیم ته دتلفظ دوه بارونه ورپه شاسوي نه وي. په انګرېزي ژبه کي د همدې ضرورت له خاطره دئ چي colourاو color ـ labour او laborدواړه شکلونه هم په ورځنیو لیکنوکي کارېږي اوهم يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیکشنریو کي ثبت کړي دي. ما له همدې اسیته دانګرېزي ژبي د اکسفورډ کوچنۍ ډیکشنرۍ ( ۱۹۹۸ع کال چاپ) لومړي څلور ردیفونه سرسري وکتل او یوزیات شمېر توپیري ثبتونه مي پکښې وموندل. که مي ټول ردیفونه کتلي وای ، د توپیري لغاتو شمېر ترسو وهرومرو اوښتئ. دا توپیري لغتونه مي داسي سره طبقه بندي کړل:

هغه لغتونه چي بریتانوي او امریکایي لیکنه یې توپیر سره لري:

| | |
|---|---|
| Arbour | Arbor (US) |
| Ardour | Ardor (US) |
| Armour | Armor (US) |
| Axe | Ax (US) |
| Behaviour | Behavior (US) |
| Cesarean | Caesarean(US) |
| Caesium | Cesium (US) |
| Calk | Caulk (US) |
| Cancell | Cancel (US) |
| Catalogue | Catalog (US) |
| Caecum | Cecum (US) |
| Coenobite | Cenobite (US) |
| Centre | Center (US) |
| Centreboard | Centerboard (US) |
| Centrefold | Centerfold (US) |
| Clamour | Clamor (US) |
| Colour | Color (US) |
| Coulter | Colter (US) |
| Cosy | Cozy (US) |
| Defence | Defense (US) |
| Disfavour | Disfavor (US) |
| Dishonour | Dishonor (US) |
| Distil | Distill (US) |
| Dolour | Dolor (US) |
| Draughty | Drafty (US) |

هغه لغاتونه چي (Z) یې په (S) باندي اوښتی وي.

| | |
|---|---|
| Apologize | Apologise |
| Atomize | Atomise |
| Authorize | Authorise |
| Baptize | Baptise |
| Bastradize | Bastradise |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| Canalize | Canalise |
| Capsulize | Capsulise |
| Centralize | Centralise |
| Characterize | Characterise |
| Civilize | Civilise |
| Collectivize | Collectivise |
| Commercialize | Commercialise |
| Computerize | Computerise |
| Criticize | Criticise |
| Customize | Customise |

## د همدې ثلورو ردیفونو ربېلابېل توپیري لغاتونه

| | |
|---|---|
| Artifact | Artefact |
| Bail | Bale |
| Barracouta | Barracuda |
| Blether | Blather |
| Bogeyman | Bogyman |
| Bogey | Bogy |
| Bond | Band |
| Botch | Bodge |
| Boult | Bolt |
| Brag | Bragg |
| Burk | Berk |
| Caddy | Caddie |
| Calix | Calyk |
| Carvel | Caravel |
| Castor | Caster |
| Combe | Comb |
| Coney | Cony |
| Dean | Dene |
| Dike | Dyke |
| Dispatch | Despatch |
| Doyley | Doily |
| Dryer | Drier |
| Dryly | Drily |

هیث انګرېزي ژبی له دې توپیري لغاتو ثخه هیث یوه ته غلط یا معیاري نه وایي. د دواړو ډولونو ثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کارول یې په ټوله معنا اختیاري دي .
موږ که د دوکتور زیار صاحب خبره ٌ ژبه د خلکو په خولو کي وراصلاح کوو ٌ، نو په دې هم باید سر خلاص کړو ، چي دا بار مزله ته نه رسېږي. عملي او معقول حل یې هغسي دئ ، لکه ما چي بیان کړ. په دې صورت کي به له لهجوي اصطکاکو نو څخه هم خلاص سوي یو او په بېځایه ناندرو به مو وخت هم نه وي ضایع سوی .
لهجوي تلفظونه د هغو خپلو ویونکو ته پرېږدئ. که یې د تغیر اړتیا او شرایط برابر سول ،هرومرو بدلون پکښې راځي. زما د خپلي مشاهدې له مخي د بړش کاله وړاندي ماله خپلو پکتیاوالو ټولګیوالو څخه د پوهنتون په لیلیه کي د خور، مور کلمات د خېر، مېر په شکل اوریدل. اوس یې هغوی په خپلو منځو کي لاهم نه سره وایي. د تلفظ دا سمېده د پښتو ټولني د فیصلو معجزه نه ده بلکي د هغو اجتماعي اغېزو نتیجه ده چي زما پر د غو ټولګیوالو باندي د نورو لهجو له پښتنو سره د ګډ ژوند له لاري پر بوتلي وې.
د کندهار په پارسیبانانو کي زما د وړ کتوب پروخت په (غ) باندي د(ق) بدلېدل په ټوله معنا عامه خبره وه. خو اوس دا تلفظ ترزیاتي اندازې پوري په تېره بیا په نوي تعلیم یافته نسل کي له منځه تللی دئ. نه کومه فیصله ترمنځ سوې ده او نه تلفظ په فیصلو باندي بدلون مومي.

)۱ (خیر البیان د کابل چاپ ـ سریزه ـ ۲۲ مخ
)۲ (هماغه اثر ، هماغه مخ
)۳ (بحرالعلوم د دیني عقایدو ، فرایضو ،نصیحتونو ، حکمتونو او اخلاقي ، تاریخي او عرفاني کیسو یوه منظومه مجموعه ده چي زیات وکم شل زره بیته کېږي. د دې کتاب یوازنۍ نسخه د مولف پخپل لیک د کابل په ملي آرشیف کي خوندي ده. لومړۍ برخه ،لس زره بیته یې د دې قلم چلوونکي له سریزې او حاشیو سره په ۱۳۷۳ هـ ش کي برابره کړې او په ۱۳۸۳هـ ش (۲۰۰۴ع ) کي چاپ سوې ده. په دغه کتاب کي دوست محمد خټک د خان د پېژندلو په باب وایي چي د محمد اکرم زوی ، د کرم خان لمسی او د زمان خان کړوسی دئ. په پښتانه شعراء دوهم ټوک کي یې زمان خان د زرنام خان زوی د پاینده محمد خان لمسی د عبدالقادر خان خټک کړوسی او د خوشحال خان کوسی بللی دئ. دوکتور عارف عثمانوف په خپل کتاب ٌ خوشحال خان خټک او دده ادبي مکتب ـ ۱۸۱مخ ٌ کي د مرحوم بینوا د پښتونستان نومي کتاب د ۴۱۵ مخ په حواله ، زرنام خان د عبدالقادر خان زوی بللی دئ .
)۴ (د دې کار مثالونه دا ن د پاسه دي او حتی نن ورځ چي د متن برابرولو اصول ټاکل سوي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ژبو کي خپاره سوي هم دي ، د متونو برابرونکي د شاعر په لهجه کي لاس وهي او په اصطلاح معیاري کوي یې. د(په) پرځای (پر) په نښاسي او برعکس یې لاهم. د عبدالقادرخان ختټک دېوان په کندهاری لهجه او د احمد شاه بابا ، میرزا حنان بارکزي ، شمس الدین کاکړ او... دېوانونه په یوسفزی لهجه خپروي .

)۵ (زموږ لیکوال دانوم د پښتو مرکه کاږي چي سمه بڼه یې هم داده. خو موږ ته په کارده چي د ځایو ، ټولنو او مرکزو په نومو کي لاس ونه وهو او د چا خبره معیاري یې نه کړو. دا کارمو بیا بل وخت د نوموړي عصر د پښتو ژبي په ګرامري څېړنه کي خطاباسي. ډاکټرپالوال په (خوشال خان) باندي د خوشحال خان خټک د نامه بدلول هم د شاعر په نامه کي لاسوهنه بولي او کړي یې.(وګ: معیاري پښتو ـ ۴۳۲مخ(

)۶ (رفیع ، حبیب الله ، ژبپالنه ـ ۸۴ مخ ، ۱۳۶۱ش ، کابل

)۷ (په ؓ رویدادلویه جرګهٔ دارالسلطنهٔ کابل ۱۳۰۳ؓ چي د پښتو ویناوو کومه برخه خپره سوې ده ، په هغې کي د مرکې لیکدود کورټ په پام کي نه دئ نیول سوی.

)۸ (ژبپالنه ـ ۹۳ مخ د پښتو مجلې لومړي کال د۱۸، ۱۹ مخونو په حواله

)۹ (د پښتو لیکدود ۱۰۴مخ

)۱۰ (ویښ ـ راز محمد ـ پښتو کتابونه ـ ۴ مخ ـ پښتو ټولنه ـ ۱۳۳۷ ش

)۱۱ (پښتو کتابونه ۱۲مخ

)۱۲ (ښکلا مجله ـ څلورم کال ، دریمه ګڼه ، ۵۰مخ .

)۱۳ (د پښتو ژبي دودي اړتیا او لاري چارې ـ ۸۴مخ

)۱۴ (ده د سیمینار افغان برخه والو ته په انک(طعنه) سره د (لاسکتوي ) لقبونه ورکړي دي او ځیني نور پیښوري برخه وال یې د( شیخ العلماء ) په لقب ټکولي دي ( وګ: پښتو ـ پښتانه.... ، ۳۱۰ ـ ۳۱۱مخونه (

)۱۵ (تیر ماخذ ۲۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معیار ــ د ژبې د معیاري کولو اړتیا او اړتیا

څرنګه چي موږ پخپله ژبه کي د معیار تیا کلوله پاره په لیري زمانو کي کومه تاریخي او مسلسله عنعنه نه لرو نو مجبور یو چي د نورو ژبو د معیار تیا کلو جریان د خپلي ژبې د معیاري کولوله پاره دلارښود په توګه لومړی زده کړو او بیا یې کوزده کړو.

ماته اوس سمدلاسه د دې امکانات سته چي د انګرېزي ژبې د معیاریت پر هڅو باندي څېړنه وکړم او بیا د دغو هڅو په رڼا کي د پښتو ژبې د معیاري کولو پر مسئله باندي وږغېږم. د دې څېړني په ترځ کي به پخپله د معیار (Standard) مقوله هم لږ وډېر تشریح سي.

په اروپایي ژبو کي د معیار (standard) مفهوم په بېلا بېلو معناوو سره ثبت سوئ دئ چي په هغو کي یې لږترلږه دوې اساسي معناوي تر نورو ډېري څرګندي دي. لومړی یې د نظامي سمبول مفهوم دئ چي په هغه کي بیرغ، مجسمه ډوله تصویرونه او نور راتلای سي. دغه سمبولونه د جګولکړو پرسرد ودانیو یا نورو ځایو پر سر ځوړندوي او دیوه معتبر مرکزي ځای د ښوولو وظیفه سرته رسوي. دغه ځایونه د فوجیانو د غونډ یدو مرکزونه څرګندوي لکه د پاچا دودانۍ، د غټو اشرافو یا آمرینو د ودانۍ نښانونه. د معیار یا سټنډرډ په دغه راز استعمال کي د عمومیت، یووالي اولږترلږه دیوراز متحد الشکل والي ژور مفهوم نغښتی دئ.

د معیار دوهمه معنا اله لومړۍ څخه بېله ده. په دې معنا کي معیار دیوې اندازې یا وزن یوه نمونه راښیي. د مثال په توګه د اوږدوالي د اندازه کولو فلزي میله (نیم ګزی)، د ظرفیت د معلومولو لوښی، د وزن د ښوولو او سپنیزه کتله (کانی) او نور.

یو بل معیار هم سته چي د اصل (original) په معنا د نقل (copy) په مقابل کي کارېږي. کاپي په ورځنیو چارو کي د یوه واحد د قانوني څرګندوني په توګه کارور کولای سي خو اصل ته باید وروستۍ او نهایي مراجعه وسي. په مثال کي یې د لیک اصل، د کتاب اصل، د فرمان اصل او نور راوړلای سو.

په دې ټولو معیارو کي د اعتبار authoritative، عمومیت commonality ، یووالي unity او متحد الشکل والي uniformity مهم مفاهیم په ګډه پراته دي.

په راتلونکو پاڼو کي به ولولو چي دغه مفاهیم څرنګه د "معیاري ژبې" په اصطلاح کي په کار اچول سوي دي او په دې ترځ کي به وو وینو چي انګرېزي لیکوالو څرنګه د "معیار" اصطلاح له اوولسمي او اتلسمي پېړۍ څخه کار کړی ده او هم به د دغه راز هغه هڅي و څېړو چي په دې اړه د نونسمي او شلمي پېړۍ په ژبنیو انکشافاتو کي سرته رسېدلي دي. خبره به وارد واره پخپله له "معیاري ژبې" راونښلو چي څه ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معیاري ژبه څه ته وایي ؟

معیاري ژبه هغه منلې سوې ژبه ده چې د یوه ژبني قلمرو په هره جغرافیایي سیمه کي د پوهېدلو وړ وي. معیاري ژبه د ادبیاتو او میډیا ژبه وي او د ا د یوې ژبې هغه ځانګړې نوعه (variety) ده چې قانوني یا یو څه قانوني دریځ ورکړه سوی وي. ویل کېږي چې دا د یوې ژبې صحیح ترینه لهجه (dialect) ده. معیاري ژبه زیاتره (هر وخت نه ) د یوه هیواد د پایتخت پر ژبه تکیه لري.
د ژبې د غه شکل په ځانګړې توګه هغو زده کوونکو ته ورزده کېږي چې غواړي د غه ژبه زده کړي او د همدې ژبې ټول لیکلي متون هماغه د معیار په نامه منل سوې املا او ګرامري نورمونه پالي .
ځیني په لاندي ډول سوي منلي سوي ځانګړتیاوي چې یوه معیاري ژبه په تشخیص کېږي ، دادي:
ــ یو منل سوی قاموس یا قاموسونه چې ټول معیاري سوي لغاتونه او د هغو املاء پکښې درج وي ؛
ــ یو منل سوی ګرامر چې د ژبې ټول شکلونه ، قاعدې او جوړښتونه پکښې ثبت سوي وي او هم دا خبره پکښې څرګنده سوې وي ، چې کوم شکلونه باید استعمال سي او کوم باید نه سي ؛
ــ د تلفظ یو معیاري او منل سوی سیستم چې ویونکي ورته د یوه علمي او مناسب تلفظ په ستر ګه وګوري او د غه راز له سیمه ییزو اغېزو څخه پاک وي ؛

ــ یوه موسسه(institution) چې د دغي ژبې د استعمال چاري پرمخ بیایي او د هغې د استعمال د نورمونو په باکلو کي واک (authority) ورکړه سوی وي. لکه د فرانسې اکیډیمي Academie francaiseیا رویال سپېنیش اکیډیمي Royal Spanish Academy چې صلاحیت لرونکي موسسې دي ؛
ــ د یوه داسي منشور یا قانون سته والی چې دغي ژبې ته د هیواد په قانوني سیستم کي رسمي قانوني ځای ورکړي ؛
ــ په عامه ژوند کي ( په محاکمو او مقننه موسسو کي ) د دغي ژبې کارول ؛
ــ د ادبیاتو یو مرکز درلودل ؛
ــ په همدې ژبه باندي د مهمو مقدسو کتابو ژباړل چې د ویونکو له نظره سپېڅلي او معتبر وي ؛
ــ په ښوونځیو کي د ژبې د معیاري ګرامر او املاء تدریسول ؛
ــ بهرنیو زده کوونکو ته د تدریس له پاره د ژبې د غه ځانګړې بڼه یا لهجه ټاکل.(۱ (

د معیاري ژبې منځ ته راتلل د بېلا بېلو ژبنیو تجویزونو د بریالیتوب نمایندګي کوي. د هغې ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معنا لري، چې د هغو سيمو ژبه نورله ارزښته لوېدلې يا غورځول سوې ده، چې له دغه معيار سره تو پير لري. د دې خبرې بيا معنا دا ده چې په ځينو هيوادو کې د معياري ژبې ټاکنه يوه ټولنيزه او سياسي مسئله ده .

د مثال په توګه په ناروې کې دوې موازي معياري ژبې سته. يوه يې Bokmal نوميږي چې تر يوې اندازې پوري د ډنمارکۍ سابقې پر هغه سيمه ييز تلفظ باندي ولاړه ده چې پر ناروې باندي د ډنمارک دواکمنۍ پر وخت رواج و ، او بله يې Nynrosk نوميږي چې دا بيا د لويديځې ناروې د لهجو له ترکيبه جوړه سوې ده. خو ايټالويان چې حتى تر ناروېژيانو زياتې يو له بله مختلفې لهجې لري ، بيا هم يوه معياري ايټالوي لري. عجيبه لا دا ده چې د ايټالويانو معياري ژبه د روم پر لهجه باندي تکيه نه لري ، بلکې د فلورانس پر لهجه ولاړه ده. په اسپانيا کې هم معياري اسپانوي د ماډريډ پر ګړدود باندي نه، بلکې د ډېر ليري شمالي ولايت Valladolid پروينا ولاړه ده. په ارجنټاين او يوروګواى کې بيا معياري اسپانوي د دغو هيوادو د پايتختو يعنې د بونيس آيريس او مونټيويډو د لهجو پر بنسټ تدوين سوې ده.

معياري جرمني بيا د يوه ټاکلي ښار يا سيمې پر اساس منځ ته نه ده راغلې بلکې د ځو سوو کلونو په اوږدو کې يې انکشاف کړى دئ. د دغو ځو سوو کلونو په اوږدو کې ليکوالو هڅه کوله ، دا سې رازليکنه وکړي چې په يوه پراخه ساحه کې د پوهېدلو وړ وي. د ۱۸۰۰ ع کال تر شاوخوا پوري معياري جرمني يوازې په ليک کې موجوده وه. په دغه وخت کې د شمالي جرمني او سېدونکو ته، چې د معياري جرمني ژبې پر خلاف يې د ټيټې جرمنۍ ژبې لهجې ويلې ، معياري ژبه لکه يوه بهرنۍ ژبه داسې ايسېدله او د خارجي ژبې په شان يې زده کوله. وروسته شمالي تلفظ د معيار په توګه ومنل سو او په جنوب کې يې هم خپور و کيښن. وروسته د Hanover (۲ په شان سيمو کې سيمه ييزه لهجه يو مخيزه مړه سوه .

په معياري فينلينډي ژبه کې د لغاتو اساسي جوړښتونه زياتره د لويديځې فينلينډۍ لهجې پر بنسټ جوړ سوي دي.

په يوناني ټولنه کې تر اوسه لا هم دو يلو يوه معياري ژبه نه ده را منځ ته سوې ځکه په يونان کې هره کميونيټي خپل ځان پر نورو ګاونډيو ټولنو باندي د لرغونتوب ، وقار، ذکاوت او نورو ور ټياوو له مخې لوړه ګڼي. دوى تل د قدرت ، ثروت او نفوذ پر ګډۍ يو له بله سيالۍ کوي او دې ته حاضر سوي نه دي چې د حکومت تر قانون په ها خوا دي د ژبې قوانين هم ولري. (۳ (

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنوبي اسيا کي د هندوستانۍ ژبې دوو معياري لهجوته رسمي بڼه ورکړه سوې ده چي هغه دوې لهجې هندي ، د هندوستان رسمي ملي ژبه ، او اردو ، د پاکستان رسمي ملي ژبه او د هندوستان رسمي محلي ژبه ده. په نتيجه کي له هندوستاني ژبې څخه زياتره هندي ـ اردو مراد وي.
نوري معياري ژبې د بېرپرله پېچلي اړخونه لري. د پاريس د فرانسوي ژبې تفوق د معاصر فرانسوي ادب تاريخ په اوږدو کي په پراخه اندازه منل سوی دئ او چاڅه پکښې ويلي نه دي .
د بريتانيا په انګرېزۍ کي معياري تلفظ د لندن ښار د ممتازو طبقو پر ژبه باندي ولاړ دئ او د غه راز د انګلستان د ښوونځيو د خصوصي بورډ پر sociolect باندي تکيه لري.

د امريکا په متحده ايالاتو کي د امريکايي انګرېزۍ بېلابېل ډولونه سته خو عمومي امريکايي لهجه رسمي نه ده ځکه په هغې باندي زياتره امريکايان په روانه توګه پوهېږي. په داسي حال کي چي د امريکا د متحده ايالاتو فيډرال حکومت رسمي ژبه نه لري ، زياترو امريکايي ايالتونو انګرېزي ژبه د رسمي دولتي ژبې په توګه ټاکلې ده او په هغو کي لوزيانا ، نيومکسيکو ، هاوايي ، پيرتوريکو ، ګوام ، او امريکايي ساموا انګرېزي او يوه بله ژبه د رسمي دولتي ژبو په توګه غوره کړې دي. د شمالي ماياناټاپوګان درې رسمي ژبې لري.
عربي ژبه چي د پنځه ويشتو هيوادو رسمي ژبه ده او تقريباً دوه سوه او يا ميليونه تنه ويونکي لري ، د معياري (ادبي ) ژبې پر څنګ يې خورا ډېري سيمه ييزي لهجې، چي عاميانه عربي (Colloquial Arabic) ورته وايي ،هم سته. د عربو په نزد ادبي عربي ،معياري عربي (اللغه العربيه الفصحی ) ده . له ادبي عربي څخه يې مراد د قرآن ژبه او په شمالي افريقا او منځني ختيځ کي د ډېله ييزو رسنيو (ميډيا ) ژبه ده. په ميډيا کي ټول ليکلي آثار ، کتابونه ، ورځپاڼې ، مجلې او رازراز اسناد راځي. عاميانه يا لهجوي عربي له کلاسيکي عربۍ څخه ټولي راپيدا سوي ملي او سيمه ييزي عربۍ دي چي په شمالي افريقا او منځني ختيځ کي د ويلو ورځنۍ ژبې دي. په دغو لهجوي ژبو کي ښه پوره اندازه ادبي آثار ، په تېره بيا ډراماټيک ادبيات او شعرونه سته.خو کلاسيکه عربي د ټولو عربي هيوادو رسمي ژبه ده او په ښوونځيو کي هم دا ژبه تدريس کيږي .

د هرهيواد تعليم يافته عرب هم خپله سيمه ييزه لهجه او هم په ښوونځيو کي زده کړې ادبي عربي لږوډېره وايي. د عربي ژبې مصري ، مغربي ، شامي، عراقي، خليجي، اندولسي، سوداني ، حجازي، نجدي او يمني لهجې د يادوني وړ دي .
تردې لنډو يادونو وروسته به هغه بهبرلړڅه په تفصيل سره بيان کړم چي د معياري انګرېزۍ د منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ تروخته په انګلستان کي تېر سوی دئ.
په اتلسمه پېړۍ کي د معیار اصطلاح د انګلستان په هغو ساحو کي ډېره کارېدله چي د ژبي په باب څېړني او بیانونه پکښې کېدل. دې خلکو معیارته د یوه ژبني ارزښت په توګه کتل او زیاریې ایست چي دغه ارزښت تر لاسه کړي او په ټولنیزه توګه په رسمیت و پېژندل سي.

معیاریت دغه وخت ترزیاتې اندازې پوري د تصفیې او سوچه توب په مفهوم پېژندل کېدئ.سویفټ (Swift)، چي د اوولسمي پېړۍ د فیلسوف جان لاک John Locke نږدې معاصرو ، پخپل یوه وړاندیز کي د انګرېزي ژبي د تصفیه کولو غوښتنه وکړه او څرګنده یې کړه چي دا تصفیه به همېشنۍ وي. ده پردې خبره ټینګار کاوه چي ژبه دي تریوه ټاکلي حالته پوري تصفیه سي او بیا دي نو دغه حالت پخپله د یوه اعتباري معیار په توګه و منل سي چي د هغه له مخي د ژبي ویونکو ته لارښوونه وسي. د ده دغه ټینګار د اتلسمي پېړۍ په زیاتروژبنیو نظریاتو کي یوه مسلطه موضوع سوه.
د سویفټ په تعقیب لارډ چسټرفیلډ Lord Chesterfield د انګرېزي ژبي د سوچه کولو او وروستي ځل سمولو رېږ وکړ. دغه رازیې څرګنده کړه چي ژبه باید د یوه معیار له مخي تصفیه سي چي بیانو د یوې نمونې په توګه کار وکړي. چسټرفیلډ له دې امله ډېر خواشینی و ، چي ترهغه ګړیه پوري ولي انګرېزي ژبي کومه ټاکلې معیاري بڼه نه درلوده. خو په دې یې بیا زړه ښه و ، چي د معیار له نه سته والي سره سره په انګرېزي ژبه کي د مقدس کتاب هغه ژباړه پرته وه چي King James سر ته رسولې وه. د اتلسمي پېړۍ ګرامریان زیاتره په دې عقیده وه ، چي د انجیل همدغه ژباړه ډېره ښه معیاري انګرېزي ده. په دغه مقدس کتاب کي کارسوي ژبي د وه رازه اعتبار درلود ، چي یو یې ژبنی او بل یې دیني و. پردې نظرباندي ترنونسمي پېړۍ پوري لاترزیاتې اندازې پوري توافق موجودو .

هیجنسن Higgenson په دې باب لیکلي وه چي د انجیل انګرېزي په عملي توګه زموږ د ژبي معیاردئ په هغه کي د نورو زیاتو تاثیراتو تر څنګ د انګرېزي ژبي د ښوونې وسایل سته چي په پرتلېزه توګه یې د ده نیموسوو کالو په اوږدو کي بدلون نه دئ موندلئ. هیڅ یوې اکاډیمۍ یا معتبرې ډیکشنرۍ ددې توان نه دئ موندلئ چي دغه راز عام ستېنډرډ دې منځ ته راوړي ، یا دې ملت ته دغه شان متحدالشکله لارښووني وړاندي کړي.
د هیجنسن په استدلال کي د وه ډېر مهم ټکي دا دي چي د معیار د واړي معناوي پکښې په پام کي نیولي سوي دي. دی وایي چي د انجیل دغه ژباړه د انګرېزي ژبي معیاردئ او ددې معنادا ده چي دغه معیارته باید په اعظمي توګه مراجعه وسي. دی انجیل ته په دې خاطرهم د معیار په توګه قایل دئ چي هغه د یوې راغونډونکي او یو موټي کوونکي قوې په توګه کارورکوي، دد اسي قوې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه چي خلک د يولړ ځانګړو ارزښتو پر شا و خوا باندي راغونډ ېدلو ته رابولي.(۴)
هغه څه چي موږ ته په دې نظرياتو کي په زړه پوري دي ،دا دي ،چي په هغه کي د معيار دواړه معناوي په ګډه سره کارسويدي. معيار له يوې خوا د داسي يوه ارزښت په توګه راڅرګند سوی دئ چي بايد ترلاسه سي او بل وار بيا د يوه متحد الشکل عمل په توګه رامنځ ته سوی دئ چي بايد ترسره سي . اوددې پرځنګ دا خبره هم له دلچسپۍ خالي نه ده ، چي دليکلو او ويلو ژبه بايد سره پېتلېس سي. اساسي پوښتنه دا ده چي آيا له ژبني معيار څخه مراد يوه ځانګړې سطحه ده چي په ليکلې ژبه کي ځان بايد وړورسول سي اوکه يوه ځانګړې سطحه ده چي دويلو په ژبه کي بايد ځان وړورسول سي ؟ ددغي سخرغوټي خلاصول په حقيقت کي يوه ډېره سخته ستونزه ده اوددې ستونزي دا وارولوله پاره دهغو هڅو مطالعه ضروري ده چي د معياري ژبي دا اصطلاح د کارولو په برخه کي يې د نونسمي اوشلمي پېړۍ له ژبنيو څېړنو څخه څرک ايستلای سو. زه به په دې برخه کي هغه ستونزي وسپړم چي په نونسمه پېړۍ کي انګليسي ژبپوهان ورسره مخامخ سوي وه. په دې ستونزو کي يوه د لهجې اوژبي دتشخيصولو ستونزه وه اوداداسي يومشکل و ، چي حلېدو يې اسانه کارنه و .

په انګلستان کي دانګرېزي ژبي د معياري کولو دهلو ځلو په وخت کي دلهجې مسئله يوه جدي موضوع وه. دهغې دا اهميت او په معيار ټاکنه کي وهغې ته پاملرنه د معياريت د خوځښت د برخه والو په ليکنو او ويناوو کي ډېره توده مسئله وه. مايکل جان (Meiklejohn) خو حتی" ژبه يوه لويه لهجه ګڼله اولهجه يې يوه کوچنۍ ژبه بلله."(۵).

امريکايي ژبپوه ډوايټ ويټني (W.Dwight Whitney) خو لا دلهجو په برخه کي نورهم پر مخ تللی دئ اوو ايي" په رښتيني معنا سره هرفردد بل فرد په نسبت بيله ژبه وايي. دژبي هريو نکی په تلفظ او دلغاتو په درک او استعمال اودغه راز دژبي په ګرامريت grammaticality کي فردي پېچلتياوي او ځانګړتياوي individual quirks & peculiarities ، لري... د هر يوه مفکوره ،چي دلغاتو دا استعمال له مخي يې وړاندي کوي ، له بل يوه سره توپيرلري. په دغه توپيرکي دده دکرکټر، پوهني او احساساتو ټول فرديت شامل دئ."(۲) خودويټني نظرياتو هم جدي تناقضات درلودل. که دده له دې نظرسره ، چي ويل يې هرفرد د بل فرد په نسبت بېله ژبه وايي ، موافقه سوې وای نو ديوه هيواد د واحدي ژبي درلودل خوبيخي له امکانه وتل. ديوې واحدي او متحد الشکله ژبي دپلويانو سر هم په دغو توپيرونو باندي ښه خلاص و. دوی هڅه کوله چي ددغي ستونزي له پاره يومنلی حل پيدا کړي. دلهجو له پامه ايستل اونفي کول د مسئلې حل ورته نه ښکارېدئ. ددې معضلې لومړی حل دا و ، چي دژبي يو بشپړ قاموس تدوين سي چي په هغه کي د ژبي ټول موجوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زېرمه د هغې له تلفظ سره یو ځای خپره سي. د مخه تر دې چي د غه رازیو قاموس برابرسي ، د انګرېزي لهجو یوه ټولنه جوړه سوه (۱۸۷۳ع) چي English Dialect Society نومېده او پــــه لنډ ډول یې (EDS ) بلله. د دې ټولني هدف د هغو لغاتو راغونډول وه چي نور ورته په معیاریت باندي قایل نه وه. د دې پرخنګ یې د غه لاندي اهداف هم ځان ته ټاکلي وه:

ـ د ټولو هغو کسانو چي د انګلستان په محلي لهجو کي مطالعه کړې وه او هغو کسانو چي د محلي انګرېزۍ له مضمون سره دلچسپي درلوده، سره راغونډول ؛

ـ د یوه عمومي مرکزد جوړېدو له لاري د محلي لغاتو د راغونډونکو د کارونو خوندي کول څو تر هغه وروسته د ټولو د غو لغاتو د ثبتولو له پاره مواد برابرسي ؛

ـ د بېلابېلو هغو ډیکشنریو (collections of Provincial English Words)بیا چاپول ، چي نادري موندل کېدلې یا په لږ تېر اژ چاپ سوي وې ؛

ــ د هغو سیمه ییزو لغاتو د مجموعو چاپول چي په هغه وخت کي یې خطي نسخې موجودي وې ؛

ـ د لغاتو د غونډونکو ،زده کونکو او ټولو هغو کسانو له پاره د اطلاعاتي منابعو ماخذونه برابرول چي په دې برخه کي عمومي یا ځانګړې دلچسپي ولري. (۷ (

له دې کار سره د پوهانو عمومي دلچسپي پیدا سوه. ماکس میولر (Max Muller) ترادبي ژبي پرلهجو باندي کار ته د لومړیتوب حق ورکړ او وې لیکل:

"... ادبي اصطلاحات مصنوعي دي... د ژبي واقعي او طبیعي ژوند له هغه استبداد سره سره، چي د کلاسیکو او ادبي اصطلاحانو له خوا سوی دئ ،د هغې په لهجو کي دئ...". (۸). د ماکس میولر نظریه که څه هم ډېره استقبال نه سوه خو د هغه د نظریاتو یوه برخه د سټینډرډ ژبي د پلویانو د کار په بهیر کي د منلو موقع وموندله .

چي خپلي خبري سره رالنډې کړم د سټنډرډ ژبي د منځ راتګ جریان په پای کي بري ته ورسېدئ او د West Saxonلهجه د معیاري ژبي له پاره اساس وګرځېد او د اکسفورډ ډیکشنرۍ په برابرولو سره د بري لوړ پړاو ته ورسېد .دا ډیکشنري د معیاري ادبي انګرېزۍ له پاره یوه تیوریکي منبع سوه.

موریس R.Morris ولیکل: "زموږ او سنۍ معیاري انګرېزي په لومړي سر کي یوه سیمه ییزه لهجه وه ،چي تر ټاکلو شرایطو لاندي د یوې ادبي ژبي پوړ ته ورلوړه سوه. دا شرایط نورو لهجو ته میسرنه ول."

د دې بحث په پای کي بده نه وي چي وو ایم په د غه وخت کي د انګلستان خلګ ، نارینه په سلو کي ۶۲ او ښځي په سلو کي ۵۰ دلیک لوست په نعمت نازول سوي وه ( د ۱۸۴۰ احصائیه ). دا سلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(فیصدي ) دهماغي پېړۍ په پای کي په سلو کي ۹۷ ته لوړه سوه(۹ ). دا احصائیه موږ ښتنو ته بایدرا وښیي چي ژبني معیارته رسېدل دلیک لوست دسطحي خومره لوړېدل غواړي .

)۱ (له Wikipedia دایره المعارف څخه دانټرنیټ په مرسته.
)۲(دهانوورا وسېدونکي دلومړي جورج له وخته بیا د ویکټوریا تر زمانې پوري دانګلستان په پاچاهي قلمروکي شامل وه .
)۳ (حاشیه:ټوني کراولي ـ ۱۰۷ مخ
)۴(دانجیل دغي ترجمې ته ژبپوهانو په هغه نظرکتل چي دعربي ژبي پوهان دقرآن عربي ته دادبي او معیاري ژبي په سترګه ګوري. په دغودواړو نظروکي ترژبني اصل مذهبي تقدس ترډېري اندازې پوري طرحه دئ او دې نظردژبي دمعیارتیا کلوپه ستونزمنه لارکي دیوه توافق له پاره ډېره ښه زمینه برابره کړې وه .
)۵ (ټوني کراولي ـ ۸۱ مخ
)۶ (ټوني کراولي۸۱مخ
)۷(ټوني کراولي ـ ۸۹، ۸۸ مخونه
)۸ (هماغه اثر ـ ۹۰مخ
)۹ (وګ: ټوني کراولي ۸۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپښتوژبې دمعیاري کولوهڅې څه وخت پیل سوې؟

ددې هڅوهدف دژبې معیاري کول و ، که د لیکدود ؟(۱ (
زموږ څېړونکي چې کله د پښتوژبې دکلتوري کېدلولوړه و ژوره مطالعه کوي، نو په عمومي توګه یې له بایزید روښان څخه رانښلوي. وروسته د خوشحال خان او عبدالقادر خان نمونه اخیستل کېږي او د هغوی له خوا دلغت جوړوني هلي ځلي د پښتو د معیاریت د تاریخي ځنځیر یوه کړۍ ګرزول کېږي. بیا نو د پیر محمد کاکړ معرفت الافغاني او وروسته بیا دامیرشیرعلیخان پښتو بولۍ او عسکري او دولتي نمونه او دهغه په تعقیب مرکه د پښتو ، پښتو ادبي انجمن او په پای کي پښتوټولني ته وار رسېږي. څرنګه چي زموږ په څېړنوکي د پښتوژبې د صیقل کولو او سمولو هڅه تر ډېري اندازې دلغت جوړوني پرعملیه باندي حواله سوې ده، ځکه نو په دغه ټول تاریخي او ادبي جریان کي په جوړوسوولغاتو پسي ځراغ وپلټه را اخیستل کیږي او که هورې پر ځینو داسي کلماتو باندي سترګي ولګېدلې، چي په لومړي وار لیدلو سره څوک د جوړوسوو ولغاتو خیال پر کولای سي ، نو همدا کار د ژبې د توحید ولوله پاره یو تلاښ بلل کیږي. دا چي دا لغتونه به په رشتیا سره د یوه تاریخي او ژبني ضرورت له مخي جوړسوي وي او کنه تر دغه وخت پخوا به هم په ژبه کي موجود وه ، یوه مسلکي څېړنه ده، چي زه به یې د خپل صلاحیت په حدودو کي وروسته یو څه وشنم. دلته دومره وایم چي که د دغو لغاتو نوې جوړونه ثابته هم سي ، هغه باید د پښتو پالني او پښتوروزني په حساب کي درج سي، نه د پښتو معیاریت په جمع و خرڅ کي.
دامیرشیرعلیخان د وخت پښتو نوموني د هغه امیر له خوا په هیواد کي د نوي مدنیت او یوه منظم دولت د جوړېدو له پاره د عمومي پلان یوه کوچنوټې کړۍ ده او په رشتیا سره هم باید د نوموړي امیر په محاسنو او هیواد پالو هلو ځلو کي وشمېرل سي. دده دا کار د پښتو پالني یوه ستره نمونه ګڼل کېدلای سي.
مرکه د پښتو د امیر امان الله خان د وخت یوه وطنپاله او پښتو پاله هڅه ده. ددې مرکې یو ازني چاپي آثار (یوازینۍ پښتو ) او (پښتو پښویه ) ده. یوازینۍ پښتو د سوچه توب له هغه نړیوال تمایل سره په تړاو کي منځ ته راغلې ده ، چي د اماني عصر د ملي او مشروطه غوښتونکو مبارزو مخکښ ارواښاد علامه محمود طرزي په عثماني ترکیه کي د تورکي نیشنلیستانو له مبارزو څخه اخیستی او افغانستان ته یې راوړی و. په هغه وخت کي تورکي ملتپالو له عربي او فارسي ژبې څخه د خپلي ژبې د پاکولو خوراغښتلی خوځښت راپیل کړی و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديوازينې پښتو په سركي د مركې د مشر ٌ خادم العلماء عبدالواسع قندهاري ٌ په قلم داسې لولو : ٌ
داخبره وهريوه ته ښكاره ده چې د هر تېر ژبه څو خپلني نسي اوليک او ليكي په خپله ژبه نسي
لوړتوب اوپوره والی نسی درلودلی او دپردی له اړی نسی وتلای ... دادی نن ورځ چی لومړی پک
دپښتانه دټولو اكی بلل كیږی مشرباد ارد پښتانه (الغازی امیرامان الله خان) چی په كلو زوی او په
پوهانده پلارد تیرسوو او اوسنيو پښتنودی په دی راز د لوړتابه دخپل تېراو د ودانی دخپلی مینی
پوه سو چی دتوری مټ د كبنی بی متهه نه ځلیږی اوپردی كټ تر ننګړی شپی دی نه خپلیږی او د هیڅ
اولس میړانه دبل په ژبه پرتوله مځكه نه خپریږی نو په وتېری ژبه خپلی ته مخه سوه چی هرومرودی
خپله ژبه بشپړه سی او په ټولو اكی او ټولو اګي كی دی بله ژبه نه ښوری .... ٌ (۲(
داهځي د كاغذ پرمخ پاته سوې او په هماغه كابل كي لا هم د پښتنو ليكوالو ( برهان الدين
كشككی ) له خوا ونه پالل سوې چې تفصيل به يې تاسي د پښتنو د سوچه توب په برخه كي ولولئ.
د پښتو مركې پښتو پښويه اويوازنې پښتو د پښتو پالني يوه مخلصانه هڅه وه او د اماني
عصرد پښتو پالني يو ثبوت دئ. د هغه وخت پښتنو د راويښولو او خپلي ژبي ته د پام اړولو له پاره
يو تلاښ وخو د پښتو له معياريت سره يې تړل د اوسني نسل له ذهن څخه راوتلي قضاوت دئ ځكه
ددغي مركې نوم (مركه د پښتو ) پخپله لا هم غير معياري او د پښتو ګرامرله اصولو سره مخالف دئ
.

تردې وروسته چې د پښتو ادبي انجمن د كندهار د منورينو او د تنظيمه رئيس محمد ګل خان مومند په
اراده منځ ته راغئ او د ده په حضور كي يې د پښتو ليكني كومه لارتعقيبوله ، هغه لارپخپله
دوزيرصاحب مرحوم له خوا ونه پالل سوه او په (پښتو سيند ) او(د پښتو ژبې ليار ) كي يې خپله
راايستلې لارتعقيب كړه . د پښتو ادبي انجمن د پښتو د عامېدلو اورسمي كېدلو پرلوريوه هڅه وه
نه د معياري كولو. دژبپالني ښاغلي مولف د پښتو ادبي انجمن د نشراتي اوركان (پښتو ) مجلې له
يوه پاراګراف څخه داسي نتيجه اخيستې ده چې ګويا ادبي انجمن غوښته پښتو يې معياري وي
(۳ ) . په هغه پاراګراف كي داسي راغلي دي: ٌ... د محترم كتونكو دلوړ نظر څخه پټه نه ده چی په
نوروژبو كی معارف په كافی اندازه سره ليكلی شوی دی ، چی دعوامو دضرورت او غوښت يی په
پوره دی... بالعكس په پښتو د بده مرغه دونه علمی كوټه او ذخيره موجوده نه ده چی دعوامو
ضرورت دی پوره كی نو به ضروری وی چی انجمن دی په خپله مجله كی زيات مخ دعمومو ورونو
داذهان او علميت وګوری چی د( كلم الناس علی قدرعقولهم ) پرمعيار برابره وی چی شكوه دګران
والی او نه پوهني ځنی پيدا نشی.... ٌ (۴(
په پورتني پاراګراف كي د(معيار ) كلمه د(كلم الناس علی قدر عقولهم ) له پاره استعمال سوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او معنا یې دا چې د مجلې نشرات دي د دغي مقولې پر معیار برابر وي یعني ساده دي وي. دلته یې دژبې د معیاري توب مسئله په پام کي نه ده نیولې .
د پښتو ژبې له پاره د یوه واحد لیکني معیار منظمه هڅه د کابل د پښتو ټولني له جوړېدو سره سمه رامنځ ته سوې ده. په تېره بیا کله چي په ۱۳۳۳ ش کال د پښتو ټولني په اهدافو او وظایفو کي یو ژور بدلون راغی او دنویو وظایفو په لړکي یې ٌد پښتو ژبې دلغاتو او قواعدو تدوین ، دضرورت له مخي دنویو اصلاحاتو او لغاتو وضع کول ، ادبي او لغوي څېړني او د پښتو په لساني علوموپوری مربوط آثارلیکل او خپرول ٌ شامل سول.(۵). د پښتو ټولني دا هڅه دلیکنۍ ژبې د معیاري کولو لومړنۍ هڅه ګڼل کېدلای سي. تردې وړاندي چي د پښتو مرکې ، پښتو ادبي انجمن څه کارونه کړي وه ، هغه ټول د پښتو پالني او پښتو روزني او دلیکدود دیووالي له پاره هڅې ګڼل کېدلای سي. خوله بده مرغه پښتو ټولني ونه سوای کولای چي د لیکني معیار مسئله تر (سو ) او(شو ) په هیسته پرمخ بوزي. د پښتو ټولني په پیشنهاد سوو مادو کي د لیکدود دیووالي پر سر فیصلې سوي دي نه دژبې دمعیاریت پر موضوع ، وروسته له لیکوالو څخه دلیکدود دیووالی او دتلفظ یووالی ګډ سوی دئ .

د پښتو ټولني د کاوا کو هڅو پر څنګ له نن څخه زیات و کم پنځه ویشت کاله وړاندي دیوازنۍ کره لیکنۍ پښتو په نامه یو بهیر راروان دئ چي پوهاند دوکتور مجاور احمد زیاریې
دتاداو اینبوولو ادعا کوي او وایي چي دغه بهیر دنوموړي په اراده ، نوښت او فعال ګډون سره راپیل سوی او تراوسه پرمخ وهل کېږي. دځوکلونو را هیسې چي پر افغانانو باندي
دنورو بدمرغیو پر څنګ د پوهانو او عالمانو دنه جبیره کېدونکي مرګوځپې راماتي دي
،او دافغانانو په تېره بیا د پښتنو ډېري ستري هستۍ د مرګي غېږ ته تللي دي ، اوس دیوې پښتو له بهیر سره د نورو پوهانو او د پوهنتون د استادانو او داکاډیمۍ دغړو نومونه هم تړل کېږي ؟ ! دا حرکت لږموافقین او خورازیات مخالفین لري چي زماد همدې کتابګوټي په ترځ کي به تاسي د هغه په باب بېلابېل نظرونه ولولئ .

)۱ (دمخه تردې چي د پښتو ژبې د معیاریت په برخه کي وږغېږم ، دیوه ټکي یادونه ضروري ګڼم او هغه دا چي زموږ پښتنو څېړونکودوې خبري سره ګډې کړي دي او هغه د پښتو ژبې پالنه او د معیاري پښتو ټاکنه ده. زموږ څخه دژبني فعالیت دغه دوې برخي ګډې سوي دي او زه به په دې بحث کي د نورو موضوع ګانو پر څنګ پر همدې برخه هم رڼا واچوم .
)۲ (بینوا ـ عبدالروف ـ پښتو روزنه ـ ۱۴۲ ، ۱۴۷ مخونه ـ د پښتو څېړنو بین المللی مرکز ـ کابل ـ ۱۳۵۷ ش .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز وګ: ژبپالنه ـ ۸۷ مخ دیوازنۍ پښتود۲ـ۷ مخو په حواله
)۳ (ژبپالنه ـ ۹۵ مخ
)۴ (ژبپالنه ـ ۹۵ مخ
)۵ (پښتو کتابونه ۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمعياري ليكني پرهڅوباندي دنيولوگيزم هبنمه

په ژبه كي دنوو لغتونو جوړول له باباادمه تردي دمه پوري يو معمول دوددئ.
دنوو اختراعاتو او كشفياتوو او نوو مفاهيمو له پاره هرقوم اود هري ژبي ويونكو نوي لغتونه جوړ كړي دي. زما په نظرد ٌ وعلم ادم الاسماء كلهاٌ (البقره سوره ۲آيت)څخه به هم مراد همدغه لغتونه جوړول اوورښوول وي. دلغت جوړولوله پاره په نني ژبپوهنه كي دنيولوگيزم يانيولوجيزم neologismاصطلاح كاريږي.نيولوگيزم هغه لغت، اصطلاح يا عبارت ته ويل كېږي چي نوی جوړسوی وي اوزياتره پريوه نوي مفهوم باندي دلالت كوي يايوې زړې اصطلاح ته نوی ژبنی رنگ وركوي.نيولوگيزم داختراعاتو،نووپديدو ياهغوزړو مفاهيمود پېژند لوله پاره گتوردئ چي په يوه نوې كلتوري قرينه كي واقع سوي وي. د نيولوگيزم يومثال e-mail دئ چي موږيې په مدني ټولنوكي د انټرنيټ په بركت له نامه سره ډېراشنايو. دتعريف له مخي هر نيو لو گيزم بايد نوې بڼه ولري خو كله كله په مستقيمه توگه ځانگړو اشخاصو، نشراتو اويا يوې حادثې ته منسوب وي. د نيولوگيزم اصطلاح د اتلسمي ميلادي پېړۍ په شا و خواكي رامنځ ته سوه خود نونسمي پېړۍ دپيل تريو څه وخته پوري لا دٌ نيولوگيزمٌ لغت پخپله نيولو گيزم و .
دطب دعقلي وعصبي ناروغيو په څانگه (سايكياټري ( psychiatry كي دنيولوگيزم اصطلاح بل رازمعنالري اوهغه وخت كاريږي چي يو ناروغ داسي كلمات ترخولې راباسي چي له ده پرته يې بل څوک په معنانه پوهېږي.(۱) په كوچنيانو كي دغه رازپېښه غيرعادي نه ده خو په لويانو كي دغه رازكلمات ترخولې راايستل دافكارودبې نظمۍ يوه نخښه ده چي دشيزوفريني schizophreniaپه شان دعقلي اودماغي ناروغۍ نمايندگي كوي.
دنيولوگيزم كلمات ترخولې راايستل كله كله دماغزودسټروک stroke يادانسان سرته دصدمې رسېدلو له اسيته هم پېښېږي. په دغه وخت كي دناروغ ژبه گنگوړه سي اونامفهومه كلمات ترخولې راباسي چي په سايكياټري كي ورته نيولوگيزمونه وايي.

په الهياتوكي هري نوي نظريې ته په نسبي توگه د نيولوگيزم په سترگه كتل كيږي اونيولوگيسټ دعقايدود سيستم په برخه كي نوښتگرسړی وي چي دمذهبي موسساتواودوديزو روحانيونو په نظر بيازياتره مرتداوورانكارگڼل كېږي(۲ . (
كه دژبود جوړښت جريان ته په څېروكتل سي نوهرلغت به يووخت نيولوگيزم و. هغه لغات چي دټولني له خوامنل سوي دي ، نور نود نيولوگيزم له حالته وتلي اودژبي زېرمه گرزېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیولوګیزمونو رواجېدل زیاتره د خبري او اطلاعاتي رسنیو (media) پرلاس سرته رسیږي .
د ژبو ماهران کله کله له نیولوګیزمونو سره له دې اسیته مخالفت کوي چې د نوموړي مفهوم له پاره په ژبه کې پخوا لغت موجودوي. دغه راز مخالفت د غیرماهرواشخاصو له خوا هم سرته رسیږي او هغوی نیو لو ګیزم وژبې ته سپکاوی ګڼي .
نیولوګیزمونه عموماً د ساینس ، سیاست ، تجارت او اعلاناتو په برخه کې ډېر رواج لري. په انګریزي ژبه کې د ځینو ادبي کتابو او د هغوی د لیکوالو نومونه د نیولوګیزم په توګه کاریږي او کله چې د دغه کتاب یاد هغه دلیکوال نوم په ورځنیو محاوروکي استعمال سي ،لوستونکي او اورېدونکي یې په یوه خاصه معنا باندي تعبیروي .
د نیولوګیزمونو په رواجولوکي که له سمتي دلچسپیو ، لهجوي لوړتیا غوښتنو او سیاسي تمایلاتو څخه کاروا خیستل سي ، پخپل مقابل کي یې مخالفتونه رازیږي.مګرکه دیوه سالم جریان په توګه تطبیق سي ، په ژبه کې یې د پاته کېدلو او منلو چانس ډېرسته. خو دا حقیقت مو باید تل په پام کي نیولی وي چې له نیولوګیزمونو سره موافقت او مخالفت دواړه له ژبي سره د خواخوږی په انګېزه کیږي. که له هغه څخه یوه سیاسي او سمتي موضوع جوړه سوه ، ترګټه یې تاوان سل واره زیاتیږي .
په افغانستان کې د پښتوژبې درواجولو او کره کېدلو جریان له هماغه پیل څخه په نووجوړوونو راشروع سو ،ځکه نوزموږدزماني لیکوالو چې کله د پښتوژبې د معیاریت پرتاریخي سیرباندي څه کښلي دي ، نو د معیاریت له پاره هڅي یې له هغو تلاښونو سره تړلي دي ، چې په پخواکي د پښتنو له خوا د معیاریت له پاره نه ، بلکي دیوه یابل مقصد په خاطر ترسره سوي دي. دې ذهنیت دومره ریښه ځغلولې ده چې د کره لیکنې پښتوبنسټګریې لاهم دې ته اړ ایستلی دئ چې پخپل نوښت را پیل سوي خوځښت له هغو شعوري او غیرشعوري ژبنیو بدلونو سره وښلوي چې ترده وړاندي په بېلابېلو انګېزو منځ ته راغلي دي. د دې ښلوني تیوریکي تاداو له دغه تصورسره تړلی دئ ، چې د معاصر معیاریت هڅه پخپل ذات کي هم پرلغت جوړونه ولاړه ده او د کره ژبې له پاره ترټولو کارو مهم تره کاردنیولوګیزم پالنه ګڼل کیږي. د دغه ذهنیت د توجیه کولو په خاطرهڅه سوې ده چې د پښتوادبیاتو او پښتو ژبې په پخواني بهیرکې هم د نیو لوګیزم څرکونه وموندل سي څوله دې لاري دلغت جوړوني نني جریان ته تاریخي تاداو جوړکاندي. دوخت په نرخ باندي د پخواني ادب او ادیبانو د ذهنیت او افکارو د تعبیرولو نور مثالونه هم سته(۳ . . (

په دې لړکي ویل کیږي چې امیر کروړجهان پهلوان هم نوي لغاتونه جوړول. خو دې نظرته چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې خوشبینۍ سره هم وکتل سي نو به یې نتیجه دا راووزي چې دا نظرپراټکلو نو باندي ولاړ یو نظر دئ. البته له دې څخه انکار نه سي کېدلای چې دامیرکروړ په ویاړنه کي دا سي لغات ستره چې د جوړو سوو لغاتو نوم پر ایښوول کېدلای سي او که جوړوني هم وي ، ډېري طبیعي جوړوني دي . خوودې طبیعي پېښي ته دیوه شعوري حرکت رنګ ورکول یوه دا سي خبره ده چې اثبات به یې یوازې له دغي ویاړني څخه مشکل وي او نورو اسنادو ته به اړتیا ولري. ځکه دامعلومه نه ده چې آیا دغه ترکیبونه چې د امیر کروړ په ویاړنه کي راغلي دي،دده ترویاړني دمخه هم په ژبه کي موجوده او که دده خپلي جوړوني دي. ترڅو چې دامیرکروړ دعصریا تر هغه دمخه او وروسته مواد موندل سوي نه وي ، پردغو لغاتو باندي د نیو لو جیزم د توجیه له پاره استدلال کول ، علمي ارزښت نه لري. د امیر کروړ ویاړنه بې له شکه د پښتو ادبیاتو ډېرلیري څرک راکوي. خو په هغه وخت کي پښتو ژبه خولاڅه ، چې نوري نزدې ګاونډۍ ژبې لاهم په دې موقعیت کي نه وې چې د معیار ټاکلو اړتیا دي ورته مطرح سي .

پوهاند زیارصاحب یو ځای دامیرکروړ په ویاړنه کي د ستایوال، دریځ ،هریوال، مخسور، پیژندوی، پلن، زړن... لغتونه" یوه ادبي بشپړه تړوني (مصنوعي) ویې جوړونه یانیولوجیزم" بللی دئ (۴) خو بل ځای یې په شک سره څرګنده کړې ده چې "ګمان نه کوم چې امیرکروړ به (اتل) له ځانه جوړ کړی وي ، امکان لري (دریځ) یې جوړ کړی وي." (۵) له دغه شان تذبذب سره به موږ څرنګه وکولای سو امیرکروړ د نیولوګیزم په لارویانو کي ودروو.

ددې جریان دلیکني په لړ کي دروښان پیرپه لاس دلغت جوړوني کار ته هم اشاره سوې ده. په خیرالبیان کي رښتیاهم بایزید روښان دعربي اصطلاحاتو او لغاتو له پاره پښتو معادلونه راوړي دي . دروښان پیر دا کار که د پښتو د سوچتابه او پښتو پالنې له پاره دهڅو په مطالعه کي راوړه سي ، لا یوه خبره ده ، خو دنوو لغاتو په جوړونه کي یې ځکه نه سو راوړلای،چې دا لغات خو ټول د پښتو خپله زېږمه او تر روښان پیر وړاندي هم زما یقین دئ چې موجوده وه او روښان پیر له خپل ټولنیز پښتني ماحول څخه راغونډ کړي او استعمال کړي دي. علامه رشاد(رح) د خیرالبیان لغتنامې ته پخپله سریزه کي وایي چې" ددې کتاب له لیکني څخه څلورسوه کاله تېرسوي دي. ځیني لفظونه یې زماني غرابت لري او اوس یې د معناوو موندل لوستونکي هرومرو ښتني او ګروېږني ته اړباسي.

له بلي خوادمولف کورنۍ د وزیرستان په "کاني ګرام" کي اوسېدله او دی په دغه غرنۍ سیمه کي ځوانۍ ته رسېدلی دی. دده لهجه دهغه وختني مسیدو( مسعودو ) او وزیرو لهجه ده. په دغه لهجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اوس هم ځیني داسي لغتونه او محاورې سته چي ترهغې سیمي دباندي پښتنو ته یې پوهه آسان کارنه دی.ٌ (۲(

علامه استاد که دروښان پیرپه فرهنګي هڅوکي دلغت جوړولو ځرک موندلای وای ، هرومرو یې بیاناوه .

ښاغلي رفیع صاحب په خپل خوندورکتاب ژبپالنه ـ کي چي د روښاني ادب له ځینو قلمي نسخوڅخه یولړ کلمې ( تهت سر، خسلتونه ،زرور، هرس ، بسات، غلت، الفاز... ) راا خیستي دي او پرهغو یې د مفغنو کلمو خیال کړی دئ،ماته دروښاني ادب دلارویانوله خوا یوه ارادي هڅه نه ښکاري،بلکې دخطاطانو د بېسوادۍ نخښه یې بولم. دغه رازبېسوادانه کاپۍ نوري هم ډېري سته .

ددغه شان ارادي اودقافیوي ضرورت له مخي تصرف یو مثال د میرزا حنان بارګزي او حمید مومند په دېوانو کي مالوستی دئ ، ښایي نورهم وي.حنان وایي:

په لویي دزمانې خوشي غلط سوم
لکه دود پر سر د اور دروميي عبس
)دېوان ۴۲ مخ دمحمد معصوم هوتک په زیار (

حمید وایي:

دمظلـــــوم د آزارغشی رسالګی
هیڅ ګوزاریی خطانه درومی عبس
)دېوان ۱۲۵مخ(

خوشحال خان خټک چي پخپل یوشعرکي دکال دمیاشتو مخي ته پښتو ترجمې راوړي دي ، هم دده خپلي جوړوني نه دي (۷) بلکې دحمل ، ثور ، جوزا ، .... پښتو نومونه دي چي په خلکو کي یې له پخوا څخه دود درلود . دی پخپله هم وایي چي دی ددې نومونو پښتو معادل راښیي:

چی ٌ دلوٌ ، ٌ حوتٌ وایی یوٌبهمنٌ بلٌ اسفندارٌ کړه
پښتوله مــــــــانه واوره یوٌ بوکهٌ ، دوهمٌ ماهیٌ

که دانومونه دخوشحال خان خپلي جوړوني وبولونو معنا به یې داوي چي په پښتو ژبه کي دخوشحال باباتروخته پوري ( وري ، غوایي ، زمري ، تله ، لړم ، لینده ، مرغومي ، سلواغې ، ماهي ) ته نومونه موجودنه وه. داخبره خوبه هیڅوک ونه مني چي داحیوانان او خزندې اونورشیان په محیط کي هم نه وه. هرومروه. نوڅه به یې بلل ؟. آیادې موجوداتو په محیط کي خارجي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود درلود خو نوم یې نه درلود چي خوشحال خان مجبور سو ، نوم ونه یې ورته جوړ کړل ؟ ! دا خبري ټولي د منلو نه دي .

دامیر شیرعلیخان دوخت پښتو بولۍ او یو لړ پښتو نوموني مو ږ د دغه وطنپال امیر په پښتو پالنه کي شمېرلای سو نه د پښتو د معیاري کولو له پاره یو تلاښ . دغه وخت امیر د یوه منظم لښکر د جوړولو په فکر کي دئ او د لښکر جوړول د هغو اصلاحاتو په سر کي راتلل چي ویل کېږي امیر شیرعلي خان د سید جمال الدین افغاني په مشوره را نښلولي ول (٨ . (

ددې لښکر د جوړولو له پاره مقرري او کتابونه له انګرېزۍ څخه په فارسي ترجمه سول چي ( شرح قواعد پیاده ګان پلتن ) ، ( کتاب قواعد رساله ) او (کتاب قواعد پلتن ) نومېږي . ددې کتابو ژبه فارسي ده خو بولۍ او عسکري اصطلاحات یې پښتو دي.

دوکتور حسن کاکړ لیکي چي دامیر شیرعلیخان دوخت پښتو نوموني دامیر عبدالرحمان خان په وخت کي نه دي پالل سوي او" امیر عبدالرحمن په دغه اهمال سره په دولتي چاروکې د مداومت اصل تر پښو لاندي کړ...." ( ٩ ) دامیرعبدالرحمن په وخت کي دډیورنډ خط ها خوا پښتنو سره مراوده او مکاتبه په پښتو کېدله او امیر د پښتو عرایضو احکام هم په پښتو ژبه د ملامحمد افغاني نویس په قلم ورکول او پخپله یې لاسلیک پر کاوه (١٠). دامیر دا کار هم د پښتو پالني یا پښتو روزني په برخه کي څېړل کېدلای سي.

دامیر امان الله خان دوخت د(مرکه د پښتو ) نومووني مابل ځای هم څېړلي دي . دا د پښتو د سوچه کېدو یوه ناکامه هڅه وه چي بشپړېیان به یې تاسي پرخپل ځای ولولئ.دا هڅه دهمدې حرکت دبنسټ ایښوونکو له خوا لاهم پالل سوې نه ده .

د کره پښتو لیکني په نامه چي کوم خوځښت په افغانستان کي د ثور انقلاب ؟تر بري وروسته زورا خیستی دئ ، په ټولولو مړنیو او وسنیو لیکلو اسنادو کي یې دخپل کار اساس پرځلورو ستنو باندي ولاړ بللی دئ: دارکاییکو لغاتو راژوندي کول ، له لهجو څخه لغات اخیستل ، له نورو ژبو څخه پورول او دنویو لغاتو جوړول. دې کار ته یې فیصدي هم ایښې ده او هري برخي ته یې په سل کي **٢٥** ونډه ټاکلې ده .

دو یي پانګي د پراختیاله پاره هم دغه لاري ( پلټنه ، ټاکنه ، پورونه او جوړونه ) غوره سوي دي (١١ (

ددغي ژبنۍ تګلاري اصول پخوا هم دالفاظو په لړبدلون سره منل سوي وه . مرکه د پښتو هم پر دغه اصولو متفقه وه ، د پښتو ادبي انجمن هم او پښتو ټولنه هم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دې څه د پاسه د پرشو کلو کې په پلټنه، ټاکنه، پو روینه کې د دوو فیصدو په اندازه ګوتې چا وهلې نه دي. په دې برخه کې چې څه کتابونه لکه زړه پانګه ، دلرغونې شاعرۍ ګړنې (۱۲)او نورخپاره سوي هم دي ، له هغو څخه په اصطلاح معیاري لیکنه کې چا ښځې لږ کار اخیستی دئ. خودجوړوونو په برخه کې دحجم له مخې دومره زیات کار سوی دئ، چې پښتو خوارکۍ یې په هضمولو کې پر باکیو (کانګو) راغلې ده .

په لهجو کې لغاتونه سته خوڅوک دئ، چې راټول یې کړي. زیارصاحب وایي چې په لرواوبروپښتنو کې داسې لهجه پاته نه ده ، چې دوی دي څېړنه پکښې کړې نه وي. رشتیابه یې هم کړې وي. خو ددې څېړنې نتیجه په "کتابچو" کې بندي ده . دتحقیق میدان ته راوتلې نه ده چې نورهم ورڅخه استفاده وکړي. په یوه ژبه کې چې دلهجو دومره پربماني وي اوله دې پربمانۍ سره حتی دیوې لهجې کوچنوټی قاموس چاپ سوی نه وي ، نو انفرادي هڅې به څوک څه وکړي .
پوهاندزیارصاحب وایي چې" د پښتو غونډې نوې مدنی کیدونکې ژبه ترهرڅه لومړی دیوې پراخې اوبشپړې ویي پانګې (لغوي ذخیرې) تثبیت ته اړتیالري. او هغه په دې ډول چې لومړی یې دلهجوي اومتنی څیړنی او پلټنی له لاري خپله آره او اصیله پانګه راټوله شی او بیایی تشه (خالیګاه) له یوې خوا دځینونوومدنی اوعلمی نومونو په ژباړنو اوټاکنو اوله بلی خوا په پورونو او اخیستنوډکه شی." (۱۳ (

تردې وړاندي یې دویي (لغت)پلټني چمونه ښوولي دي اولیکي:"... په ویي پانګې پسی دژبی ټول ګړدودونه وپلټل شی هرویی په خپله فونولوژیکی ، سیمانتیکی اوایدیمی ځانګړنوسره په غږلیک او غږ نیوونې ( ټایپ ریکاردر ) ثبت کړي، که څه هم هغه ویی په یوه ویونکي پوري اړه ولري... کله چی ددې رازپلټنی له لاري ویي پانګه راټوله او جوته شوه بیاوارد ې ته رسي چې دژبپوهنی له بنسټوسره سمه یې د قاموسونو په بڼه خوندي کړي اوهغه هم په بیلابیلو ټولیو او کټګوریو لکه دوییوقاموس، دګړنو(محاورو ) قاموس اوداسي نور. په دې توګه چې دژبي خپله آره او سوچه ویی پانګه لاسته راغله له یوې خوا به مود خپلی ژبی داړتیایوه لویه برخه پوره کړې اوسي اوله بلی خوا به مودو یي پانګی دپراختیایوه وسیله ترلاسه شوې وي.(۱۴) داټولې هغه خبري دي چې د(خو ) ځای پکښې نسته . مګرآیا په دغوزرینو اصولو باندې عمل سوی دئ ؟آیا دلهجوي قاموسو ، چې پوهاندزیارصاحب یې سپارښتنه کوي ، یوه کوچنوټې نمونه څوک راښوولای سي چې خپره سوې دې وي ؟ زه له دې انکارنه کوم چې دځینو لهجو ګرامري جوړښتونه به دانفرادي سلیقې اوعلاقې له مخې ثبت سوې وي. خو آیادغه ثبت سوي مواد کافي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کره پښتو او يوه پښتو يوازي او يوازي لغت جوړوني ته جوغښدلې ده. نورو د روبرخو ته يې شاور گرزولې ده. د تېرو د برشو کلونو په موده کې څوک درې مغزني مقالې راښوولای نه سي چې په دغو ځانگو ( پلټنه ، ټاکنه ، پورونه ) کې دي ليکل سوي وي خو پر لغت جوړونه باندي که ټولې مقالې راغونډې سي ، کتابونه به ځني جوړ سي . اروا ښاد دوست شينواري په ډېر و خوا ريو زړه پانگه راغونډه کړې ده خوزه ويلای سم چې د دغي پنډې زېرمي په سلو کې پنځه لا هم درواجولو له پاره انتخاب سوي نه دي . د کره ژبې د څلورو برخو ترمنځ موازنه که د لغات جوړوني په گټه دومره ورانه سي ، لکه ورانه سوې چې ده ، نو د چا په ذهن کي هر و مرو دا پوښتني ورگرزي چې:

آيا له لهجو څخه اخيستنه يوازي د کاغذ پرمخ يوه بې ارزښته يادونه ده چې د خلکو د خولو د بندولو له پاره ليکلې سوې ده ؟ آيا کره پښتو د يوې لهجې سيادت دئ ؟ نوري په رسميت نه پېژني ؟

دوکتور زيار صاحب وايي: "نوې جوړونه بايد يوا ځې په علمی ، تخنيکی ، مدنی ، اداری او داسی نورو مفاهيمو پوری تړلی وي چی زموږ فکري او کلتوری زيږنده نه وي لکه ژبپوهنه (لنگويستيک ) ، ټولنپوهنه ( سوسيولوجی ) پوهنتون ( يونيورستی ) ، ښارندوی ( سکوټ او پوليس ) توغندی دراکټ او ورکتون د کودکستان لپاره . مگر که سوکړک يا سوړسک ته د جوارو ډوډۍ نوم وټاکو ، يوه بی ځايه ټاکنه به وي ." (۱۵) مگر په همدغه کتاب کې بيا په عمل کې د خپلي سپارښتني پرخلاف شاعر ، کتاب ، قلم ، پنسل ، بلبل ، تاريخ ، او نورو په سوو غير تخنيکي او غيرساينسي لغاتونه جوړ کړي دي ! ؟

پوهاند زيار صاحب ورپسې داسي وايي: "بايد هره جوړونه په يوه سرنه وي ، بلکی ديوې داسي ډلی له خوا وي چي د وه غړي يې د ځانگی والاوي او يو دوه يې ژبپوهان . په دې مانا چی که د مثال په توگه د ټولنپوهنی نومونه وي ، په کار دي د ټولنپوهانو او ژبپوهانو په گډه مرسته جوړه شی . البته که پخپله د ژبپوهنی نومونه وي بيا د جوړونکی ډلی غړي يوا ځی ژبپوهان کيدون لري . له بله پلوه داچی په پښتو کی لاترا وسه د هري علمی ځانگی او ژبپوهنی ځانگه وال دومره ډېر نه دي ، نو د جوړوونکې ډلې د غړولړنی شمېر د وه تنه د منلو وړ دي ، يو مربوط ځانگه وال او بل ژبپوهاند . اولادا هم پيښيږی چی په ډېر اختصاصی ډول په يوه ځانگه کی يوتن هم نه وي ، په هغه ترڅ کی بيا د بلی ژبی له پوهانو مرسته غوښتل په کار دي ." (۱۲) بل ځای وايي: "خپللا سي يا مصنوعی ويی (نيولوگيزم ) هغه دی چې په بيلښتي يا تړښتي ډول د يوې علمی ټولنې له خوا د تيارو بيلگو له مخی جوړ شوی وی ...." (۱۷) اوس نو را سئ خدای ته مخ کړئ او بنده ته شا ، چي آيا دغه سپارښتنه په عمل کي نيم په سلو کي پلې سوې ده ؟ د ټولو پښتنو پوهانو ، استادانو له چيغو او مخالفتو سره سره بيا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټول کاروان په فردي اراده او تصميم باندي روان دئ. نه د چا پر چيغو غوږنيول کيږي ، نه يې پروړاندېزونو. او دليل هم دا راوړل کېږي ، چي تاسي لايسنس نه لرئ ؟! هغوی چي يې بيالري،ور ته ويل کېږي چي ستاسي لايسنس د پلاني هيوادد دئ ، د منلو وړ نه دئ (۱۸ (

حقيقت دا دئ چي لغت جوړونه اوس په يوې اپيډيمۍ ( ساري ناروغۍ ) بدله سوې ده. زه يې ژبنی سرطان (cancer) بولم. ډاکټر عبد الرازق پالوال څه کم د برش کاله وړاندي چي دغه ناروغي لادومره عامه سوې نه وه ، دهغې د منفي اغېزو په باب داسي خبرداری ورکړی و: "... که دغه دلغت جوړوني او پښتوکوني عادت افراطي شکل واخلي ـ پرژبه باندي دوې منفي اغېزې ښندي: يوه منفي اغېزه يې دا ده چي ژبه دملنډو او تمسخروړ ګرځوي چي دغه هم دليکوال او هم دژبې وحيثيت ته صدمه رسوي. نو پرځای ددې چي دژبې قدرموکړی وي ـ سپکه کړې به موو ي. دوهمه منفي نتيجه يې دژبې پره ديوالی دی. دزړويا مړو کلماتو پښتوکونه او دنوو لغاتو جوړونه يورازساري او حياتي مبتلا يي ده چي او مه ځوانان لکه متعلمين او محصلين يې په مقابل کښې معافيت نه لري. که دغه جريان په اوسني شدت سره دوام پيداکړي ، دوه دري نسله وروسته به موږ په کابل کي يوه بېله لهجه ولرو چي هغه به نوکابلۍ پښتو بلله کيږي." (۱۹) اروابناد سرمحقق محمدصديق روهي (۱۳۱۳ـ۱۳۵۷ش) هغه وخت چي د پښتوټولني درئيس په توګه يې کارکاوه ، دنووجوړسوو لغاتو په باب ديوې پوښتني په جواب کي ويلي دي: "يوزيات شمېر خلک فکرکوي چي دا نوی لغتونه به د پښتو ټولني له خوا جوړشوی وی... ځيني پرمونږ انتقاد کوي او وايي چي مونږ د راديو په خبرونو نه پوهېږو ، تاسي ولې هره ورځ نوی لغتونه جوړوئ .

پښتو ټولني په دې برخه کي له مسئولو مراجعو څخه غوښتنه وکړه چي که دوی نوي لغتونه او اصطلاحات خپروي بايد د پښتوټولني سلا او مشوره وغواړي... زما شخصي نظر دا دی چي په افراطي بڼه د پښتو سوچه کول به ژبه له ويونکو څخه تجريد کړي. افراطي تصفيه نه ضروري برېښي او نه ممکنه." (۲۰ (
اروابناد علامه رشاد (۱۳۰۰ ـ ۱۳۸۳ش) ترخپل وفات څلورکاله وړاندي د ګوربت مجلې (لومړي کال ، شپږمه ګڼه ۲۴ مخ ) د خبريال د يوې پوښتني په جواب کي داسي ويلي دي: "... مجرده ژبه په دنياکي نه سته او مشترکات دژبې حتمي او لازمي دي مخصوصاً ديوې کورنۍ ژبې په خپلو منځو کي خوراډېر مشترکات لري او موږ دداسي مشترکاتو څخه چاره نه لرو ، موږ يې بايد ومنو.... دليکني او دليکلو ژبه بايد دقوم ژبه وي ، ژبه دقوم ده ، ژبه دخاصو څو کسو ليکونکو نه ده." علامه مرحوم ديوې بلي پوښتني په جواب کي داسي ويلي دي: "البته دا خبره منم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنویولغاتو درانتوتلومخه باید ونیول سي ، دهغوی له پاره په اول کي باید تدبیرونیول سي. مثلاً زه به ډېرخوشاله وای چي د سیلو کلمه موړته نه وای راغلې او په هغه وخت کي دډوډۍ پخولو یادنانپزۍ موسسه نوم پرایښودل سوی وای... مکروریان کلمه که موږته نه وای راغلې... اودغسي یوه کلمه ورته استعمال سوې وای دابه ډېره ښه وای. نوونویولغاتودرانتوتلودمخنیوي له پاره داکارسم دئ. امادزړو مروجولغاتو اودقوم په ژبه معمول لغاتولپاره دنویو کلماتو جوړول ژبه واقعاً له قوم څخه لیري کوي... په وضع کي دي ډېرتلوارنه کېږي اول باید ټولي لهجې ثبت سي اووکتل سي چي په لهجوکي ددغه مطلب لپاره څه ستنه اوکه نه ستنه ، که نه وي نوبیادي وروسته وضع وسي... تلوار په وضع کي پخپله دتامل وړخبره ده.ٗ

دښاغلي نجیب منلی لا ، چي له خپل ګرد ودپرته یې له نوروسره جوړه نه ده ، هم له نیولوګیزم سره ورانه ده. دی لیکي:ٗ... دپښتوپه هکله هم داوېره شته چې دکره کوونکولوړبینې به ورته د مخالفانوله نارواوونه ډېرتاوان وروا ړوي....ٗ دی ورپسې زیاتوي:ٗله بلې خوازه، چې نژدې ټول عمرمې دکتاب سره تېرکړی ، درې څلور پردۍ ژبې مې زده کړي اوځان دپښتودتاریخ اوادب له پېژندنې هم بې برخې نه ګڼم ، که دګوربت مجلې یوه ګڼه راواخلم اودااستادصمیم مرکه یااستادزیار لیکنه لولم نوپه نیمایي یې هم نه پوهېږم اوحیران شم چې داخبرې د چا لپاره دي ؟ٗ ښاغلی نجیب منلی دنوولغاتوجوړول دژبې پرمختګ بولي خوزیاتوي چې:ٗ... په وچ زورد هغوپورشویو ټکو پښتوکول چي ژبې دپېړیو اولسیزوپه اوږدوکې خپل کړي دي دژبې لپاره به ګټوري وي یابه نه وي خودژبې دویونکوسره ظلم دی.
دفرمان په زورنه چاته کور، ډوډۍ ،کالي رسېږي ؛نه څوک جنتي کېږي اونه ژبه کره کېږي، هرتحریک چې دفرمان اووچ زورله لارې د تاریخ یون بدلوي له ناکامۍ سره مخ کېږي، افغان ولس نه خوتاریخ دا هم ورزده کړه چې داډول ماجراګانې ډېرې سختې تاواني دي.

په زورد پښتوکره کول ماته دپښتني فرهنګ جړې ایستل ښکاري... نودیوعادي پښتوویونکې په حیث هغودرنومشرانوته چې د نیو لوجیز مونوپه لارکې بې شانه ستونزې ګالي په ډېره عاجزۍ سوال کوم چې خپله انرژي اوزموږدزده کړې وخت په داسې بې ضرورته سوغاتونونه لګوي تشریحي اوایتمولوژیکي قاموسونه دې راته جوړکړي چې د خپل ولس دخبروژبه په ښه شان زده کړو.ٗ
دی ،ځوانان لیکوال اوفرهنګپالٗ دکره پښتودمحتسبانوپه مقابل کېٗ مقاومت ته رابولي اووایي چېٗ خپله پوهه اوقلم دپښتنوخدمت ته وقف کړي په کره پښتولیکل زموږهیڅ دردنه رادواکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود پښتنو په ژبه چې څومره د پښتنو لپاره ليکنې د برېږي هغومره به پرې پښتو کره کېږي.ٌ (۲۱ ( اوس له بده مرغه داساري ناروغي عامه سوې او افراطي سوې ده او تردې اندازې عامه سوې ده چې پخپله پوهاند زيارصاحب هم په مشکل ورسره اخته دئ او وايي چې زه يوازې دخپلو جوړو سوو لغاتو مسئوليت اخلم ، نورپه ما اړه نه لري (۲۲ )تردې پخوايې ويلي وه چې ٌله بده مرغه وروسته په دې برخه کی دځينو خلکو بی سروبوله جوړونې ددې سبب شوي چی زموږ ژبنی ټولني دالړی ګردسره پرېږدي ....ٌ (۲۳ ) خو زه وايم ددې بې مسئوليتی مسئوليت به دهغه چاپر غاړه وي ، چې له مکررو خبرداريو اوسپارښتونو سره سره يې دلغات جوړولود کارخانو د تاسيس لار خلاصه کړه.
داپدل چې هرچامات کړی دئ ، له پښتوسره يې په رشتيا جفاکړې ده اودپوښتني مستحق دئ (۲۴ ) . پښتوژبه زموږ د متخصصينوله لاسه ريشخندي کيږي. دعواموژبه که د ماهرانوپه لاس ورانه نه سي ،پخپل تدريجي پرمختګ سره خوراسم تکاملي سير تعقيبوي. زه دپوهاندزيارصاحب دا خبره منم چې د معيار په ټاکلو او سمبالولوکي دپوهانورول ډېرستردئ. خبره دپوهانو پررول نه ده ، خبره دپوهانوپربې وخته لاسوهنه ده. خبره پرهغه ټاکلې او مشخصه زمينه باندي ده چې دمعيارپه منځ ته راتګ کي حتمي اولازمي ګڼله کيږي. پوهاندزيارصاحب داروانښادپوهاند دوکتورالهام هغه خبره يادوي چې دوی ته يې دپښتوژبي دکره ليکني دتاريخي زمينې ( سرمايه داري نظام) په برخه کي کړې وه ، خوخپل هغه دلايل نه راوړي ، چې ولي يې نودالهام مرحوم پردغه اصولي مشوره باندي غوږنه ونيولی. پر مشخصي تاريخي زمينې سربېره ، دژبي دمعيارمنځ ته راتګ دهغې دويونکو لازمه تکاملي سطحه غواړي ، دليک لوست (سواد ) تعميم غواړي ، دتعليم عام رواج غواړي اوپه خلکوکي د مدنيت اومدني ژوندغزېده غواړي. يوقوم چې په نس موړنه وي ، په تن پټ نه وي ، مکتب اوتعليم ورته مهيانه وي ، صحت ونه لري ، څلور لسيزي يې په جنګ کي تيري کړي وي او اوس لاهم په جګړه کي ولاړوي ، هيوادته يې دفنااوبقاسوال مطرح وي خو څوک ورته دژبي دمعيار جوړولواوبښ لاهم چوکوي اوهغه هم د(س) او(ش) په تعريف. داکارنه څوک پرعلم برابرولای سي اونه يې دعملي کېدوچانس سته .
نوڅه بايدوسي ؟لاس ترزنه خپلي ژبي ته بايد کښېنو ؟ددې پوښتني جواب دهمدې کتابګوټي په پای کي درکوم.

۱( (دپښتوځيني نيولوګيزمونه کټ مټ همدغه شان وي

۲( (وګ : نيولوګيزم ـ ويکيپيډيا دايره المعارف ـ دانټرنيټ په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳) (په افغانستان کي دغوايي دلومړي اړودوړپه دوران کي هغه کېدله چي په کلاسيکه شاعري کي دطبقاتي مفکورې اوطبقاتي مبارزې نمونې وموندلې سي . په دې لړکي يې د صوفي عبدالرحمن باباپه شاعرۍ کي دابيت دطبقاتي مبارزې انعکاس وباله چي ويلي يې دي:
نشي دخانانـــــــــــوملنګوسره کلي
چيرته عزيزخان چرته ملنګ عبدالرحمان
ماپه هغه وخت کي دکابل مجلې د۱۳۲۵ کال په ۱۱،۱۲ګڼه ۹۲ مخ کي وليکل:
"... دغوروړخبره ده زموږ څېړونکي کله کله له پخوانيوليکوالو څخه له خپل تفکرسره سم اثرغواړي ، اوکه يې داکارونه کړنويې محکوموي . اوکله چي بيادېوه ډېرپخواني شاعرپه آثاروکي ځيني داسي موادومومي چي له نني تفکر سره په تصادفي توګه سم راغلي وي. نوبيادهغه په باب داډول قضاوت کوي چي دشاعراروابه لاهم په خبره نه وي . مثلا په يوه بيت يې له صوفي عبدالرحمن باباڅخه نني متفکر جوړ کړی دی ...."
۴) (وګ : د پښتو ژبي دودې اړتياولارې چارې ـ ۸۱ مخ
۵) (ښکلامجله ـ څلورم کال ، دريمه ګڼه ـ مرکه ـ ۵۰ مخ
۶) (دکابل چاپ خيرالبيان ـ لغتنامه ـ الف ، ب مخونه .
۷) (داشعر ښاغلي رفيع په ژبپالنه ـ ۴۴مخ اوپوهاندزيارصاحب په ....... کي اخيستی دئ .
۸) (ښاغلی دوکتورحسن کاکړله دې نظرسره مخالف دئ. دی ليکي: داچي ځيني کسان وايي چي اميرشيرعلي خان اصلاحات دهغه پلان له مخي عملي کړل ، چي سيدجمال الدين ورته تهيه کړي ووحقيقت نه لري. حقيقت دادی چي اميرشيرعلي خان سيدجمال الدين د۱۹۲۸ کال د نومبر پر۱۲مه ياني پخواتردې چي پراصلاحاتويې پيل کړی وي ، دکندهارچمن له لاري هندوستان ته شړلی و . وګ ؛ دپښتوژبي دودې اړتيااولارې چارې ـ دپوهانددوکتور محمد حسن کاکړمقاله ـ ۳۵ مخ .
۹) (هماغه) مقاله ـ ۳۷ مخ (
۱۰) (وګ : ميرزاعبدالودودهوتک ـ ۵مخ دحاجي محمداکبرهوتک دعريضې متن
۱۱) (ويي) پوهنه ـ تر ۱۵مخ وروسته
۱۲)(زړه پانګه داروانښادسرمحقق دوست شينواري(۱۳۱۴ ـ ۱۳۷۲هـ ق ) ليکنه اودلرغوني شاعرۍ ګړنې داستادمحمدآصف صميم تاليف دئ .
۱۳) (ويي) پوهنه ـ ۲۳مخ
۱۴) (ويي) پوهنه ـ ۱۸،۱۹مخونه .
۱۵) (ويي) پوهنه ـ ۲۴ ، ۲۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶) ويي پوهنه – ۲۵ مخ
۱۷) ويي پوهنه – ۹ مخ . پر کلماتو تاکید زمادئ – م . هـ
۱۸) پوهاند زیار صاحب په پخواني شوروي اتحاد کي روزل سوي افغاني ژبپوهان په رسمیت نه پېژني او ( تش په نامه ژبپوهان ) يې بولي . وګ : د پښتو ژبي دودي اړتیا او لارې چارې ـ ۸۷ مخ
۱۹) پښتو چاپي آثار ـ ۲۲۹ ، ۲۷۰ مخونه ـ ۱۹۷۸ ع . دغه مقاله په نومورې مجموعه کي یوازنۍ مقاله ده چي صحافت یې ورګډوډ سوی دئ . خدای دي وکړي چي داکار په ارادي توګه سرته رسېدلی نه وي .
۲۰) وګ : د پښتو ټولنی تاریخچه ۵۱ – ۵۲ مخونه – ۱۳۵۲ ش
۲۱) ګوربت مجله ، لومړی کال ، شپږمه ګڼه ، ۱۲مخ
۲۲) ښکلا مجله – ځلورم کال – دریېمه ګڼه – ۵۱مخ
۲۳) ويي پوهنه – ۲۴ مخ
۲۴) په دې برخه کي د کتاب په پای کي د ضمیمې برخه ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنوو جوړوسوو لغتونو دتلفظ ستونزه

لکه دلیکدود په برخه چي وړاندي اشاره ورته سوې ده ، پښتو الفبې د پښتو ژبي دټولو ږغونود تمثیلولو ترعهدې نسي وتلای. درادیو ویندویان نوي لغتونه دهمدې نیمګړې الفبې له لاري لولي او پخپل اټکل یې تلفظ کوي. دااټکلي تلفظ هرومرو دلغات دجوړوونکي د تلفظ نمایندګي نه سي کولای او په دې ډول دغلط تلفظ خوراډېر احتمالات سته. دویندویانو غلطي دژبي عاموویونکو ته لارپیدا کوي او پسي عامېږي. زه دخپلي مشاهدې له مخي وایم چي غلط تلفظ نوی جوړسوی لغات بېخونده او پټخ کړی دئ. دلغات جوړوونکي نه په دې جریان خبرېږي او نه یې دتعقیبولو امکانات لري. که چیري خبرهم سي ، بیا دومره ری هم نه پکښې وهي. که دنوولغاتوله پاره یوې صلاحیت لرونکي موسسې وجود درلودای ، نوبه یې لومړی ویندویانو ته سم تلفظ ورښوولای او بیا به یې دمیډیا نشرات هم ورپسې تعقیبولای(۱. (

)۱ (وګ: دضمیمې دوهمه مقاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دژبي دسوچه توب(Purism) دوه اړخه

)هم د رڅخه مرم، هم د رپسي مرم(
سوچه ژبه هغه ژبه ده چي د نورو ژبو اغېزې وربانديي سوي نه وي ، دخیل کلمات و نه لري او د چاخبره له خپله ځانه پوره وي. هیڅ ژبه د خلقت له مخي بشپړه نه وي. پرژبو بانديي اغېزې هرومرو پېښېدونکي دي او پېښي سوي دي. دا اغېزې له ګاونډیو ژبو ، قومونو ، اولسونو او مدنیتونو سره د ټولنیزي او اقتصادي راکړي ورکړي او راشه درشي له لاري یا پر اولسونو باندي د نورو اولسونو له خوا د پوځي عملیاتو او فتوحاتو له لاري کېږي او سوي دي. مغلوب اولسونه د غالبو فاتحانو ژبنۍ اغېزې پرځان مني او منلي یې دي. په نړۍ کي د هغه اولس ژبه سوچه پاتېږي چي له ځانه پرته له بل هیڅ قوم ، هیڅ ژبي ، هیڅ دین او هیڅ مدنیت سره اړیکي و نه لري. داسي قوم پخپله مېنه کي محدود او ایسارپاته سوی وي او په اصطلاح بدوي قوم وي.
ژبنی سوچه توب ( Linguistic purism ) په یوه ژبه کي له هرراز بدلون سره مخالفت یادځینو هغو بدلونونو او اغېزو له منځه وړل دي ، چي په پخواکي په ژبه کي راغلي وي. پیوریزم ځان ته بېلابېل ډولونه لري. ریفورمیست پیوریزم دژبي له پخواني حالت سره خپلي اړیکي شلول غواړي. د دغه راز پیوریزم ښه مثال هغه ژبنی ریفورم دئ چي د ترکیې د انقلابي مشر او د معاصري ترکیې د موسس کمال اتاتورک په وخت کي په ترکي ژبه کي راغئ او له دې ژبي څخه یې هغه فارسي او عربي لغتونه وایستل چي د عثماني تورکانو په وخت کي یې ژبه اخیستې وه. د پیوریزم بل ډول ته وطنپال پیوریزم (patriotic purism) وایي چي په ژبه کي د بهرنیو لغاتو کمول یا یو مخ لیري کول غواړي .
دغه راز پیوریزم په نړۍ کي عام دئ. د نونسمي او شلمي پېړۍ انګرېزي لیکوالو د انګرېزۍ ژبي د دغه راز سوچه توب له پاره ډېري هڅي کړي وې. په فرانسوي ، جرمني او یوناني ژبو کي هم د دغه راز میلان نخښي پیاوړي وې خو جرمني ژبه و نه توانېدله چي د انګرېزي ژبي د لغاتو د سیلاو مخه ونیسي. انقلابي پیوریزم د لیکنۍ ژبي د انکشاف په لومړي سرکي راڅرګندېږي. د ژبو د معیاري کولو پرمهال باندي دغه راز پیوریزم ډېر زور (momentum) اخلي خو وروسته بیا له خپله زوره لوېږي (۱ (

)۱ (ویکیپیډیا انسایکلوپیډیا ــ دانټرنیټ په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو دسوچه توب پرپیچومو

کله چې په اروپا کې دنوو ملتونو له منځ ته راتګ سره سم دژبې پر اهمیت باندې دټینګار خوځنده څپې په باړ اسکووې ، اودژبې سوچه کول دهغه وخت دنیشنلیستانو په منځ کې یوه ګرمه ورځنۍ موضوع وه ، دغه وخت پر افغانستان باندې دامیردوست محمد خان دزامنو او لمسیانو ترمنځ د قدرت پرګدۍ باندې دجنګ اوجګړو سوران نازل و. نه دچاژبې ته پام و اونه هم ژبنیو پرمختیاووته . دجنګواوپاچاګښتیو په وخت کې کلتوري اوعلمي مسایلوته دچاپام نه وراوړي. علمي اوفرهنګي هڅي آرامه فضااو دچاخبره" دخاطراطمنان" غواړي. دغه راز نسبتاً مساعده فضا دامیرحبیب الله خان (سراج الملت والدین) د پاچهۍ په وخت کې منځ ته راغله. دغه وخت په ټول افغانستان کې بشپړ امنیت ټینګ و اوپه دې سیمه کې دآرامۍ او ثبات پرسرنړیوال توافق هم موجودو. د امیر حبیب الله خان په وخت کې هغه منوري کورنۍ چې دده دپلار دمطلقه پاچهۍ پر مهال له افغانستانه ایستل

سوي وې، بیرته هیوادته را ستنې سوې. په دغو کورنیو کې د سردارانو دکندهاري ورونو د روحاني اومتصوف شخصیت اوملي شاعر سردار رحمدل خان ددانشمندزوی سردار غلام محمد خان طرزي کورنۍ او دغه راز دغازي محمد ایوب خان دملي اوانګلیسي ضد خوځښت د وفادارپلوي جمړیاني بادارکندهاري وراره غلام محی الدین افغان اونوري کورنۍ اوافرادهم شامل و. ددې خلکو پر اذهانو باندې له افغانستان څخه دتبعید په وخت کې د اروپایي هیوادو سیاسي اوضاع اودهغې قارې ملي خوځښتونو لړو ډېره اغېزه کړې وه. دسیاسي تبعید په دغه دوران کې ترکیه اوایران دافغان سید جمال الدین دعلمي اوسیاسي هڅوله امله دمنورینو او تجدد خوښوونکو د نیشنلیستي مبارزو مرکز و. دغومبارزوته د اروپایي نیشنلیستانو افکاراونظریات رسېدلي وه. په دغو هیوادو کې دتبعید سوو کورنیو زلمیانود تنور او وطنپالني روحیه واخیستله اوپه دې ترڅ کې یې دخپل ملت دژبوحالت ته زیاته پاملرنه واوښتله. داروپایي نیشنلیستانو په پیروۍ یې د سوچه ژبې، سوچه نژاد ،سوچه ملت ملي او سیاسي مفاهیم دتبعید د وخت دارمغان په توګه خپل هیوادته راوړل. (۱) د تبعیدیانو ددې کاروان قافله سالارځوان محمود طرزي و. محمود طرزي هیواد ته له راستنېدوسره سم له شاهي کورنۍ سره دخپلو خانداني اړیکو او خپښیو په مرسته امیرحبیب الله خان ، چې پخپله هم په افغاني پاچهانو کې ترټولوزیات منوراوتجدد خوښوونکی پاچا و ، د نوي مدنیت له ښېګڼوڅخه استفادې ته وهڅاوه اوپه هیواد کې یې د مطبوعاتو هغه پوړندې چې دمولوي عبدالروف خان کاکړ په لاس بلې سوې وې ، له سره تازه کړې اوپه دې ډول یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سراج الاخبار افغانیه فرهنګي مرکز جوړ او د حبیبیې مدرسې زده کوونکي او کارکوونکي یې پر راماټ کړل .
د سراج الاخبار له مطالعې څخه څوک په څرګنده توګه د هغو هلو ځلو اغېزې لیدلای سي چي په اروپا په تېره بیا ترکیه کي د نیشنلیستي غورځنګ پلویانو د ژبې د سوچه کولو او په تعقیب یې د ژبې د معیاري کولو له پاره په کارا اچولي وې. د سراج الاخبار مدیر او متفکر مغز محمود طرزی د د غو هڅو په باب معلومات او د هغو مطالعه په ترکیه کي د اوسېدني پر وخت او په تېره بیا د سید جمال الدین افغاني په محضر کي د دوه میاشتني حضور پر مهال ترلاسه کړي وه.
د همد غو هڅو اغېزه وه چي محمود طرزي د سوچه فارسي او سوچه افغاني نژاد په باب په سراج الاخبار کي نشرات پیل کړل. ده د سراج الاخبار په یوه ګڼه کي د امیر حبیب الله خان ترعکس لاندي یو اوږد پاراګراف لیکلی و او لوستونکو ته یې چلېنج ورکړی و ، چي که چا د امیر حبیب الله ترنامه په هاخو ابل کوم عربي لغت وښود ، د سراج الاخبار یو کلکسیون به د انعام په توګه ورکول سي. په دې اعلان سره یې غوښتل وښیي چي فارسي ژبه ترکومې اندازې پوري له خپله ځانه پوره او سوچه ژبه ده .سوچه لیکنه د دغه عصر د لیکوال په محاسنو کي شمېرل کېده. د همدې تمایل اغېزه وه چي علامه عبدالحي حبیبي هم کله چي د طلوع افغان اخبار چلاوه ، دې اعلان ته ورته پښتو اعلان خپور کړ او لوستونکو ته یې بلنه ورکړه چي که چا غیر پښتو لغت پکښې وموند ،د طلوع افغان کلکسیون به د انعام په توګه ورولېږي. د دې انعام پر سر د مولانا محمد شریف حبیبي او د طلوع افغان د چلوونکي ترمنځ یوه مناقشه هم منځ ته راغله.مولانا د یوې عربي کلمې مفغن شکل ته اشاره کړې وه چي د اعلان په متن کي موجود و او ځان یې د انعام مستحق باله خو د اخبار چلوونکي بیا مفغنات په پښتو کلماتو کي شمېرل (۲.(
په پښتو کي د عربي ژبي دلغاتو افراطي استعمال او د چا خبره ملایي پښتو هم پخپل وار سره د پښتو د سوچه کولو زمینه برابره کړې وه. د عربي ژبي دلغاتو افراطي کارول د هغه وخت په ملایي ذهنیت کي د فضیلت او علمیت نخښه وه او د غه ذهنیت زموږ په منورینو کي ځکه نفوذ وکړ، چي هغوی پخپله په یوه دیني او ملایي ماحول کي د روزني له لاري د قلم او سیاست میدان ته راوتلي وه. دوی په مدرسه کي ښوونه او روزنه بشپړه کړې وه. او کله چي یې د اروپایي انکشافاتو په باب لږ څه پوهنه وموندله ، نو یې سمدلاسه په ژبه کي د عربیت پر ضد پاڅون وکړ. خود دې پاڅون ښه نتیجه ځکه ورنه کړه چي عربیت زموږ پښتنو ذهنونه د دیني عقایدو له لاري تسخیر کړي وه. د هغوی له ذهنو څخه د عربي ژبي ایستل د دین د ژبي د ایستلو په معنا تعبیریدله.
د سوچتابه هڅي پرٌ مرکه د پښتوٌ هم اغېزه وکړه اوٌ یو ازینی پښتوٌ د همدغي اغېزې په نتیجه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپره سوه .(۳ )

خو ديوازينۍ پښتولاربنوونې په سرسره د ٌ مرکه د پښتو ٌ د مشرمولوي عبدالواسع کاکړله خواهم عملي نه سوې. ده چي په ۱۳۰۵ش کال د جدي پر ۱۲ د( تعاونوا على البر والتقوى ) په نامه اوږده منظومه ويلې ده (۴ ) په هغه کي د سوچه توب نخښې کوږې نسته او دلاسه لا دعربيت اغېزه پرغالبه ښکاري.

حسن وقبح له ماورک ســــــوه ليونی يم
زيان وګټه راته يوســـــــــوه بهولی يم
تعاون له قبيلې له قـــــــومه ورک سو
لـــــــــويي ږيري مګرکارمود هلک سو
....
زماتعطيل، غفلت، نخوت که څه يوآن دئ
دعــــــــالم عالم، مادي معنوي زيان دئ

زه ددې نظم له ژبې سره هيڅ مشکل نه لرم اولوستونکي يې هم زمايقين دئ ، چي نه يې لري ، خوددې دروبيتوله راوړلو مي مرادداد ئ چي ديوازنۍ پښتو هڅه چي پر( مرکه د پښتو ) باندي تپل سوې وه ، يو تفنني اولکه دمخه چي مې يادونه وکړه ، له بهره راغلئ ذهنيت و.

د(مرکه د پښتو ) بل کتاب ٌ پښتو پښويه ٌ و اوددې کتاب له نامه پرته نورګرامري اصطلاحات له يوه مخه عربي ياپارسي دي لکه ٌ تاکيد و مبالغه ، تفعيل ومبالغه ، فتحۀ مجهولۀ خالص ، صيغۀ مذکر ، صيغۀ مونث اونور ٌ

داچي وايي پښتوژبه سوچه ژبه پاته سوې ده. ددې ادعامعناداده چي پښتانه له هيڅ ګاونډي قوم اوهيڅ رازمدنيت سره په تماس کي راغلي نه دي. تاريخي حقايق ددې خبري پرخلاف دي. پښتانه پرداسي يوه سيمه پراته دي چي دمدنيتو ، دفاتحانودلښکرو ، دجهانکشايانو دتلو راتلو لاروه. ددوی ژبه له دغواثراتو څخه هيڅکله هم پاکه پاتېدلای نه سي. داچي موږوايو پښتوله آره سوچه ژبه پاته سوې ده ، په حقيقت کي مو پرتاريخي پېښو اوحقايقو باندي پرده اچولې ده. داځرنګه امکان لري چي کندهاردي د پېړيو په اوږدو کي دمغولو او پارسيانو له خوالاس پرلاس سوی وي او پښتانه اوپارسيان دي څنګ پرڅنګ کلی او کور سوی وي خويو دبل پرژبو دې اغېزنه وي ښندلې. داڅرنګه امکان لري چي په ننګرهارکي دي دتاريخي ګندهاراژبنۍ اغېزې نه وي پاته سوې. پردغه پراخه اورشودي د پښتنو په څنګ کي شاړي ، پشه يان ، ترکان ، اشکوڼ ،کاتير(کاتيان) پراچيان ،ګوجراونورڅنګ پرڅنګ له پېړيو راهيسي اوسي (۵ )خوژبې دي يودبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تاثیره په امان پاته وي. دا څرنګه امکان لري چي وردګ او هزاره دي یو دبل په چم او ګاونډ کي اوسېدلي وي او ژبو دي یې یو پر بل اثر نه وي کړی. دا څرنګه امکان لري چي په لوګر کي دي دپښتنو، تاجکو، برکیو پوله او پټې ګډ وي خو ژبې دي یې یو دبل له تاثیره خوندي او سوچه پاته وي. دا څرنګه امکان لري چي د پیښور او کوټې پښتانه دي په ورځني ژوند او ژواک کي له اردو ژبو او پنجابیو او بلوڅو سره شریک وي خو ژبې دې سوچه پاته وي. ژبه لکه ژوندی اورګانیزم له خپل ماحول څخه هرو مرو متاثره کیږي. دا که دچا خوښه وي او که نه، که دچا نه راځي، که بد. دا دطبیعت قانون دئ زما او ستا ذهنیت ته نه ګوري او خپل کار کوي. لکه د پردیو ژبو د افراطي بهیر په مقابل کي چي د خپلي ژبي مدافعه یو ضروري کار دئ، دغه راز د ژبي افراطي سوچه توب او تصفیه هم یو غیر عملي، بې ګټې او کله کله مضر عمل دئ.

دښاغلي رفیع خبره په خطاطانو کي د پښتو د سوچه تابه اشتها زموږد ځینو شاعرانو رنګین شعرونه له شعرتوبه ایستلي دي او لاس و پښې یې ورمات کړي دي (۲) دا کار له بده مرغه اوس هم روان دئ. اوس د پخوانیو شاعرانو لهجه د معیاریت په فتوا بدلېږي. (په) یې په (پر) وراړوي او (پر) یې په (په). د کلماتو د پای یاګاني یې پخپله سلیقه وراچوي (۲). دا کار به څو پېړۍ وروسته د پښتو ژبې د لهجوي څېړونکي غبرګ غاښونه وروباسي او په قضاوت کي به یې د کعبې پر ځای ترکستان ته ورسوي. ځکه دی به فکر کوي چي د نو موړي شاعر په وخت کي (په) او (پر) استعمال په دغه شان و، لکه په چاپي د یوان کي چي راغلی دئ. خبر به نه وي چي دا استعمال د معیاریت په اشتها پرتپل سوی دئ د شاعر اروا لا په دغه راز استعمال خبره نه وه. دغه شان لوبي تر موږ یو نسل وړاندي د عبدالقادر خان ختک او نورو پخوانیو شاعرانو په دیوانو باندي د خطاطانو له خوا سوي دي.

ښاغلی رفیع وروسته له هغه چي د پښتو د سوچتابه هڅو ته کتنه له اتمي هجري پېړۍ څخه رانښلوي او ترنن ورځي یې رارسوي، په پای کي د دغو هڅو اهمیت پخپله له ډاګه وهي او داسي لیکي: "... موږولیدل چي د دی کار (د پښتو د سوچتابه ـ م.هـ) لپاره کله، کله د تفنن لپاره لاس غزول شوی او یا هم د ځینی نورو هیوادونو په اغېز کې دا کار شوی دی خو له تولو سره ـ سره یې نتیجه نه ده ورکړې او دا هڅه ناکامه شوې ده.

د دی ناکامی یو لوی علت دا دی چی نړۍ ورځ په ورځ وړېږي، انسانی راشی درشی اوراکړې ورکړې زیاتیږي، د ساینس له برکته تلنې راتلنې ګړندۍ کیږي او په اجتماعی، اقتصادی او نورو چارو کې هیوادونه یو بل ته اړ کیږي او د دی راشو درشو، راکړو ورکړو، تلنو راتلنو او اړتیاؤ په ترڅ کی کلتوری او ژبنۍ راکړې ورکړې هم دود یږي او د تجرید او یوازیتوب ژوند له منځه ځی..."

ښاغلی رفیع وروسته ارواښاد محمد صدیق روهی یوه خبره رانقلوي، چي ویلي یې وه" که

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژبو تکاملی سیر ته وګورو په نړۍ کی خالصی ژبه نشته او که وی هغه به د ځینی بدوی ټولنو ژبی وی چی له نوری نړۍ سره علمی او ثقافتی اړیکی نه لری.ً (۷). رفیع صاحب پر خپله څېړنه باندي داسي نتیجه بناکوي:ً په دې اساس د ژبې د سوچتابه له پاره هڅه له یوې خوا ژبه او اولس یې تجرید کوی له بله خوا د ژبی د خارجی زده کوونکو لپاره ستونزی رامنځ ته کوی او له بله پلوه په خپله د ژبی د ویونکو له پاره د افهام او تفهیم لاره اغزنه کوی نو ځکه باید دی ناکامی هڅی ته زړه ښه نه کړو او په زور خپله ژبه تجرید او کړاومنه نه کړو....ً (۸ ) دا نتیجه په رشتیا سره یوه واقعي او له علمي اصولو سره برابره نتیجه اخیستنه ده. د ژبي سوچه کول د کره پښتو لیکني نني لارویان هم په خوله غندي خو په عمل پر هماغه لار روان دي ، چي دوی یې تربل هرچا د نه عملي توب له پاره ډېر څه ویلي دي.

لکه د دې بحث په سرکي چي تاسي ولوستل د ژبي سوچه توب له یوې خوا د نورو قوي ژبو دواردا تو په وړاندي یو عکس العمل دئ چي تریوې اندازې یې د توجیه کولو له پاره د مېړې لارموندله کېږي.خوله بل پلوه یوه داسي ناکامه هڅه ده چي د ممکناتو په ساحه کي ورته د نوک ایښوولو ځای لاهم نسته. نو د دغسي یوې غیرعملي پروژې له پاره نوکان ایستل چاته د کندهارد پښتنو هغه متل ورپه یادوي ، چي وایي:

عبث دارومردک دي ،چي په ولي ده ختی (۹. )

)۱ (اروابناد کاندید اکاډمیسن محمدصدیق روهي خوحتی د ظاهرشاه د پاچهۍ په سرکي پرپښتو ادبیاتو باندي د اروپایي افراطي ایډیالوژیو ، الماني نیشنلیزم (فاشیزم ) او شوروي کمونیزم ، سیوري ته اشاره کوي او لیکي چي دې اید یالوژیوً په ټولو هیوادو کې د افراطي یا معتدل نیشنلیزم درامنځ ته کېدو امکانات برابر کړل. په افغانستان کې یو معتدل نیشنلیزم مینځ ته راغی، چې عمده مضمون یې ملت پالنه ، د تاریخي مواریثو او عنعنودرناوی، حماسي ادب ، پرځان ویسا او ملی غرور و.ً

)وګ: د پښتو ادبیاتو تاریخ ـ معاصره دوره ـ ۸۵ مخ (

)۲ (طلوع افغان ۱۲کال ۷۷۸ګڼه. دادوه اعلانونه ماپخپله په سرسره کتلي وه خواوس مي د سراج الاخبار کلکسیون ته لاس کورت نه رسېږي او د طلوع افغان حواله مي د ښاغلي رفیع د ژبپالنه نومي کتاب ـ ۳۲مخ څخه واخیستله .

)۳) (یوازنۍ پښتو ) په ۱۳۰۱ش کال کي د (مرکه د پښتو ) له خوا د پوهني وزارت په مطبعه کي خپور سو. د کتاب ټول مخونه ۱۵۲ ښوول سوي دي چي په سرکي یې خادم العلماء مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالواسع قندهاري سریزه کښلې ده. ( وګ: ژبپالنه ـ ۲۵مخ (
)۴ (وګ: دافغان یاد ـ دعلامه حبیبي مقاله ـ ۹مخ
)۵ (پالوال ـ معیاري ژبه ـ ۷۸ ، ۷۹ ، ۹۰مخونه
)۶ (ژبپالنه ـ ۴۳مخ .
ما(هوتک ) چي کله دلوی احمد شاه بابادیوان له څوخطي اوچاپي نسخوڅخه ترتیباوه ، پردغه رازلاسوهنو اودلغاتوپرترجموباندي پېښ سوم اوزماپه نزدمي لاسوهلي ځایونه په نوي متن کي وانه خیستل. د هغولاسوهنو یوڅومثاله دادي :
دلفریبه ـ زړه فریبه
شکرلبه ـ خوږشونډې
پریرویه ـ پري مخه
دامنګیره ـ لمن ګیره
موی کمره ـ ملاوېښته
)۲ (وګ: دلوی احمد شاه بابادیوان ـ د۱۳۷۸ش =۱۹۹۹ع کال چاپ
)۷ (ژبپالنه ـ ۳۲ مخ
)۸ (هماغه کتاب ـ ۳۲ مخ. نقل قول کټ مټ رانقل سوی دئ.
)۹ (ده ختیې دکندهاربښارپه جنوب کي دیوه کلي نوم دئ. دامتل ځیني کسان په دې ډول هم وايي: ٌ عبث دارومردک دي ، فتح خان یې ډزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خوله کړلې تصفیه په زړه منلی سوچه توب

د پیوریزم په باب تاسي په تیرو پاڼو کي ښه پوره تفصیلي بیان ولولوست او د هغه د نه عملي توب او تاواني توب په باب موهم نظرونه ترنظر تېر کړل چي اتفاق ته په نزدې اکثریت ټولو پوهانو ورسره خپل مخالفت څرګند کړی دئ. خو په عمل کي د پیوریزم له کړني سره سره د پښتوژبي د سوچه تابه بازار ښه تودد ئ. د دې مسئلې د ښه څرګند تیا له پاره به زه یو څه شاته ولاړ سم او د ژبي له پاره به د نوو وجوړونو پر سابقه یو وار بیا مرور وکړم .

علامه محمود طرزي چي د افغاني ژبو (فارسي او پښتو ) د سوچه تابه له لومړیو پلویانو څخه و ، په دې برخه کي لیکي: "... به فکر عاجزانۀ خود ما ، یګانه وظیفه انجمن عالی معارف باید اصلاح و ترقی و تعلیم زبان وطنی و ملتی افغانی باشد ، از ارباب علم و دانش این زبان یک ګروپ مخصوص تشکیل یافته کتابهای تعلیمه ضروری لازمی آموختن آنرا تدوین و حاضر باید کرد. حتی برای تطبیق دادن کلمات فنی و صنعتی و اختراعات جدیده یی که نامهای آن درزبان افغانی غیر معروف است ، کلمات مناسب و نامهای متناسب به زبان افغانی پیدا باید کردو هر قدر اصلاح و ترقی که لازم است درآنباب اجراء باید کرد". (۱) محمود طرزي د( فني او صنعتي کلماتو او نوو اختراعاتو ) له پاره د مناسبو او متناسبو کلمو د پیدا کولو سپارښتنه کوي. په (پیدا کولو ) کي د کلماتو پلټنه او جوړونه دواړه راتلای سي. خو دی د ا کلمات مشخص کوي او د نوولغاتو د پیدا کولو اړتیا یوازي په (فني ،صنعتي او د اختراعاتو ) په برخه کي رامحدودوي .

علامه عبد الحی حبیبي هم، چي په طلوع افغان کي ( د پښتو د علمي اصطلاحاتو یا نوو لغاتو وضع ) ترسرلیک لاندي د دغه کار اصول بیان کړي دي ،په هغو کي یې" د پښتو سوچه لغاتو پلټنه او د لغاتو وضع" د جلا مادو په توګه ټاکلي دي. د نوو لغاتو وضع کول یې یوازي په تخنیکي ، صنعتي او علمي برخه کي سرته رسولي دي لکه ټیلګراف (لیرلیک ) ، فوټوګراف (بشرلیک ) ، فونوګراف (ږغ لیک ) او نور، چي ښې ډېري نمونې یې په ژبپالنه ۷۰ ، ۷۱مخونو کي د طلوع افغان اخبار په حواله را نقل سوي دي. ګویا د علامه حبیبي سپارښتنه هم پر فني او تخنیکي نومونو باندي تکیه درلوده. لرو پښتنو هم خپلي جوړوني ساینسي ځانګي ته متوجه کړي دي .

ښاغلي رفیع هم په شاعرانه ژبه باندي د ساینسي علومو د اصطلاحاتو له پاره د نومونو ټاکل لازم ګڼلي دي. دی لیکي: " د ساینس او تخنیک له پرمختګ سره د نړۍ په وړاندي تللو هیوادو کي هره ورځ نوی ـ نوی ساینسی زېږېدنی کیږی او په هره زیږیدنه د همهغه هیواد د ژبی یو نوم اینښودل کیږی او بیا د علم نوی پیغله له خپل نامه سره بل هیواد ته ودیږی او هلته میشتیږی. که وروسته پاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادو ژبې پټه خوله پاتې شي او په دې نوې ناوې نوم کېنږدې نو ددې ناویانو سلسله خواوږده ده او کله چې ددې هیواد خلک سترګې غړوي ګوري به چې د دوي د ژبې ټول انګړ به د پرمختللیو هیوادو نوراغلیو ساینسي ، تخنیکي او نوومنځ ته راغلو ناویو نیولی وي او اصلي ژبې ته به یوازي چوکاټ او چاردیوالي ورپاتې وي.... ٌ(۲ (

دښاغلي رفیع له بیانه هم دا خبره واضح څرګندیږي چې ساینسي او تخنیکيٌ ناویانوٌ ته باید نومونه کښېښوول سي.

او د پوهاند دوکتور زیارصاحب هغه نظر به بیاراوړم ، چې وړاندې مې هم را نقل کړی و . دی لیکي:

ٌنوي جوړونه باید په علمي ، تخنیکي ، مدني ، اداري او داسي نورو مفاهیمو پوري تړلي وي چې زموږ فکري او کلتوري زیږنده نه وي ، لکه ژبپوهنه ( لینګویستیک ) ، ټولنپوهنه(سوسیولوجي ) ، پوهنتون (یونیورستي ) ،ځارندوي (سکوټ او پولیس ) ،توغندي دراکټ او وړکتون د کودکستان لپاره .مګرکه سوکړک یاسوړسک ته د جوارو ډوډۍ نوم وټاکو ، یوه بې ځایه ټاکنه به وي.ٌ (۳ )بل ځای وايي چې ساده وییونه په مصنوعي توګه جوړول غیراصولي کاردئ.(۴(

خو په عمل کي چې ګورو خبره بالکل له جلوه وتلې ده . حتی دکتاب ، قلم ، دېوان ، شعر ، شاعر او په سوونورو په ژبه کي دود سوي لغتونه لګیادي ، نومونه جوړیږي. د پنسل له پاره یې د ښېنتومرکي (وچکښي ، وچکښ ) بیرته ژوندی کړ. په ژبه کي رنځوراو ناروغ سته او عام دئ خو دوی (رنځمن ) ورته راوایست، سرابښ ( دحریص په معنا ) په لهجوکي پروت دئ خودوی(اسویلاند ) ورته اختراع کړ، په ژبه کي تلاښ سته او عام دئ خودوی ورته (ډډون ) جوړکړ، په ژبه کي طبیعت د دخیل لغت په توګه دوولس پېړۍ ژوند کړی دئ خودوی ورته (پنځون ) وموند ، په ژبه کي بلبل له زروکلوراهیسي سندري وايي خـودوی ورته ( ډانګ لکۍ ) پیداکړ او څه موده وروسته یې بیاهمدغه ډانګ لکۍ د (ډاینازاروس ) له پاروټاکه (۵ ). نه پوهېږم چې د بلبل او دغه ماقبل التاریخ حیوان ترمنځ کوم ورته والی سته ؟ په ژبه کي ښکلي ، ښایسته سته خونه پوهېږم دوی ورته (ښاو )له کومه کړ، په ژبه کي نیاو دعدل او انصاف په معنا رواج موندلی دئ خودوی ورته (سماو ) راوایست ، په ژبه کي خېټو ، خېټورسته خودوی ورته( شنازګېډی ) تولیدکړ، په ژبه کي پاسپورټ سته او عام دئ خودوی ورته (لارلیک ) وزېږاوه ، په ژبه کي (کرښپل ) سته خودوی ورته (پښه خاپونه ، پښوخاپونه ) وضع کړ (۲ ) ، (غونې ) په ژبه کي ژوندی لغت دئ خودوی ورته (بنګن ) راوایست (۷ ) ، (کتابتون )جوړسوی دئ خو دوهم واروړته (کتاب خونه ) جوړسوا وهغه هم دپاړسۍ ټکي په ټکي ترجمه (۸ ) ، (بدلون )پخوا جوړسوی و ،نو(ونجون ) ته څه اړتیاوه ؟، د(بېکسۍ ) پرځای ټکي په ټکي ترجمې (بېځوکتیا ) ته څه ضرورت و ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو ډېروبې خوندو او پېټخو ترجمه سوو لغاتو ته خوزه بیخي حیران پاته یم ، چي د دې ضرورت څه و . لکه ( او سپنکښ ) د ( آهن ربا ) له پاره ، ( کوډلوبی ) د ( جادوګر ) ، ( کوډګر ) له پاره ، ( ړنده مږه ) د ( کورموش ) له پاره ، ( پلغټې ) د ( چابک ) له پاره (۹) . د دې وروستي لغت له پاره خو په ژبه کي ( چټک ) لغت سته ، نه پوهېږم چي هغه ته یې ولي چته اوښتي ده . موږ د ړغ دبلي او شرنګ سوتي له پېغوره لاخلاص سوي نه یو چي دابل سرباری هم پرولوېدا و دا ارد معیار په نامه !

پوهاند دوکتور زیار صاحب وایي چي "نړیوېزونه یانړیوال وییونه ( انټرنېشنلزمونه ) لکه راډیو ، تلویزیون ، تیلګراف یاتېلګرام ، تېلي فوتو ، تیلي ټایپ ، تېلېفون ، اکسرې یالایزر ( وړانګې ) کمپیوټر ، ډاکټر ، اکسیجن ، هایدروجن ، نایتروجن ، الکترون ، نایترون ، پوزیترون ... یا ځانګړي جغرافیایي نومونه اویا په زرګونو کېمیاوي او درملي نومونه ... د نړۍ په زیاترو علمي ژبو کې له یوڅه جولیز ( شکلي ) اډاپټېشن ( راخپلوني ) سره یوراز دودلري ، په نیولو جیزم کې راګډول بیاهم د پیوریزم په مانا اخیستل کېږي ..." (۱۰) یعني نوي لغاتو نه ورته مه جوړوئ . خوترد غه سپارښتني دوې کرښي وروسته بیا وایي چي که څه هم په عربي ، تورکي ، پارسی ، هندي کي نن سباډېر انټرنېشنلېزمونه راژباړل شوي دي یعني که موچم ورته جوړسو ، ژباړئ یې . داچي تراوسه دغو نړیوالونومونوته نوي کلمات جوړسوي نه دي ، دچاخبره په چم یې نه پوهېږي چي څرنګه لاروړته ومومي . دمثال په توګه اکسیجن ته به څه رازنوم جوړ کړي ؟ پارسي ژبي وایي "ترک عادت موجب مرض است" په ژبه کي او بتل سته او عام سوی دئ خوددوی زړه په سوړسوی نه دئ او ( اوبهوب ) یې هم ورته جوړکړ ، په ژبه ، ادب او فولکلورکي زرګرسته خودوی ورته ( زرپښ ) وزېږاوه ، په ژبه کي ترینګلی د ( عبوس ، پیشانی ترش ) له پاره سته او قاموسو هم اخیستی دئ خودوی ورته ( اریړه اوربوز ) وزېږاوه . یوځای وایو چي بین المللي تخنیکي نومونه به پرخپل حال پرېږدو خوبیرته خپله خبره اخلواو تیلفون ته ( غږون ) ، تلویزیون ته ( لروینون ) او تیلګراف ته ( لرلیکون ) پېشنهادوو (۱۱) .

د مروجو لغاتو د وژلو په کارکي هم سیالي ښه په زور روانه ده . د پېړیو پېړیو مروج لغات د معیار په فتوا له رواجه لوېږي . ما په یوه بله لیکنه کي د دغو لغاتو یوه ډېره کوچنوتې برخه داسي بیان کړې ده : "زما د مشاهدې له مخي موږ په تېرو دوو درولسیزوکي ( بهای ) او ( موړ ) لغات په ( شتمن ) باندي تري تم کړل ، ( یرغل ) موپه ( برید ) له منځه یووړ ، ( ایلچي ) موپه ( استازي ) ورک کړ ، ( جنګ ) موپه ( جګړه ) وواهه ، ( وطن ) موپه ( هیواد ) نېستي کړ ، ( غولی ) موپه ( انګړ ) پایمال کړ ، ( تاداو ) موپه ( بنسټ ) له بېخه وکیښ ، ( ربړه ) موپه ( ستونزه ) پسي واخیستله ، ( لیکه ) موپه ( کرښه ) پاکه کړه ، ( کوچنیواله ) موپه ( ورکتوب ) ووژله ، ( جنګیالی ) موپه ( جګړه مار ) ښخ کړ ، ( اخته ) ( بوخت ) او ( مشغول ) مو په ( لګیا ) الیش کړل ، ( تلاښ ) موپه ( هڅه ) نفی کړ ، ( کړنه ) موپه ( غندنه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



محوه کړه ، (نجلۍ ) مو په (جنۍ ) ترپښولاندي کړه ،( کرار) مو په ( ورو ) وخوړ، (په) مود(پر ) په فتوا مسخه کړ اولالګیایو د مسخه کولو او محوه کولو دا بهیرپسي پالو او په ځان نه پوهېږو چي دخپلي ژبي لغوي زېرمه مو د چونګښو د هغه منګوټي په شان ګرزولې ده چي ( یوه وراچوو ، دوې بیرته ځني غورځي )ٌ. دالیست که پسي راواخلم ، خبره بل کتاب ته رسیږي.زه پوښتنه کوم چي تصفیه اوسوچه توب (purism )لګی لري ، ښکرلري ، څه لري ؟ دغه جریان چي اوس روان دئ ، تاسي چي هرڅه نوم پرایږدئ ،خوداکټ مټ اوپه مطلق ډول تصفیه ده . او تر ټولو بیاد خواشینۍ خبره داده چي که چاپه لیکنه کي دغه جریان تعقیب نه کړ ، لیکنه یې ناکره ، لهجوي ، سیمه ییزه او نوراونوربلله کیږي .

زیارصاحب هم وایي چي هرڅوک باید لغات جوړنه کړي. ډاکټرپالوال هم دغه کارپه صلاحیت پوري تړي زماچیغي هم دهمدې بابته دي چي اوس په دې ژبني سرطان(cancer ) هرڅوک اخته دي دصلاحیت والاو جوړوني اودبې صلاحیتو داسره ببلېږي نه. دنیولوګیزم دنده که افرادو ته پاته سوه ، که صلاحیت والاوه ، که بې صلاحیته ، خبره انارشیزم ته رسیږي اورسېدلې هم ده .

څه موده وړاندي مي په یوه مجله کي دیوه متوفی مشرحقدارله خولې داسي ولوستل چي که دوزیرصاحب محمدګل خان وس رسېدلی دټول افغانستان دخلکونومونه یې هم پښتو کول (۱۲) دلیکني له خونداو شخوند څخه څوک پوهېدلای سوای چي دژبي دتصفیې اشتهالا تر اوسه هم ښه پوره موجوده ده اوهمداذهنیت اوس هم دالفاظوترپردې لاندي دکره لیکنۍ پښتوپه نامه پالل کیږي. په دغه شان روحیه باندي یوې ژبي ته انکشاف ورکول دیوویشتمي پېړۍ له انکشافاتوسره جدي تناقض لري ځکه په دغه پېړۍ کي دنړۍ ژبي تربل هر وخت زیاتي یوه په بله ننوتلي دي.

موږته زیاتره ویل کیږي چي دنړیوالوعلمي اوفني اوسیاسي ټرمینالوجۍ سیلاب ته که لاس ترزنه کښېنو ، ژبه راڅخه لاندي کوي. داحقیقت زه هم منم. خودنوولغاتواوپه ژبه کي داخښل سوواو مروجو لغتوبرید باید وټاکل سي.که دا کارونه سي ، نوچي بیاپردیارلس لیکي (۱۳)لاس راسره کښېږدئ ، بیا هم ددغي اوسنۍ چاري نوم ترتصفیې په هاخوابل څه نه سي کېدلای اوله دې منحرف جریان سره به دمخالفت آوازدسور تر شپېلۍ پوري روان وي. که هرڅومره ددې اوسنۍ ژبنۍ بخولي مخالفین ځانساتي، لنډاندي، مرتجعین وبلل سي اوحتی ښکنځل (کنځاوي ) ورته وسي بیابه هم هغوی دګالیله په شان پر مځکه باندي د توبې ایستلوپروخت لاهم وو ایي چي په دغه ژبه د افهام او تفهیم عملیه سرته نسي رسېدلای. له دغه راز نشراتو څخه لوستونکي سمه استفاده نسي کولای . دا پښتو پسې عامېږي او خلک ځني خوا توري کیږي. ددې چاره په کارده اوهمدا نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په کار ده. د پېرياڼانو دې ژبې په پښتنو کې درزونه واچول ، ددې کار له پاره فکر کول په کار دي ، دا درزپرا خېږي او چاره يې په دې نه کېږي چي وو ايو :
"کاروان به تيرېږي او سپي به غپيږي" (۱۴) . د پښتو ژوند د پښتانه له ژوند سره تړلی دئ ، نه له نيولوګيزمونو سره . که خدای مه کړه پښتون مړسو ، پښتو او نيولوګيزمونه دواړه ورسره مري . په نيولوګيزمونو باندي د پښتو ژوند نه راګرزي . ديوې شېبې له پاره يې فرض کړئ چي په پښتو ژبه کي يو لغت لاهم پردی نسته مګر که پښتون همدا سي شپون او عسکروي او روزي يې د شپنيتوب او ځان وژني له لاري مقرره وي ، دغه خالصه ژبه به يې کوم درد ور دوا کړي ؟ ښاغلی پوهاند حسن کاکړ د خپلو تاريخي څېړنو په پای کي دې نتيجې ته رسېدلی دئ ، چي: "پښتو چي بيرته پاتی ده او علمی شوی نده د ژبی د څنګه والی له امله نده ، بيرته پاتی توب يی د پښتنو له لاسه دی . د دوی بيرته پاتی توب د پښتو بيرته پاتی توب شوی دی" (۱۵) نو پر پښتو او پښتنو بايد زړه وسوځل سي . د شهرت ، د نامه ، د عقدو له پاره بايد ژبه قرباني نه سي . دغه اند ښښني دي، چي په ما يې دا کتابګوتی وکيښې .
او س په ځينو ليکنو او مرکو کي د نيو لوګيز مونو پر ٪ ۲۵ باندي ټينګار کيږي . زه تاسي ټولو درنو لوستونکو ته واک درکوم چي که مو هر وخت دغه فيصدي په عمل کي تطبيق و موندله ، زما دا کتاب په هماغه ورځ په اور کي وسوځئ چي نوريې څوک ونه لولي . ځکه زما ارمان به ختلی وي او نور به د پښتو ژبې له بابته د اند ښښنو ځای را ته پاته نه وي .
د کره ليکنی پښتو له نني بهېر څخه دا سي نخښې او نښانې ليدلي کېږي چي دا خو ځښت په نهايت کي په يوې لهجې باندي د نورو د نفی کولو له پاره دئ . زه به ډېر خوښ سم چي که د پښتو يوه لهجه د ژبني انکشاف هغه حالت ته ورسېږي چي ټول پښتانه يې هم وليکي او هم يې وو ايي . دا که زما لهجه وي، که د بل ،که د ها بل، ما ته مهمه نه ده . مګر دا کار د پېړيو دئ او بايد په طبيعي توګه لکه په فارسي او نورو ژبو کي چي را غلی دئ ، عملي سي . نه دا و سنيو ژبنيو ماجرا جوييو له لاري.

)۱ (ژبپالنه ــ ۲۴، ۲۳ مخونه د مقالات محمود طرزی د ۷۷۴ مخ او سراج الاخبار په حواله
)۲ (ژبپالنه ــ ۷۵ مخ
)۳ (ويي پوهنه ــ ۲۵، ۲۴ مخونه . نقل قول کټ مټ را نقل سو
)۴ (پښتو ـ پښتانه ۳۱۲ مخ
)۵ (زيار ـ د پښتو ژبې دودې اړتيا او لارې چارې ــ ۹۷ مخ
)۶ (زيار ، پښتو پښتانه ۲۰۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۷ (ويي پوهنه ۱۲۱مخ
)۸ (ويي پوهنه ۴مخ
)۹ (وګ: ويي پوهنه ۲۸۸ـ۲۹۰ مخونه
)۱۰ (د پښتو ژبې دودې لارې او چارې ـ ۹۹مخ
)۱۱ (ويي پوهنه ـ ۲۰ مخ
)۱۲ (ورځ مجله ـ شپږم کال ، ۳ـ۴ګڼه ـ ۱۰مخ ۱۳۸۴ ش
)۱۳ (په کندهارکي د ديارلس ليکي اصطلاح د قرآن عظيم له پاره کاريږي. په نورو سيمو کي به هم
رواج لري .
)۱۴ (وګ: استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری ـ ۱۵۵مخ ـ ۱۳۷۲ ش
)۱۵ (آئينۀ افغانستان مجله ـ ۱۰۴ مسلسله ګڼه ـ ۵۴مخ ـ ميزان ۱۳۵۸ ، اکتوبر ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتونیولوګیزم ژبنۍ اړتیاده که سیاسي تقلید؟

په یوه ژبه کي چي د نړیوالو پرمختیاوو او ساینسي و تخنیکي انکشافاتو او اختراعاتو له اسیته دنوو لغاتو د جوړوني اړتیا منځ ته راسي او دې کار ته نیوکلوبیزمونه استخدام سي ،معنا یې داده چي دا ژبه او س هغو حوادثو ته ځان تیاروي چي "پر نورو تېرسوې او پردې اوس راغلي دینه" ددې پرځنګ هره ژبه چي د خپل انکشاف په بهیر کي داسي ځای ته ورسېږي چي نور نوو رته دنیولوګیزمونو اړتیا محسوسه سي ،معنا یې داده چي دې ژبې د انکشاف نور پړاوونه وهلي دي او ویونکي یې هم د فرهنګي سطح په یوه داسي مرحله کي واقع دي چي نورټول کارونه سرته رسېدلي دي ، اوس نو د ژبې د سره کېدو وار رسېدلی دئ. په دغه وخت کي که د معیاریت او کره ژبې خبره رامنځ ته سي ، څرنګه چي له حالاتو سره موافق شعار دئ ، نه به پرچا بد ولګېږي او نه به مخالفت ورسره وکړي. خو که د معیاریت هڅه د سیاسي سیالیو زېږنده وي ، دا نو د ژبنۍ اړتیاله مخي نه بلکي د نورو انګېزو پر بنا رامنځ ته سوی تلاښ دئ او هغه خوک چي نه غواړي په دغه انګېزو باندي خپله ژبه ولړي ، یا دغه سیاسي سیالۍ ورته د سیاست د مداریانو سرکسونه ثابت سوي وي ، نو طبیعي ده چي لومړی خوله دې لوبي سره څوښي نه غورځوي او که ډېره درنه پرتمامه سوه نو بیا په مخالفت کي د رېږي .

ماچي به د پښتو ژبې د کره توب له پاره د هڅو تاریخي سوابق او او سنۍ هڅې له ځانه سره څېړلې ، نو د چا خبره شپېږم حس به راته ویل چي په دې هلو ځلو کي تر ژبنۍ اړتیا نور مسایل ډېر دخیل دي. ددې نورو مسایلو پر یوه برخه باندي زه د (سوچه توب ) په بحث کي رږغېدلی یم. پوهاند زیار صاحب اوس پخپله یوه مرکه کي زما پر دغه ګومان باندي د یقین ټاپه ووهله چي زموږ نوي جوړوني له پارسي سره د سیالۍ او د هغې په تقلید راپیل سوي دي. دی وایي: "پارسي چي زموږ ورسره یوه رغنده سیالي روانه ده ، هیڅوک په نظر کي نه نیسي ، که پارسیوان زموږ سره منفي سیالي کوي ، موږ ور سره رغنده سیالي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو د پارسي پخواني او اوسنی متن وګورئ چي هرڅومره یې پارسي قوي وي ، تاسو به وو ینئ چي څومره مخته تللې ده ، په پارسي کي څومره نوي ټکي راغلي دي ؟ نو دا نیو که یوازي پرپښتو ده ؟"(۱) ماته د حیرانۍ ځای دا دئ چي استاد له ټول ژبني اکاډمیت سره څرنګه د دغي سیاسي لوبي په دام کي کښېوتلی دئ او نورو ته یې لا توصیه هم کوي. د دغي سیالۍ د سالمیت ذمه څوک ترپایه پوري وهلای سي. څرنګه امکان لري چي پارسیوان دي د دوی په وینا ، منفي سیالۍ کوي او پښتون دي بیا ورسره سالمه سیالي وکړي. دا سیالي له لویه سره پر منفي تمایلاتو را پیل سوې ده او یوه کرغېړنه لوبه ده چي د وخت غیر ملي حکومتو پښتون او پارسیوان دواړه پکښې ښت کړي . دي

زما په فکر خو هره ژبه د انکشاف او پرمختګ په لار کي خپل موقعیتونه او خپلي درجې لري. د نورو ژبو په پرتله یې د انکشاف سرعت هم توپیر لري ، ژبنۍ اړتیاوي یې هم ځله بیلي وي. پښتو له بده مرغه او س لا هم د خوشحال خان خټک خبره" بکره پرته ده". د دغه واقعیت په لیدلو ، کتلو او منلو باندي باید هیڅ پښتون نه د حقارت احساس وکړي او نه هم د خپلي ژبي د نیمګړتیا. دا روا نښاد نو میالي خبره" پښتو د ژبي په حیث نه ترچاپاته ده او نه ترچا زیاته ده."(۲) لکه په انسانانو کي چي زوړ او ووړ سته ، په ژبو کي هم سته. د سیالۍ په وجه په ژبه کي بدلونونه راوستل ترګټه تاوان ډېر پېښوي. دا سیالي هغه ناوړه دود و دستور ته ورته ده لکه ځیني کسان چي له خپلو ترېرو سره د سیالۍ په انګېزه خپل نابالغ زوی ته واده وروکړي او د خپل ماشوم زوی ژوند له خوراډېرو دنګلو سره مخامخ کړي. وایي" شرمښکۍ له ماره سره غزېده ، پرمنځ دوه ځایه سوه". دا راز سیالۍ ته ځوان مغزونه د خپل طبیعي جوش وخروش او احساساتي جذبو له امله خورا زیات آماده دي او ډېر ژر په دغه راز دامونو کي لوېږي. د سرې سینې درلوونکي مسن پوهان هیڅکله . باید ځوانان دغه راز بازاري لوبو ته تشویق نه کړي

پارسي ژبه په دې پرمخ نه ده تللې چي نوي لغاتونه یې جوړ کړي دي. پارسي په دې وړاندي ده چي دضرورت ژبه ده ، د دربارژبه وه او ده ، د علم ژبه ده ، ویونکي یې پخپله د تعلیم او سیاست پرمیدان تر پښتنو وړاندي دي. پېړۍ پېړۍ ورته دهند ، ایران ، ماوراء النهر او افغانستان پاچهانو او درباروکارکړی دئ. دې ژبي چي نیولوګیزم ته مخه لا کړې نه وه ، هم پرمختللې ژبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترعربي ژبي وروسته د منطقي د علم، د سياست ، د ادب او تجارت ژبه وه . د پارسي د پرمختګ دلايل بايد د هغې په ويونکو کي ولټول سي نه په لغاتو کي. له بلي خوا د پارسي ژبي خپل پوهان بيا په دې عقيده دي چي د دې ژبي د بريالیتوب يو علت دا دئ چي د ډېرو ژبو لغات يې پخپل ځان کي هضم کړي دي او د ژبي دروازه يې د نورو ژبو پر مخ تړلې نه ده . اروا ښاد پوهاند دوکتور عبد الاحمد جاويد په دې برخه کي وايي چي په فارسي ژبه کي د دخيلو کلماتو د ښوونې له پاره به تاسي صبحانه (سباناري) ته دعوت کړم. ميز پرتګالی کلمه ده (۳)، چاينک چينايي ، قاشق تورکي ، صندلی عربي ، نعلبکی عربي ده . او په پای کي په ظريفه لهجه وايي "ما مي مانيم ونان خشک". مراد يې دا دئ چي يوازي (نان) فارسي کلمه ده نور يې ټولي دخيلي دي او له نورو ژبو څخه اخيستل سوي دي. (۴) اروا ښاد دې کلماتو ته په کرکه نه ګوري بلکي داد پارسي ژبي په کمالونو کي راوړي چي څرنګه يې د نورو ژبو لغات پخپل ځان کي حل کړي او خپلي ژبي ته يې د افادې وسايل پر بمانه کړي دي.زموږ پوهان بيا تر او بود مخه ګاولي کاږي او وايي ، موږ لغتونه ځکه جوړوو ، چي "که سبا د دهقان لمسی او کړوسی تعليم کوي د هغه لپاره (به) اسانه وي". ته د بزګرزوی ته د تعليم زمينه برابره کړه ، بيا د پښتو تعليم زمينه ورته مساعده کړه ، ژبه يې خير دئ سو چه دي نه وي ؟ د سبا د بزګر د زوی غم به خورو خپل او سني زامن موله خپلي ژبي څخه خوا توري کړل. موريې چي کومه ژبه ورزده کړې ده او ده ته ترهرڅه ګرانه ده ، هغه اوس په کتاب کي نسي موندلای. د کتاب ژبه ده ته د يوې خارجي ژبي د زده کولو په شان ستونزي لري. طبيعي ده چي وخت تر دې په بلي قوي ژبي (انګرېزي ، اردو ، فارسي او نورو ) مصرفوي ځکه په هغه ژبو يې هم اړتيا رفع کېږي او هم يې په زده کړه کي تر دغي نوي پښتو مشکلات لږ دي. له يو چا سره مي په دې برخه کي بحث کاوه ، را ته وې ويل: ژبه متخصصينو ته پرېږده ، چي هغه يې سمباله کړي. په جواب کي مي ورته وويل: ماخو په هغو نامرادو باندي ډېري هديرې ډکي ليدلي دي ،چي د متخصصو ډاکټرانو . په نسخو يې زني ورتړلي سوي وې. د متخصص سهوه د مرګي ګولۍ ده او بس

ښکلا مجله ــ ۴ کال، ۳ ګڼه ۵۱ مخ (۱)

د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي ــ ۱۰۹ مخ (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



. دده په نظر په فارسي کي ( میز ) د مېلمه په معنا دئ او په مثال کي یې ( میزبان ) راوړی دئ (۳)

که زما حافظې غلطي نه وي کړې ،دا مقاله په امید جریده کي نشر سوې وه. ما یې یادونه په یوه (۴)
. بله مقاله کي پخوا هم کړې وه او تاسي به یې په ضمیمه کي ولولئ. له تکراره یې بخښنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظري معیار عملي ګډوډي

په کارده. اتاریتې دوې خواوې لري (authority) ژبپوهان وایي دژبني معیارتیاکلوله پاره اتاریتې . یوه یې دعلم اوصلاحیت خواده چي په ژبپوهانواړه لري او بله یې اجرائیوي اړخ دئ، چي په دولت یا اکاډمیکو ټولنواړه لري. ژبپوهان علمي اړخ څېړي اودولت یانور اکاډمیک سازمانونه یې . دترویج له پاره قانونیت ورتسجیلوي

د پښتوپه معیاریت کي ددې دواړوخواووخلا محسوس ده. د صلاحیت په برخه کي پوهاندزیارصاحب هیڅاته غاړه نه ده ایښې. نه الهام ته ، نه تړې ته، نه پالوال ته ، نه شپون ته ، نه ستوروته ، نه پښتو ټولني او اکاډیمۍ ته. اروابناد الهام ورڅخه دوستانه ګیله کوي او لیکي چي ٌ ... که څه هم زیارموږدتړې په شمول دتاریخي ـ مقایسي ژبپوهني متخصصان نه ګڼي او ښایي چې رښتیا به وایي ٌ (۱). ګویا د معیارپه برخه کي یوازي ددوی خپل نظر معیاري دئ. اوداجرائیوي صلاحیت خلا خوپه دغوکلونوچي کي دا خوځښت راپیل سوی دئ ، په ټوله معنابیخي محسوسه ده. خلا خو پر لو لار پربېږدئ ، په دغوتېرو دېرشو کلونو کي خودخلقي او پرچمي دولتو په شمول (ټول دولتي نظام د پښتواوپښتنو پر ضدولاړو . (۲

ددغه شان دوګانه خلاووپه موجودیت کي دیوه خوځښت قانونیت او اغېزمنتوب پخپله تر پوښتني لاندي راځي. اودهمدې عامل نتیجه ده چي دغه خوځښت تردوو دروملاتړلو پلویانوزیات نورونه . موندل

داچي اوس دنوولغاتوپه اعتیاداخته کسان دخوځښت په پلویانو کي شمېرل کېږي اوبیادهغوله مخي داحرکت دبري لوړپوړته رسېدلی ګڼل کیږي ، یوه ذهني نتیجه ګیري ده چي د استنادپایه یې پرواقعیتونو ولاړه نه ده. حقیقت دادئ چي ددغه خوځښت له امله یوه نوې ژبه یا لهجه دتکوین په حال کي ده.تاسي دالاندي ګډوډیوته ځیرسئ چي دیوه خوځښت تردېرش کلن فعالیت اوبري ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترر سېدو وروسته ! په هغو نشراتو کي موجودي دي ، چي د کره لیکني له بهیر سره په یوه یا بل دلیل ځان تړلی ګڼي .

پښتو او پښتانه ته د الهام سریزه ـ پنځم مخ (۱)

زیار صاحب په هغه خصمانه چلند ډېر ښه خبر دئ چي زموږ سره د باختر آژانس د پښتو خبرونو په (۲) ریاست کي د دولتي مقاماتو له خوا کېدئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د(په) او(پر) ګډوډي

د پښتو په ځینو لهجو کي سره ګډیږي او یو دبل پرځای یې په (prepositions) دغه دوه سربلونه نا سمه توګه کاروي. په دغو لهجو کي ( په پښتو لیکل ) او (پرپښتو لیکل ) نسي سره بېلید لای. په داسي حال کي چي دا دوې خبرې جلا جلا معناوي لري. په (پښتو لیکل ) معنا دلیکني ژبه پښتو ده او (پرپښتو لیکل ) معنا دلیکني موضوع پښتو ده. د پوهاند زیارصاحب په عقیده "له کندهارې او تاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره ګړدودونه (په ) او (پر ) سره ګډوي" (۱)له تاریخي ادبي پښتو څخه یې مراد د کلاسیکو شاعرانو پښتو ده .حقیقت هم دا دئ چي په کندهاري ګړدود کي د دغو دوو سربلونو استعمال دیوه نالوستي شخص څخه هم نه غلط کېږي. دوی (په خره سپور ) (هیڅکله هم نه وایي. په داسي حال کي د(په ) دغه شان استعمال په نورو لهجو کي عام دئ. (۲

پوهاند زیارصاحب په ویې پوهنه کي د دغو سربلونو د سم استعمال ټول موارد راوړي دي چي په یوه برخه کي زه د داسي یوه پښتانه په توګه چي د پوهاند دوکتورزیارصاحب د څېړني په تایید مي د دغو سربلونو سم استعمال د مورله غېږې څخه زده کړی دئ ، موافق نه یم او هغه ( پلانی پرکوم کال مړدئ ) ،په دې برخه کي باید ( په کوم کال کي مړدئ ) کره شکل وي ځکه زما د څېړني له سره (on)او (in) مخې په دغه مشخصه برخه کي د کندهاري ګړدود استعمال د انګرېزي ژبې له . ناسم(on 2006) کره دئ او (in 2006) خوله په خوله برابردئ. په انګرېزي ژبه کي هم

اروابناد علامه رشاد(رح ) په دې برخه کي د ګوربت مجلې د لومړي کال په شپږمه ګڼه ، ۲۳مخ کي داسي څرګندوني کړي دي: "د(په ) او ( پر ) ترمنځ توپیر سته. (پر ) د استعلاتوری دی ، پرمېزباندي ، پرچوکۍ باندي کښېناست ، پرمېزېې کتاب کښېښود(۳ ) ، پرمایې پورباندي دی او داسي نورد(پر ) په کلمه باندي راځي او(په ) د ظرفیت او آلیت لپاره راځي(۴ ). مثلا په لښته یې وواهه. دلته (په ) د آلیت دنده اجراکوي. په کورکي دی ، په مکتب کي دی ، دلته د ظرفیت مانا ورکوي." اوکله چي مرکه چي د( په کال ) او ( پرکال ) په برخه کي توضیحات ځني غوښتي دي ، نو علامه مرحوم ورته داسي جواب ورکړی دئ: "... که (کي ) ور سره راسي باید (په ) وکارول سي ولي هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظرف زمان مفهوم ورکول کېږي. ظرف پر دوه ډوله دی ، يو د زمان ظرف دی او بل د مکان ظرف. په کورکي ، په مکتب کي دا ظرف مکان دی. په پسرلي کي دا سي کېږي ، هغه وخت هغه د زمان ظرف دی، په کال کي دا سي کېږي يا دا سي وسول، دا ظرف مکان دی نو هلته د ظرف مکان لپاره تر(پر) ، (په ) غوره ښکاري او دا استعلا لپاره بيا تر (په) ، (پر) صحيح دی.ٌ

د(په) او (پر) د استعمال له پاره ترسمي لاربنووني وروسته ځينو ليکوالو د يوه غلط فارمول پيروي پيل کړه او هغه دا چي که په دغو سربلو نوپسي وروسته د( کي ، سره ) کارېدئ ، بايد(په) وليکل سي او کنه نو(پر) سم دئ. ددې فارمول (postposition)او ستربل حالت کي راځي او هورې او ستربل نه (instrumental غلطي په دې کي ده چي (په) کله کله په(آلي- ورسره ملګری کېږي. لکه(په لښته يې وواهه) . ددغه غلط فارمول پالونکي په دا تېرمثال کي هم (پر) ځکه استعمالوي چي وايي وروسته او ستربل نه دئ راغلئ. نويې (پرلښته يې وواهه) وليکي . د( په لښته يې وواهه) او (پرلښته يې وواهه) جملې د معناله مخي له مځکي تر اسمانه پوري توپيرسره لري. (په لښته يې وواهه) معنا د وهلو وسيله يې (لښته ) وه ، لرګی يا توره يا بل څه نه وه. (پرلښته يې وواهه) معنا د وهلو انګېزه يې لښته وه. ښايي وهلی يې په سوکانو ، په لغتو يا په لرګي . (وي خوجنجال يې پرلښته سره پېښ سو(۵

ددغه نا سم استعمال ليکوال د( شينيت ) له معافيت څخه په ګټه اخيستنه باندي د خپل ځان ليکنه معياري ګڼي او د نورو پر سمو مشورو غوږنه نيسي. په نتيجه کي يې د معيارترپردې لاندي يوه لويه ګډوډي رامنځ ته کړې ده او د ښاغلي منلي خبره د معيارمحتسبانو هم غوږونه کاڼه اچولي دي. دې : مثالو ته ځيرسئ چي له (ورځ مجلې ۶کال ، ۳ـ۴ ګڼې )څخه اخيستل سوي دي

( ناسم ـٌ دالله دلوی او عظيم ذات پرامر دنړۍ ټول مسلمانان دعبوديت...ٌ (۱مخ

.... سم ـ دالله دلوی او عظيم ذات په امر دنړۍ ټول مسلمانان دعبوديت

( ناسم ـٌ دهمدغه کال د شعبان په ۲۳ د پنجشنبې پرورځ ....ٌ(هماغه مخ

سم ـ دهمدغه کال د شعبان پر ۲۳ د پنجشنبې په ورځ....ٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ناسم ـ ٌ پرپښتني درنښت ـ اداره ٌ (۲مخ

. سم ـ په پښتني درنښت ـ اداره

( ناسم ـ ٌ محمدگل خان مومند بابادا خلاقو او شخصيت پرلحاظ د سپېڅلي کرکتر .... ٌ (۹مخ

..... سم ـ محمدگل خان مومند بابادا خلاقو او شخصيت په لحاظ د سپېڅلي کرکتر

(ناسم ـ ٌ سردارعلي احمدجان ... کابل ته واستول شو او پرتوپ وويشتل شو ٌ (۱۰مخ

سم ـ سردارعلي احمدجان ... کابل ته واستول شو او په توپ وويشتل شو . پرتوپ وويشتل شو معنادا چي پرتوپ يې ودراوه او په توپک يا بل څه يې وويشت. يا بله معنا يې دا سي کېداى سي چي د توپ پر سر باندي يې ترمنځ شخړه سوه ، په نتيجه يې د همدې شخړې له اسيته وويشت. خو په توپ وويشتل شو ، معنادا چي دوژني وسيله يې توپ و. د توپ مخي ته يې وتاړه او توپ ته .اورورکړ

(ـ ناسم ٌ دوزيرصاحب زيات ناچاپ آثاريې ځان سره د چاپ پرهيلې ساتلي وه ٌ.(۱۱مخ

. ـ سم ـ دوزيرصاحب زيات ناچاپ آثاريې له ځان سره د چاپ په هيله ساتلي وه

(ـ ناسم ـ ٌ ... د پخوا پرخبر ... ٌ ( ۹۲ مخ

سم ـ .... د پخوا په خبر

(ناسم ـ ٌ ... په عوامو کښې پر استاذ صاحب (رح ) مشهورو ، ٌ (۹۸مخ

.سم ـ ... په عوامو کښې په استاذ صاحب(رح ) مشهورو

پر استاذ مشهورو )معنادا چي تر استاذ زيات مشهور. خو(په استاذ مشهور ) ومعنادا چي دوهم نوم ) . يې استاذ و ، خلکو استاذ باله

(ناسم ـ ٌ ... پر امربالمعروف لاس پورې کړو .... ٌ (۹۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



....سم ــ په امربا المعروف لاس پوري کړو

(ناسم ـ ٌ په ګل اغا شېرزي ځان مرکي برید شوی ٌ ( تول افغان ویبپاڼه ـ ۳۱ ـ ۷ ـ ۲۰۰۲ ع

. سم ــ پر ګل اغا شېرزي ځان مرګي برید شوی

په ګل اغاشېرزي برید شوی معنا دا چي ګل اغا شېرزي پخپله په ځان پوري بمونه تړلي وه . او پر ګل . اغا شېرزي برید شوی معنا دا چي د برید هدف ګل اغا شېرزی و ، چي له منځه یې یوسي

( ناسم ــ ٌ د ۱۳۶۶ لمریز کال پر کب میاشت .... ٌ ( ښکلا مجله ۲ ګڼه ۴ کال ۵۸ مخ

سم ــ د ۱۳۶۶ لمریز کال د کب په میاشت کي .... ، یا د ۱۳۶۶ المریز کال په کب میاشت کي .... دلته . میاشت د زمان ظرف دئ

( ناسم ــ ٌ د خپل مطبوعاتي کار له پیله را پر د ېخوا .... ٌ ( هماغه مجله هماغه ګڼه ، ۵۹ مخ

.... سم ــ د خپل مطبوعاتي کار د پیل را په د ېخوا

( ناسم ــ د ۱۳۷۹ لمریز کال د تلې پر میاشت .... ٌ ( هماغه مجله ، هماغه ګڼه ، هماغه مخ

. سم ــ د ۱۳۷۹ لمریز کال د تلې په میاشت کي . دلته هم میاشت د زمان ظرف دئ ، نه استعلا

( ناسم : ٌ که بو میان پکې پر لږه کي (اقلیت ) واوړي ... ٌ ( پښتو ، پښتانه ۲۳۱ مخ

سم : که بو میان پکې په لږه کي (اقلیت ) باندي بدل شي . پر لږه کي

او ښتل معنا دا چي د بو میانو شمېر تر لږه کي زیاتیږي . او ښتل د زیاتېدلو معنا ورکوي . په ۲۳۲ مخ . کي بیا دا تېروتنه سمه سوې ده

( ناسم : ٌ ... د قلم پر ژبه ترموږ را رسولي دي . ٌ (پښتو تاج التواریخ ــ ج مخ

. سم : ... د قلم په ژبه ترموږ را رسولي دي

. حالت کي د (په ) استعمال صحیح دئ (instrumental) د قلم ژبه دلته آله ده . په آلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ناسم: ٌ قضاوت پرلوستونکیو اړه لريٌ (پورتني اثر ـ هـ مخ

. سم: قضاوت په لوستونکیو اړه لري

. په پارسي کي هم په د غسي جمله کي (به) تر (بر) سم دئ او د (به) پښتو معادل (په) دئ

( ناسم: ٌلس بارو ړونکي خره به مي تل پرغوجله ولاړوو ....ٌ ( هماغه اثر ـ ۱۱۹مخ

.... سم: لس بارو ړونکي خره به مي په غوجل کي ولاړ وو

خرپه غوجل کي ولاړوي نه پرغوجل. غوجل دلته مکاني ظرف دئ او په ظرفي حالت کي (پر) يې کره شکل دئ. ٌ پراوخورولاړ ويٌ لا اسعماليږي ځکه هلته in = استعمالول سم نه دي ، بلکي په . یورازاستعلايي حالت موجود دئ

( ناسم: ٌ... پرلاند نیوژبوخبري کولای شم او لیکونه يې هم لوستلای شمٌ (هماغه اثر ۳۱۷مخ

سم: په لاند نیوژبو خبري کولای شم او لیکونه يې هم لوستلای شم. پر ژبو خبري کولای سم یعني دنوموړو ژبو په باب معلومات ورکولای سم ، خو په ژبو خبري کولای سم معنا دا چي نوموړي ژبي مي . زده دي

ناسم: ٌکه چېرته د افغانستان دوګړو پا چاد هغوی هم دین نه وي او په هغوی حکومت کوي....ٌ ( ( هماغه اثر ۳۲۹مخ

. سم: که چیرته د افغانستان دوګړو پا چاد هغوی هم نه وي او پرهغوی حکومت کوي

په هغوی حکومت کول ) یعني د هغوی په واسطه حکومت کول او په دې صورت کي حکومت ) معنا د افغانستان خلک. خو (پرهغوی حکومت کول ) معنا دا میرله خوا د افغانستان . پرخلکو حکومت کیږي

ناسم: ٌ... د خو قند ښار ترنیولو وروسته يې هلته نوی ښارجوړول پیل کړل او پر(سیم) ښاریې و نوماوه (...ٌ ( هماغه اثر ۱۲۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



. سم : ... د خوقند ښار ترنيولو وروسته يې هلته نوی ښار جوړول پيل کړل او په (سيم ښار ) يې ونوماوه

د(په) او(پر) داتول ناسم استعمالونه له ناسمي لاربښووني څخه پيښن سوي دي. دليکونکي له پاره . فارمول د(کي ، سره ) سته والی اونه سته والی دئ اودې خبري پرناسمه لارروان کړی دئ

دامثالونه دومره ډېردي ،چي که ټول راوړم يوکتاب به ځني جوړسي. داوراني ټول دمعيارپه نامه ناکافي لاربښوونوپيښن کړی دئ که يې له خپلي لهجې سره سم ليکلی وای ، ښايي دومره زياتي وراني يې نه درلودلای. زه پرلهجه باندي اعتراض نه کوم. ماته پخپله لهجه کي هم ځيني ګرامري وراني رامعلومي دي.هروخت مې چي اړتيااحساس کړې ده ، بې پردې مي بيان کړي دي اودخپلي لهجې زلميوليکوالوته مي يې دسمولوسپارښتنه کړې ده. خودلته داوراني ناسمو لاربښوونو منځ ته راوړی دئ. دغه ځای دئ چي زه وايم معيارپه فيصلو او فرمانو نسي عملي کېدلای اوکه عملي سي بياداسي دنګلي هم لري. معيار بايد دښوونځي له تاداوه تدريس اووروښوول سي. داديوې ورځي ، يوې لسيزي اويوه کال کارنه دئ په تېره بيادافغانانوپه دا اوسنی پاشلې ورځ کي چي دپښتونشرات يې په سلوکي نوي ترخپل هيواد دباندي سرته رسېږي. دمعيارېږي له اروپاڅخه نسي پرلار برابرېدلای

. اومزله ته رسېدل يې هم نسلونه غواړي

ويي پوهنه ــ ۴۷ مخ (۱)

په دې برخه کي زمااودښاغلي استادصميم صاحب ترمنځ يوه دوستانه ادبي مناقشه يووخت (۲) راغلې وه. اروانښادعبدالجليل وجدي صاحب په دغه وخت کي په ټورنټوکي و. ماته به يې پخپل ټول صداقت سره ويل ، چي د(په) او(پر) په دغه مباحثه يې سرنه خلاصېږي. علت يې داوچي دده په محيط کي هم ددغو سربلونوناسم استعمال عام واوده خپله مورنۍ زده کړې قاعده نه سوای . هېرولای

. مرکه چي داستادپه ژبه کي تصرف کړی دئ اوداستادخبري يې په خپل زعم معياري کړي دي(۳)

. په ګوربت کي ( عاليت ) راغلی دئ چي دمرکه چي تېروتنه ده (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



. وګ: لېمه مجله ـ کال ـ ګڼه ـ مخ ـ د دې قلم لیکنه **(۵)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمجهولي (ې) لانجه

د ختيځي اولويديځي او جنوب لويديځي لهجې ترمنځ د مجهولي (ې) د استعمال په برخه کي ښه پوره محسوس او د پاملرني وړتوپيرونه سته. دې توپيروته پاملرنه نه کول او ترسرېې تېرول يا په يوه جرأتمندانه حکم سره ګام تر اړول او هيسته غورځول د پښتوژبې په ګټه کار نه دئ. په پښتو پښويه (د رېيم چاپ) کي راغلي دي چي سويل ـ لويديزه ګړدودي ډلهٔ د نورو (منځنيو، سوېل ـ ختيزو او شمال ختيزو) ګړدودي ډلو په وړاندي له تاريخي پلوه زيات رغاونيز لرغونوالی لرئ خوله دغي ارکاييکي ځانګړتياوو سره سره يې په کره ليکلارکي له پامه غورځولې ده (۱) دغه ځانګړتياوي يې چي بېله مثالو په ډېره مختصره توګه هيسته ودوري راوړي دي، د کتاب دوه مخه يې نيولي دي او پرزياته کړې يې ده چي کهٔ د کندهارۍ پښتو دغه پاسنۍ ځانتياوي يو مخيزه په پام کي ونيسؤ نو دغه د پښتو پښويه کتاب به دوه چنده غټ سي. دغو ځانتياوو يا ځانګړتياووته يې ٔ بېقاعده ګۍ ٔ ويلي دي. اوس نو که څوک په دې برخه کي نظر څرګند وي خو د لايسنس نه لرلو متروکه به پردا ککړۍ وخوري اوورته وبه ويل سي چي ته د ويلو حق نه لرې. مګرکه لږڅه د بيان آزادي موجوده وي نو ديو چاپه ذهن کي هرومرو دا پوښتنه پيدا کيږي چي د پښتو ديؤ ارتې بيرتې ګړدودي ډلې ٔ هغه ځانګړتياوي چي په يوازي سردنوروتولو ګړدودونو په پرتله ديوه بشپړ کتاب په اندازه حجم لري(۲) اوترنوروګړدودونوبې تاريخي لرغونوالی هم منل سوی دئ، د( بې قاعده ګيو) په نامه هيسته غورځول د علم لارده ؟ د انصاف لارده ؟ عملي لارده ؟ له تعصبه خالي لارده ؟ ديووالي لارده ؟ کره لارده ؟ کومه لارده ؟

د پښتو پښويه کتاب دلومړي چاپ (۱۳۶۲ش) او دريم چاپ (۱۳۸۴ش) په سريزو کي د محتوياتوله مخي خورازيات توپيرونه سته، چي ځيني دغه توپيرونه دلوستونکي په ذهن کي يو لړنوري پوښتني هم را پيدا کوي. د کندهاري ګړدود په اصطلاحٔ بې قاعده ګۍ ٔ چي ښاغلی مولف يې په آب وتاب بيانوي، دلومړي چاپ په سريزه کي نسته. له دې امله دلوستونکي په ذهن کي دا خبره ورګرزي چي آيا ښاغلي مولف ته د کتاب دلومړي چاپ پروخت دغهٔ بې قاعده ګۍ ٔ معلومي نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



؟ هرومرو معلومي وي. نو دنه یادولو علت یې څه و ؟ ښایي دا به یې مصلحت نه وي ګڼلی چي دنورولهجوپربې قاعده ګیوباندي سترګي پټي کړي اویوازي کندهاری ګړدودلوستونکوته دُ بېخرته بې قاعده ګیوٌ درلوونکی وښیي. که دا ښاییدنه رشتیاوي ، نونن هم ددې راز ورانوونکوقضاوتویادونه دمصلحت پرمقوله نه سي برابرېدلای. د پښتوپه دې دونه زیاتولهجو کي یوازي دیوې لهجې په اصطلاح بې قاعده ګی بیانول ، پخپله دُ سکه او ناسکهٌ مفهوم ذهن ته تداعي کوي. زمابشپړیقین دئ چي ښاغلي مولف ته دپښتود نورو لهجو ګرامري بې نظمۍ هرومروڅرګندي دي. پرهغوباندي غوږونه کاڼه اچول اودیوې مشخصي لهجې په مقابل کي دریځ . نیول ، پخپل ذات کي مناسب کارڅه چي ، لادلاسه خصمانه عمل دئ

دلومړي چاپ په سریزه کي ددغویادوونو دنسته والي دوهم تعبیر داسي هم کېدلای سي چي ښایي اوس به یېٌ توبه له مېړنو خالي لیدلې ويٌ. ځکه دددریم چاپ پروخت دهمدې مغضوبې لهجې درې ویونکي ستوري ( علامه حبیبي ، استادبینوا اوعلامه رشاد ) اودغه رازد ژبپوهني نورتول متخصصین ډاکټران دلحدبندیان سوي ول. ګویا د پوښتني اوبازخواست څوک نه وپاته. په دغه صورت کي زه نورڅه نه سم ویلای ، یوازي به دومره قدر ووایم چي خدای دي دا ښاییدنه نه . رشتیاکوي

دپښتوپښوپه دددریم چاپ دسریزي په **۱۵**مخ کي څرګنده سوې ده چي دلویدیځ ګړدوددځانګړتیاوو دپه پام کي نه نیولوحق یې دنوموړي لهجې دٌ پرتلیزلړه کیوالیٌ له امله ترلاسه کړی دئ. دحیرانتیاځای دادئ چي ددغي فتوا ورکوونکي له پښتوټولني سره لانجه پردې وه چي هغوی په ریفرنډم ژبني مسایل حلول. اوس دی پخپله داکثریت واقلیت په حکم یوه پراخه لهجه په پام کي نه نیسي اوځانګړتیاوي یې له تاریخي قدامت سره سره ، چي دی یې پخپله هم مني ، ( بېقاعده ګۍ ) بولي اوپه ګرامر کې نه راوړي. که دا ځانګړ تیاوي ټولي (بېقاعده ګۍ ) وي ،نوددې خبري خومعناداده چي دپښتو ژبې ټول تاریخ پربې قاعده ګیوولاړدئ. له لویه سره یې ګرامربې قاعده دئ اوس دوی معیاري ګرامرورته جوړوي. ځکه ددغوځانګړتیاوو تاریخي لرغونتوب خو مولف پخپله هم منلی دئ. آیا داخبره به له امکانه وتلې وي ، چي دا ځانګړتیاوي دپښتوخپل ګرامري اصول وه ، وروسته ترځخې ولمني پکښې راغلي دي. په هرصورت دابېلتونپاله فیصله پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کره ليکنې پښتو مخه نيسي او په دغه صراحت يې يادول خود جرأتمندۍ يوه نمونه کېدلای سي مګرد "مصلحت" پر مقوله باندي يې برابرول ، لکه وړاندي چي مي هم وويل ،له عقله ليري ښکاري.بايدووايم چي د اقليت او اکثريت خبره يوه بې بنياده ادعا ده . د پښتو دلويديځي لهجې ويونکي يوازي (کندهار، هيلمند او سيستان... ) ښوول سوي دي ، په داسي حال کي چي په دې لهجه باندي دکندهار ، هيلمند ، زابل ، ارزګان ، نيمروز، فراه ، غور ، هرات او بادغيسولايتونه،په شمالي کي دغوربند او شينوارو د ولسواليو پښتانه، د پروان ولايت پښتانه ( له ساپيو اوداودزيو پرته ) ، دميمنې ، مزار ، بلخ زياتره پښتانه اودکوچيانو لوی اکثريت لږوډېر رغيږي (۱ ) او ما چي يې دواک فونډيشن دا احصائيوله مخي يوه تقريبي اندازه معلومه کړه نو يوازي په افغانستان کي ددې لهجې ويونکي څه دپاسه درې ميليونو تنوته رسيږي. که دډيورنډ دناولي کرښي هاخواته پښتانه ور سره يو ځای سي، نويې شمېر دوه چنده زياتيږي. ددومره پراخ نفوس لهجه د پښتوګرامرپه يوه کتاب کي په پام کي نه نيول اوپه دې منطق ، چي د کتاب حجم په زياتيږي !، ترهغې ګام اړول له حق خوړلو پرته بل څه نه سي بلل کېدلای. له ژبي سره که د معيار تر . پردې لاندي داسي لوبې رواني وي ، نودي پښتنوته خدای خيرورپېښ کړي

په بل غشي ټوپک هيڅ ويشتلی نه يم

که ويشتلی يم خوبيا په خپل ټوپک يم

(دخوشحال خان خټک مرغلري ـ ۲۳۳مخ)

. پښتو پښويه ۱۴،۱۵مخونه ـ دريم چاپ (۱)

پردغه لهجه باندي هربرت پنزل امريکايي ژبپوه يو بشپړ کتاب کښلی دئ چي دنړۍ په ټولو (۲) مشهوروکتب خانو کي سته اوارواښادالهام په پښتو ژباړلی دئ. نه پنزل اونه الهام داخبره کړې ده . چي دغه لهجه پربې قاعده ګيوولاړه ده . دوی دواړه دژبي متخصصان وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې ــ مې ــ کې

په او سني مروج ليکدود کي د غه ضميرونه په اوږده (ي) ليکل کيږي او په لويديځه لهجه کي په لنډه (ي). دلويديځي لهجې له قاعدې سره سم ، چي ځيني کسان يې بېقاعده ګي بولي ! که په اوږده (ي) وليکل سي ، د معنابدلون پېښوي او چې= چي يې ، کې= کي يې ، مې =مي يې معنا ښندي. دکره ليکنې پښتولارويانو ددغي قاعدې شخړه په يـــوه ( نې ) ورشلولې ده اوو ايي چي دادکندهارګړدوددئ ، موږپه معيارکي نه دئ نيولئ. داکاريې د هغه په اصطلاح پروسيجرله مخي کړی دئ ، چي د پوهاندزيارصاحب له خولې ، دلاسليک رنګ يې وچ سوی لانه و ، بيايوه لاسليک کوونکي ويل زه يې نه منم،" زه دحبيبي صاحب او دده د پيروانولارپه رسميت نه پېژنم او بغاوت يې وکړ"(۲) مادا پرو سيجرليدلئ نه دئ خواوربدلي مي دي ، چي په

هغه کي دلغاتو افراطي او پخپل سرجوړونه هم منل سوې نه وه.که دا خبره رشتياوي نو دکره ليکنې پښتولارويان نيم قرآن مني،نيم نه مني. د پروسيجرهغه برخه چي ددوی له اجنډا سره موافقه وي ، مني اونوري نه مني. په هرصورت دې پرېکړي له پښتود يواني ادب سره مشکلات زېږولي دي.زه به د ديواني ادب ځومثالونه تاسي ته درکړم چي شاعرانو دغه لهجوي ځانګړتيا په . پام کي نيولې ده اوشعري وزن يې په تړلی دئ

: د(( کې = که يې )) مثالونه

ــ د حنان له کلامه ۱

داګوهربه دي په کارسي کې په غوږ کړې

درته وکــــــــړه (( حنان )) څه ويل مليح

( ديوان ۲۲ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خبري کړي دوې سترګي خود بخوده

عجب نه ده پــــــــــرته وایي تل بېمار

( دېوان ۲۷ مخ )

په دواړو بیتو کي راغلي (کې) ظرفي ادات نه دي ، بلکي د ( که یې ) لنډ شکل ( مخفف ) دئ. اوس که یې څوک د (که یې) په بڼه وکاږي ، دلومړیو نیم بیتیو وزن یو سېلاب زیاتېږي او میرزا حنان دومره ناپوه شاعر نه و ، چي د سیلابو په تړلو کي دي یې ستونزي درلودې. ده د شعر په سیلابو کي . خپله لهجوي ځانګړتیا په پام کي نیولې ده

.د حاجي جمعه بارکزي له کلامه ۲

د((جمعه)) د زړه پرهار به هلته جوړسي

کې رفــــــــو په تار د زلفو کړي جراح

( د کابل چاپ دیوان ۵۷ مخ )

زړه مي درکئ زمــــــا یاره ستا په لاس

ستا رضا ده کې لوټل کړې که یې پاس

( دېوان ۲۸ مخ )

ددې ګلو تبر بده د چـــــا پــــــــه یاد دي

کې پرې اېښي پرځای نه وای نایبان ګل

( دېوان ۸۱ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دریو مثالو کي هم (کې) د (که یې) په مفهوم کارسوی دئ. په دوهم مثال کي خوشاعر د سېلابو په ترلو کي خپل مهارت او لهجوي ځانګړتیا ډېره ښه ښوولې ده. لومړی (کې = که یې ) یې له خپلي لهجې سره سم راوړی دئ اودوهم وار که یې خپله لهجه په پام کي نیولې وای ، نیم بیتی یوه هجا لرېدی ، ځکه یې نود ( که یې ) په ښه راوړی دئ او سېلابونه یې په پوره کړي دي. لکه وړاندي چي اشاره ورته وسوه ،د حاجي جمعه بارکزي دغه دېوان ښاغلي هیوادمل دارو ابښادعلامه رشادباباتر نظر لاندي تهیه کړی دئ اولارښودا ستادیې په دغه باریکي سر ښه ورخلاص کړی دئ . ځکه یې هرځای ودغه راز مورد ته په لمن لیک کي د ( کې = که یې ) توضیح ورکړې ده

د (( چې = چي یې )) مثالونه

ـ د میرزا حنان له کلامه ۱

دفلک دباغوان لاس دپرېکېدودئ

پر جـــــهان چي دبېلتون تخم کاره

( دېوان ۱۲۱ مخ )

ګل ورقي دخپل ځان ورکړې وبادته

چې لیدلئ ستادمخ دخــط رقم دئ

( دېوان ، یوسل وڅلورشپېتم مخ )

په دواړو بیتو کي ( چې ) د ( چي یې ) مخفف شکل دئ.که یې د ( چي یې ) په ښه وکاږو ، دبیت دهجاوو شمېر دیوه په اندازه ورزیاتوي. په دې لاندي مثالو کي بیا د ( چي یې ) په معنا نه دئ . راوړل سوی

چي دخط سبزې یې ځای په رخسارونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــــــــــادزړه آيينې ځکه زنګارونيو

( دېوان ۱۰۱ مخ )

اوس که د پورتني بيت ( چي ) د مروج ليکدود له مخي ( چې ) وليکل سي ګويا د شاعرمراد به ( چي . يې )وي او دا معنا له بيته سره سرنه خوري

داليدلې يې غمزه ده ستاد سترګو

چي آهوله ښاره کوچ وکړ بري ولاړ

( دېوان ۳۲ مخ )

په دې بيت که ( چي ) د ( چې ) په بڼه وکښل سي ، د ( چي يې ) معنا ښندي او په دې صورت کي به نو ( آهو ) له عموميته ووزي او په يوچا يا

يوځای به اړه ولري.همدا سببونه دي ، چي زه د (چي) کلمه په دغسي مواردو کي په اوږده ياء نه . کاږم

ـ د جمعه بارکزي له کلامه ۲

چې خنداکړه په شاهۍ د بادشاهانو

په سپېرو ايـــرولړلي ملنګان ولاړ

( دېوان ۲۸ مخ )

ننګ ونام و سود و زيان د دنيا پرېږدي

چې خالص وي پـــر ديدار باندي غرض

( دېوان ۷۲ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دواړو بيتوكي ( چې ) د ( چي يې ) لنډيز دئ او په حاشيه كي ښاغلي مرتب ورته اشاره كړې ده .

د حاجي جمعه باركزي په ديوان د ( چې = چي يې ) لمنليكونه دان د پاسه دي. زه د دغي باريکۍ د نوري ځرګند تيا له پاره نور مثالونه هم

. راوړم

: د (( مې = مي يې ) ) مثالونه

وكتوتــه يې د ستر ګو حيرانېږم

چي مې كل هڅونه كړه ريزه ريزه

( د حنان ديوان ۱۲۸ مخ)

دادبه څو كړم د بې رحم يارله جوره

پر سينه مې د تيغ كين ووا هه ولاړ

( د حنان ديوان ۳۲ مخ)

په لومړي بيت كيٍ شاعر خپلو هڅونو ته اشاره لري ، چي كوم بل چا ور(ريزه ريزه ) كړي دي. كه يې دلته د (مې) پرځاى ( مي) راوړى واى ، نو به بيا د بيت معنا داواى ، چي حنان خپل هڅونه پخپله ( ريزه ريزه ) كړي دي.په دوهم بيت كي يې خپله سينه مطلب ده ، چي بې رحم يار وربا ندي د كين تيغ وواهه او تري ولاړ. كه دلته هم (مې) د (مي ) په ښه و كښل سي ، مطلب به داوي ، چي حنان پر پخپله سينه باندي پخپله د كين تيغ وهلى دئ او بېرحمه ياريې د ده تر دغه كار وروسته تللى دئ. دغه سبب دئ ، چي زه د جملو له سياقه سره سم (مي ) او (مې ) دواړه كاروم. خو په مروج ليكدود كي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، چي کره لیکدود ! هم بلل کېږي ، یو شکل لري او په اوږده یا ء یې کاږي. په دې لاندي بیت کي . وګورئ ، شاعر((مي) د ( مي یې ) په معنا نه دئ راوړی

صحیفه مي دزړه وګـــورئ عالمه

پکښې نقش دئ کلي احوال د ترکو

( دېوان ۹۷ مخ )

.اوس به د دغه راز لنډیزونو نور مثالونه هم په ګډه سره ولولو

: د ((نې = نه یې )) مثالونه

ـ د حاجي جمعه بارکزي له کلامه ۱

نه خبر د عشق په زیان یاست

نې خبر یاست پـــــه حاصل

( دېوان ۸۰ مخ )

نې ازل له ابتداء سته چي و کله

خاوند نه لــــــــري ابد نه انتها

( دېوان ۳۹ مخ )

ـ د حنان له کلامه ۲

چي نې خوري ، نه یې نوم ښه نه د خدای پاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــــه هسي استغنا څـــــــه په کار نه ده

( دېوان ۱۱۵ مخ )

له دې خپله زړه ګیله کړم ډېره ډېره

چي دیار کـو څې ته تئ نې کړم خبر

( دېوان ۳۰ مخ)

د دواړو شاعرانو په مثالو کي ( نې ) د ( نه یې ) مخفف دئ او که یې لنډ یزه بڼه ونه کښل سي ، د نیم بیتي په وزن کي یوه یوه هجا زیاتېږي .

د (( بې = به یې )) مثالونه

ـ د جمعه بارکزي په کلام کي ۱

چي بهار بې پـــه راتللو شګفته سو

دغه هسي لاله رخه خوبرویان ولاړ

( دېوان ۲۷ مخ )

په هوا بې د دیدار کړې فراموشه

هم جنت هم یې زینت هم یې لذت

( دېوان ۴۸ مخ )

ـ د حنان بارکزي په کلام کي ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مي سر که مال که عقل دئ که صبر

تردیدن بې کـــــړم قربان د شکرلب

( دېوان ۱۳ مخ )

چي شهید په تېغ د سترګو سي حنانه

پس له مرګه بې لګېږي پر مزار شمع

( دېوان ۵۳ مخ )

: ـ د علامه رشاد بابا ( رح ) په کلام کي ۳

خود بې نه ټولېږي مړي ، خود بې ملک په وینو رنګ وي

د قـــــــوي له جوغه غــــــاړه چي هرڅاده غړولې

( افغان ولس مجله ـ پنځم کال ، لومړۍ ګڼه ، ۲۹ مخ )

په دې ټولو مثالو کي ( بې ) د ( به یې ) په معنا راغلې ده او د نـــفی ( بې ) نه ده . په دې لاندي بیت کي ( بې ) د نفی په حساب کارسوې ده .

تمام عمر بې له وصله بې نصیب یم

لکه زخم د ناســور حاصل مي یاس

( د حنان د ېوان ۴۵ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما څخه لکه چي د مثالونو برخه لرېځه او ږده سوه. پر همدې ځای بې پای ته ورسوم او لوستونکي دي د (تې = ته یې)، (زې = زه یې)، (سرې = سره یې) او نورپه لسو مثالونه د حاجي جمعه بارکزي (په دېوان کي ولولي. (۳

ما د مخه د اسي فکر کاوه چي دا قاعده یوازي په کندهارۍ لهجه کي ستره خود حمید مومند په کلام کي مي هم وموندله :

له آسمانې میرخمن کړم

داشـــــنادمـــــهرداد

(دېوان ـ ۸۵ مخ د ۱۳۶۲ ش چاپ ـ د هیواد مل په زیار)

(په حاشیه کې ورته کښلي دي: آسمانې = آسمان یې (۴

:یا

ماته سره په وینو خــوله لبوه لیده شی

چې د ظلم په پیسه پیرودی پان خورې

(دېوان ۳۴۳ مخ)

په لمنلیک کې ورته کښلي دي: چې = چې یې

:یا

لادې صافه آئینه او ســهٌ حمیده ٌ

چې داهسی وهربنکلی ته حیرانې

(دېوان ۳۸۲ مخ)

(دې بیت یې هم په حاشیه کي کښلي دي: حیرانې = حیران یې (۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې اوږدو څرګندونو او مثالو څخه به لوستونکو ته روښانه سوې وي ، چې دا يوه عادي درسم الخط مسئله نه ده چې څوک يې بس په دې خبره حل کړي چې" دا ګړدودي لانجه ده .... دا موږ په لږکيو کي راوستې ده" او څو کرښې وروسته بيا وايو" دا لوی پرابلم دی. دا عجيبه ده چې په اروپايي ژبو کي دغه کليتيکس ( واړه کليمات ) ټول بې اکسينټه دي او په کندهارکي اکسينټ لري ، دا د اکسينټ مسئله ده چې له نورو ګړدودو سره توپيرلري." (۲) ) چې لوی پرابلم يې ګڼئ نو بيا يې ولي په پام کي نه نيسئ ؟ ولي حساب نه پرکوئ ؟ ولې تحليل وتجزيه نه کوئ ؟ ولي يې نفی کوئ ؟ ددې منطق څه دي ؟ دليل يې بس همدا دئ چي" دا موږ په لږکيو کي راوستې ده". دا ټولي پوښتني مستدل . جواب غواړي

. پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکې ـ ۳۰۳ ، ۳۰۴ مخونه (۱)

ښکلا مجله ـ ۴ کال، ۳ ګڼه ۵۰ مخ (۲)

د مثالو دابرخه ما په يوه مقاله کي چي ډاکټر بسم الله اميرپه جواب مي کښلې وه ، هم راوړې ده. (۳)
. دا مقاله په کندهارمجله خلورم کال دوهمه ګڼه ، ۱۳۸۴ل کال کي چاپ سوې ده

د عبدالحميد مومند په کليات کي چي د ښاغلي محمد آصف صميم په زيار برابر سوی دئ (۴)
۱۳۸۳ل ، دا بيت په همدې بڼه راغلی دئ خو څرګندونه يې ورته کښلې نه ده. د کابل د پښتو ټولني
. د۱۳۳۰ش چاپ ديوان او د حميد درو مرجان ـ د سيد انوارالحق جيلاني ترتيب ،دا غزل نه لري

د عبدالحميد مومند کليات او درومرجان کي دا بيت همداسي بې له توضيح راغلی دئ(۵)

ښکلا مجله ـ ۴ کال ، ۳ ګڼه ۵۲ مخ (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځینه جمعي

په تحمیل سوې کره لیکنۍ پښتوکي د ښځینه جمع له پاره یې په تولو حالاتو کي اوږده(ې) په پای کي وراچولې ده لکه ښځې ، منې ، سترګې ، هوټلې ، ژړاوې ، اناګانې، میندې ، کړکیانې ، خروټې ، شینوارې اوربشې ...(۱) اودلوید یځ ګړدود ، چې د کندهاري ګړدود په نامه هم یاد ېږي ، ځانګړتیاوي یې د ٌ بې قاعده ګیو ٌ په حساب کي شمېرلي دي . زه به تاسي لوستونکوته ددې لهجې . د ښځینه جمع قاعده بیان کړم اوددغې قاعدې مثالونه به کلاسیک ادب کي هم درکړم

په لویدیځه لهجه کي هرهغه ښځینه مفردنوم چي په پای کي یې زوره کی اوفشاریې پر لومړۍ څپه وي ، دجمع په صورت کي یې پای ته (ي) ورلوېږي . لکه :

ښځه ښځي

کونډه کونډي

پېښه پېښي

منډه منډي

تنده تندي

لنګه لنګي

لنډه لنډي

ونډه ونډي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هرهغه ښځینه مفرد نوم چي په پای کي یې زور(فتحه ) او فشاریې پر وروستۍ څپه وي، د جمع په شکل کي یې پای ته (ې) ورلوېږي. لکه :

منه منې

لنده لندې

غرمه غرمې

پېښه (تقلید ) پېښې

سرېمه سرېمې

کونده کوندې

دنده دندې

اوږده اوږدې

ددې قاعدې د څېړلو په نیامت مې د حمید مومند او اشرف خان هجري د یوانونه هم وکتل.

د حمید دیوان ( ۱۳۲۳ش کال چاپ ـ کابل ) په ۲۸۰ مخ کي یوه غزله سته چي مطلع یې ده :

چي زغمم ستا د رقیب بدي فتنې زه

یاره کله یـــــم دا هسي بې کینې زه

ددې غزلې نوري قافیې ( یینې ، سینې ، نینې ، پښتنې ، ستنې ، آدینې ، مدینې ) کلمې دي چي مفرد شکلونه یې ( یینه ، سینه ،نینه ، پښتنه ، ستنه ، آدینه ، مدینه ) دي او د ټولو فشار پر وروستۍ څپه دئ ځکه یې نو د جمع شکلونه په اوږده یې باندي د (پښتنې ) پر وزن جوړکړي دي. په ۳۱۵ مخ کي بله غزله سته چي مطلع یې دا سي ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه حکمت دی چي مي نه چوي لاسينه

يـــــاره ســـــتا د رقيبانو په کينه

. ددې غزلي نوري قافيې ( يينه ، مدينه ، مهينه ، نينه، پشمينه ، رنګينه ، کمينه ، ارتينه ) دي

په دغو ټولو قافيو کي يوه لاهم داسي نه ده ، چي فشار دي يې پر لومړۍ څپه وي او که فرضاً حميد مومند ( غنمينه ، اوربشينه ، شيرينه ... ) دوروستۍ څپې په فشار تلفظ کولای ، هرومرو يې په دې دوو غزلو کي راوړلي .د پښتو او پارسي په پخوانيو شاعرانو کي دا دود موجود و ، چي تر وسه وسه يې په غزل کي ټولي هم مثلي قافيې راوړلې او دا يې پر ژبه باندي د شاعر د تسلط نښانه بلله. په ۱۴۷ مخ کي هم د تيرو دوو غزلو په شان ورته قافيې راغلي دي. له دې مثالو څخه داسي ثابتيږي چي . د حميد په مومندۍ لهجه کي د اوسنۍ لويديځي لهجې په شان د ښځينه جمع قاعده موجوده وه

د اشرف خان هجري په ديوان کي هم دغه قاعده پالل سوې ده. دده ديوان ( د ۱۹۵۸ع چاپ ـ پيښور ) په **۴۷۲** مخ کي يوه غزله په دې لاندي مطلع باندي ثبت سوې ده :

ددنيا خـــــونه دباد په مخ ايرې دي

پائنده چارې هورې دامسخرې دي

ددې غزلي نوري قافيې يې ( خورې دي ، دېرې دي ، ښهرې دي ، تېرې دي ، اسرې دي ، منارې دي ، هورې دي ، پېرې دي ، سپېرې دي ، سورې دي ) سره ترلي دي. په دې قافيو کي يوه لاهم داسي نسته ، چي فشار دي يې پر لومړۍ څپه وي.که اشرف خان هجري (ښځه ، ونه ، لمنه ، .... ) ددوهمي . څپې په فشار تلفظ کولای ، هرومرو يې دلته راوړله

په **۴۸۲** مخ کي يوه بله غزله هم سته چي دقافيې کلمات يې ( ښهرې ، تېرې ، ايرې ، دېرې ، سورې ، څېرې ، آيرې؟ ، خورې ، پرې ، پېرې ،زهرې ، اسرې ، مېرې ) راوړي دي. دلومړي دفتر په **۲۱۲** مخ کي دهمدې قافيې په شان راغلي کلمات ( خورې ، انبارې ، سورې ، نغارې ، درې ، سفرې ، زرې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې ، طرې ، څهرې ، دېرې ، ايرې ، اګرې ، سيرې ، ښيرې ، هديرې ، چهرې ، مېرې ، فوارې ، سپېرې ، منارې ، آرې ، خورې ، ديورې ، مسخرې ، دهرې ) دي. دټولو فشارپرورو ستې څپه دئ.

دمقطعاتو په ۵۴۰ مخ کي هم د ( زمانې کړې ، شکرانې کړې ، رخنې کړې، معنې کړې، خزانې کړې ، ويرانې کړې ) سره قافيه کړي دي.

درباعياتو په ۵۲۴مخ کي يې هم ( خولې کا ، قيصې کا ، پسې کا ) په قافيو کي سره اوډلي دي.

له دې څخه معلوميږي چي د اشرف خان هجري په خټکه لهجه کي هم دلويديځ ګړدود په شان قاعده جاري وه. که اشرف خان هجري (ونه ، ښځه ، لنډه ، ونډه ،...) دوروستې څپې په فشار تلفظ کولای ، دلته به يې د جمع شکلونه په قافيه کي هرومرو موندل سوي وای.

خو په اوسني معيار کي دغه قاعده د (بې قاعده ګيو ) په کتار کي راوړل سوې او د "کتاب د پنډ بدو" په دليل !بياله پامه غورځول سوې ده. که د پښتو معيارتاکونکو په دې برخه کي د بې قاعده اکثريت ؟ پرځای باقاعده اقليت ؟ او کلاسيکه ادبي پښتو په پام کي نيولې وای ، لکه د(په) او(پر) په برخه کي چي يې نيولې ده ، زما په فکر به يې ډېر معقول کار کړی وای (۲) . اوس چي يې دا کار نه دئ کړئ ، نو لږترلږه خو دي دغه چاپرليکنو د اعتراض ګوته نه نيدي ، چي دا قاعده پالي.

ژبني مسايل د اکثريت په معيار ( هغه لا هم شکمن اکثريت ) حلول د ژبنيو اصولو پر منطق برابر بدلای نه سي او داسي ښکاري چي د دغه شان فيصلو ترشا دي د ناژبنيو اصولو بې منطقي پرته وي.
د ناژبنيو اصولو د بې منطقې ترزهرجن شپول لاندي هر راز بلاوبتر را غونډ بدلای سي. د ژبي خواخوږي بايد ځوان نسل ته دغه بلاوبتر ورانتقال نه کړي.

پښتو پښويه ـ ۹۱ ،۹۲ مخونه (۱)

دعددي جمع په برخه کي پوهاند دوکتورزيارصاحب ( دوې نجوني ) ليکي، نه ( دوه نجوني ). (۲) خو نوريې بيانه پالي او د کره ليکني محتسبين هم ډېر سرنه په ګرزوي. نبخه چي ولي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# التباس ته نه پاملرنه

: (Is= ـ دی He= التباس ته نه پاملرنه (دی

په اوسنۍ کره ليکنه کي د دې التباس په باب فکرنه دئ سوئ. مثلاً په دې جمله کي ( دی زماورور دی ) ، لومړی (دی) مفرد غايب ضمير او دوهم(دی) فعل دئ خو دواړه په (ی) ليکل کيږي .که دلهجو په وړاندي ښه نيت موجود وي ، نو دغه التباس له لويديځ ګړدود څخه په استفادې سره
: په دې ډول ليري کېدلای سي

Is= او دئ He = دی

په کره ليکنه کي ويني (می بينی ) او ويني (خون ) يو شان ليکي ـ سرې (سرخ ) او سرې (امبار ) . يو شان ليکي ـ ورځې ( می روی ) ، ورځې (روزها ) ورځې (ابروان ) يو ډول ليکي

. سره التباس لري (she = ترهغې دې وروسته (۱) ، دغه ( دې ) له ښځينه مفرد غايب ضمير(دې

لږي ) دلړل له مصدر څخه له (لږې )= دوريځولږې سره التباس لري ، البته که دواړي په (ې) وکښل ) . سي

. او د اسي نور ډېر مثالونه

داچي ويل کيږي دلويديځي لهجې (وسو ) له (وسو = وسوځېد ) سره په التباس کي واقع کيږي او دهمدې دليل له مخي يې په (بې قاعده ګيو ) کي راوړي ، زما په خيال پوخ دليل نه دئ. دارنګه التباسونه په نورولهجو کي هم سته خو هغو ته څوک (بې قاعده ګی ) نه وايي. لکه په دې لاندي : مثالو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم (شدم ) له شوم (نحس ) سره ؛

شوله (دانجلۍ واده شوله ) له شوله (یوډول خواړه ) سره او دغه له شوله (تېره تېغ ) سره ؛

شوه (دانجلۍ واده شوه ) له شوه = کښته سره ؛

که شوه د (شیوه ) په شکل ولیکل سي نوله (شیوه = طریقه ) سره ؛

کښته (پایین ) له کښته (ازکشت ) سره ؛

. لاړ ( رفت ) له لاړ (د مرغلرولاړ ) سره . اونورډېر التباسونه

. زه دا التباسونه دالفبې پرنیمګړتیاوراړوم . په نوروژبوکي هم دغه رازالتباسونه سته

په پارسي کي برد(یووړ ) له برد(یخ ، سوړ ) سره ؛

شد(سو ) له شد( دفشارنخښه ) سره ؛

. در(دروازه ) له در(مرغلري ) سره

په شان) redفعل ماضي حالت په عین سپیلینګ خو جلاتلفظ سره ( د (read)په انګرېزي کي د . جوړیږي

پښتوپښویه ـ دریېیم چاپ ـ ۲۹۷مخ (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دایې لابله

(ناسم ـ ٌ اوهغه ټولي هیلي او امیدونه ترېنا ورولاندي شول ٌ (۱

. سم ـ اوهغه ټولي هیلي او امیدونه ترخا ورولاندي شول

(ناسم ـ ٌ چې له کتاب ، لوست او قلم سره ددې دلېونۍ مینې اندازه ترې له ورایه لرېدا ای شي ٌ (۲

سم ـ چې له کتاب،لوست او قلم سره ددې دلېونۍ مینې اندازه ترې له ورایه لګېدا ای شي. لرېدل = کمېدل

(ناسم: په ټولو هغو ولایتونو کې چې سک لګکې ژوند کوي .... (۳

.... سم: .... په ټولو هغو ولایتونو کې چې سک لږکې (اقلیت) ژوند کوي

روږد ) کلمه د (عادت ) پرځای کارول یوه ډېره بیخونده ترجمه ده. (روږد ) کلمه د (اموخته ) په ( معنا استعمالیږي. ( موږک په کندو روږد سوی دئ ، یعني دکندو لاريې موندلي ده هره ورځ ورته راځي. غل مو په کورروږد سوی دئ یعني خوواره یې غلا راخخه کړې ده. غلا دغله عادت وي مګر داچي اوس زموږد کورلار موندلې ده ، نو وایو چي زموږ په کورروږد سوی دئ. که (روږد ) . دعادت له پاره استعمال کړو یعني غله زموږله کورپرته دبل کورغلا اصلا کوي نه

ٌ دایې روږد و ٌ (پښتو تاج التواریخ ۲۲۰ مخ ) په هیڅ صورت سره داسي معنا نه ورکوي چي (دایې . عادت و ). له بلي خوا د(عادت ) کلمې د پښتو کولو ضرورت څه دئ ؟ هره کلمه باید پښتو نه سي

ٌ زماروږد دا و ٌ په مطلق ډول ددې جملې ترجمه نه ده ،چې وایې ( عادت

. من این بود ). داټوله بیخوندي د سوچه توب له (عادت ) څخه راپیدا سوې ده

. پل ) او (قدم ) یوله بله توپیرلري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داکړدی د امپراتوردتره دزوی له کیږدی نه د ړش پله (قدمه) ... لرې درول شوې وې." (هماغه اثر ۱۲۳مخ)

پل ) په خاوره یاخته کي دانسان یاحیوان د پښې اینښولوله امله جوړې سوي نخښې ته وایي چي ) اوږدوالی د پښې په اندازه پوري اړه لري او ښایي دانسان پل د ۲۵ ـ ۳۰ سانتي متروپه شاوخوا کي وي. خو ،له (قدم ) څخه مراد (ګام) دئ چي اوږدوالی یې دیوه مترپه شا و خوا کي اټکل کېدلای سي. په تېره جمله کي یې مراد ګام دئ یعني دا کړدی د امپراتورله کړدی څخه د ړش متره لیري وه. که یې د ړش پله وبولو ، نو دافاصله باید ددرومتروپه شاوخوا کي وي. ماته داخبره بیا هم عجیبه ښکاري چي آخر د(ګام) کلمه بایدولي استعمال نه سي ؟ د دا راز مثالو بیانول په رشتیاسره یوبل کتاب لیکل راڅخه غواړي.

بینواویبپاڼه ـ۱۲جولای ۲۰۰۷ (۱)

ټول افغان ویبپاڼه ـ دبي بي سیده عارف ... کتاب ته د استاد صمیم سریزه ـ۱۱زمری ۱۳۸۵ ش (۲)

بینوا ، ۲نومبر۲۰۰۷، د میرویس جلالزي رپوټ دبابانانک د ۵۳۹یم تلین په مناسبت (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مونږ ــ موږ ــ موږه

دلیکنې معیارلارویان داسې فکرکوي چې لیکنه په فیصله باندې سمیږي. که دکاغذ پرمخ څه ولیکل سول نوګویا معیارهم تطبیق سو. پوهاند زیارصاحب وایي" �. موږپه ننګرهارکې داستونزه درلوده چې موږ، مونږاو �. موږدومره وکړه چې لیکدودموورسم کړ. اوس ننګرهاري (لیکوال ، شاعر، څېړونکي ( ن ) غورځولی دئ." (۱

خودهمدې مجلې په ۱۷مخ کې داستادیوه اروابناد شاګرد ، چې استاد یې دروزنې خبره لاهم کوي ، په یوه شعرکې مونږ،موږ ، موږه درې واړه

. استعمال کړی دئ

!" موږه دې وینومانږو

خوموږدې وینوببړی

زمونږمیلې ، پرهدیروټولېدل"

زه له دغه استعمال سره هیڅ رازمشکل نه لرم. دشاعرشعر مې خوښ دئ اودپښتوشعرپه ویاړونوکې شمېرم. نه کوم اعتراض پرلرم اونه په زړه کې کومه خیره. نه له نوموړي لهجې سره دښمني لرم اونه بې احترامي. له یادوني څخه مې مراددادئ چې یوازې مودکاغذپرمخ په فیصلوځان خوشاله کړی دئ. ژبني ، ټولنیز ، اوسیاسي اصلاحات که په فرمانوباندې منځ ته . راتللای نوبه زموږهیواداوس دنړۍ په ډېرو پرمختللو هیوادوکې شمېرل کېدلای

تردې یادونووروسته نوباید پوښتنه وسي چې: آیادمعیاریت هڅه بري ته رسېدلې ده ؟

ښکلامجله۴کال ۳ګڼه ۵۰مخ (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ايادمعياريت هڅه بري ته رسېدلې ده؟

دژبي معياريت ديوه پروسيجرپه لاسليک اوديودوودروکتابوپه تاليف بري ته نه سي رسېدلای. دادمعياريت پرلورلومړي ګامونه دي خودادپټي سردئ ، پټي وروسته سورور دئ. بري ته لاډېرګړنګونه پاته دي چي ووهل سي. په پروسيجرکي راغلي لارښووني چي له ښوونځي نيولې بيادټولو مطبوعاتواوميډيا په ګډون هرځای عملي او منل سوي نه وي ، دبري ادعاکول يوه شاعرانه باته ده. انفرادي هڅي خودډېري ستايني وړدي مګرکافي په هيڅ ډول نه دي. ترڅوژبه له تاداوڅخه کره نه سي ، له ښوونځي څخه کره ژبه ونه ښوول سي ، په ښوونځي کي بيادددولت پروګرام ورته عملي نه سي ، ژبه کره کېدلای نه سي. اوس به سمدلاسه هغومره ګوله اخلوچي هضمولای يې سو ، چي يوه موهضم کړه بله به اخلو. داکه کلونه نيسي، که لسيزي ، که پېړۍ. چاره نسته .

که مود ګډي مي باريږي ، زوی مي راملاکړه فارمول پرتطبيقاوه ، دغسي ژبه به ځيني جوړه کړئ لکه دانن چي يې په راديوګانواوانټرنيټ کي اورئ اولولئ يې .

وماعليناالی البلاغ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمعیاري ژبي عامیانه درک

دمعیاري ژبي عامیانه درک

اولهجوته په سپکه سترګه کتل

دا یو منفي بهېردئ ، چي زه ېېرېږم خدای مه کړه تا دا ويې پرتعصب باندي ولاړنه وي. ددې بهېرلارویان دمعیارله پاره یوازي یو محک لري او هغه دپښتوپه مرستندویو فعلونوکي په (شین) باندي د(سین) اړول او په هغه پوري اړوند تلفظونه دي. که چا داکار کړی وي ، ژبه یې پرمعیار برابره ګڼي ، نورکه یې هرڅه بلاوبترا وله ګرامرڅخه سرغړوني کړي وي ، دهمدغه یوه محک په خاطرورمعاف کېږي. دې بهیرڅه د پاسه نیمه پېړۍ دافغانستان پرمطبوعاتو او میډیا باندي واکمني چلولې ده. ددې منفي بهېر له امله ډېرمستعد اود خورا ښه میکرو فونیک آوازخښتنان پښتانه په کابل راديوکي دویاندۍ له حقه بې برخي سوي دي ، دډېرښکلي آوازلرونکي محلي سندرغاړي د خپل هنر دښوولوله حقه محروم سوي او وروسته مایوس سوي دي او هغه هم په دې مضحک دلیل چي د(ږغ) لغت یې دتاریخي انتخاب په حکم د مور له غېږي څخه (د(غږ) په شکل زده کړی او اوربدلی نه و . (١

ددې منفي بهېرلارویان په نظراوخبروکي داسي ښيي ، چي ګویا دوی لیکنۍ پښتو یوه کول غواړي خوپه عمل کي یې دخلکوپه خولو کي دژبي دبدلولو ناکامه ،بې معنا او بې منطقه هڅه پیل کړې ده .

دې منفي جریان پښتوژبي او پښتنو ته ډېرتاوانونه رسولي دي او که یې مخه په یوه سالم او ټول افغاني تدبیر ونه نیوله سي ، لا به یې نورهم ورسوي. دهمدغه منفي بهېرپه وړاندي دفاعي عکس . العمل هم د پښتنوپه ګټه تمام سوی نه دئ او منفي انحرافات یې زېږولي دي چي د اند ښېښې وړدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رشاد (رح) د ګوربت مجلې له خبریال سره د مرکې په ترخ د مرکه چي د دې پوښتني چي "د سیمه ییزي لهجې د کارولو په اړه موخه نظردی لکه ځینې لیکوال وشول فعل مشتقات په سول لیکي، دا چې په ګڼ شمېر ځایونوکې ټکرمنځته راولي، لکه (وسول) چې اورېدونکی یې کیدای شي (سوځېدا) وانګېري ،ښښنه غوړام تاسې هم دهمدې لارې پیروي کوئ" په جواب کي داسي ویلي دي :

"داسي ملتبس کلمات خو په ژبه کي خوراډېروي. ددې ماناداسي نه ده چي وسول. ددې صحیح تلفظ خووسوځل دی. نو په هغه شکل دي یې راولي بیابه له دې التباس څخه خلاص وي (۲).
اما مسئله داده چي دلته تاریخي سلسلې باید سړی په نظر کي ونیسي. کوم وخت چي فیصلې سره کیږي ، هغه وخت پردې مفصل بحث په کاردی. نو د لهجاتو قطعي ترک یابیخي ترک داپه هیڅ ژبه کي نه سته... دامسایل په ګرده دنیاکي سته. ددنیا په ګرده ژبوکي سته. بحث دي ورباندي وسي اودې ته په کرکه کتل ښه کارنه دی ، مناسب کارنه دی. (وسول) ښوک لیکي ، ودې لیکي ، (وشول) ښوک لیکي ، ودې لیکي ، (وشي) ښوک لیکي ، ودې لیکي او(وسي) لیکي ودې لیکي. ولي داباعث داختلاف نه ګرځي. موږ تاسي دغه اوس فارسی چي وینو دې فارسی کي څومره تفاوتونه سته په لیکنه کي سته اویوازي فارسي نه ده په نوروژبوکي هم همدغه اختلافات. (موجوددي (۳). نودغوته دومره په اهمیت کتل زماپه فکرلږ څه تنګ نظرښیي" (۴

کله چي د نوري نړۍ په راډیو ګانوکي د پښتو پروګرامونه د سیاسي انګېزو په تونګ ددغه منفي بهېرتراغېزوتلي پیل سول ، نو ځینو پښتنوته په خپله هغه ژبه باندي دویاندۍ اوکارموندلو زمینه برابره سوه ، چي د مورله غېږي یې زده کړې وه. خو په هماغو پردېسو موسسو کي هم کله کله ددغه منفي برداشت پلویان د خپلو پښتنوورونو د کار او زیارمخه نیسي .

(۱) پروین فیضزاده ملال په دې برخه کي خوراترخه حقایق بیان کړي دي. وګ: ښکلامجله ـ ۳کال ـ ۲ګڼه ـ ۱۲۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) دمعيار ، داوسنۍ کره ليکني التباسونه ما(هوتک ) دهمدې کتاب په (۱۱۲ مخ ) کې راوړي دي . محتسبين بيا په هغه کې رې نه وهي

(۳) دا اختلافات دهمدې کتاب په ( ۲۹ ـ ۳۱ مخونو ) کې ولولئ .

(۴) وګ: ګوربت مجله لومړی کال ۲ ګڼه ـ ۲۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکره لیکنې پښتوداوسنۍ هڅې

دکره لیکنې پښتوداوسنۍ هڅې

دنه تطبیق اوله هغې سره دمخالفت عوامل څه دي ؟

انګرېزي ژبې دمعیاریت له پاره زاړه دیني متون(ټکستونه) درلودل ، عربي ژبې هم درلودل او ځینونوروژبو هم. اروابناد علامه رشاد وایي ٌعرب که مثلاً د قریشو لهجه غوره یا معیاري ګڼي هغه خو قرآن پکښې نازل سوی دئ اما په پښتو کي خو داسي یو متن موږ نه لرو چي هغه دي تقدس هم ولري او هغه دي دومره جامعیت هم ولري او دهغه تلفظ دي یا دهغه لیکدود دي موږ ومنو �ٌ (۱)ځکه نو کله چي ددې ژبو دمعیار اړتیا منځ ته راغله ، دغوزړو متونو دمعیاري ژبې دیوه تاداو په توګه ستررول ولوباوه. خو په پښتو کي موږ زاړه دیني متون نه لرو. د خیرالبیان متن خو دروښان پیرپه ژوند کي لادروېزه ځپلو داورلمبو ته اچاوه. ترلسمي هجري پېړۍ وروسته چي نورادبي کلاسیک متون راپاته دي، په هغو کي دخطانوله خوالاسونه وهل سوي دي. دهغو لهجې،دجملوجوړښتونو ته دخطاط له ذهنیت سره سم تغیرورکړه سوی دئ(۲).ځکه نو دمعیاري پښتو له پاره په دغه مشخصه برخه کي د نوروهیوادو د ژبپوهانو پرپلوباندي ترمزله رسیدلای نه سو. موږ باید د پښتو په برخه کي خپله مشخصه اودژبې او دهغې دویونکوله عیني اوواقعي حالت سره سمه لاروا خلو. لکه وړاندي چي موخوواره ویلي دي ، پښتو دپښتنو له ژوند څخه سیوا په خلاکي مطالعه کولای نه سو . داخبره دلمرپه شان یو حقیقت دئ چي پښتو دخپلو ګاونډیو ژبو په پرتله وروسته پاته سوې ده اود پوهاند دوکتورزیارداخبره دکاڼي کرښه ده چي ویلي یې دي ٌ دپښتو دفرهنګي سیالۍ کمزوري اووروسته والی دخپلې وروسته پاتې ویونکي ټولنې پایله ده . ددې جرړه باید په اړوند ټولنیزبشپړتیایي بهیرکي وپلټو اوهغه داچې دیولړتاریخي ــ جغرافیایي اونورولاملونو پربنسټ پښتني ټولنه په یوه وروسته پاتې مخ ځمکواکي ټولنپیر(فورماسیون) ټېرني پېرکې(۳ )ځنډ بدلې پاتې اویوه برخه یې چې ځمکواکي (فیوډالي) هغه ته رسبدلې ، بیاهم ترډېره پېنه پرځای پاتې شوې ، نو په دې توګه پښتانه له هندي اواریاني (پارسي) خپلوانو او ګاونډیو سره په هیڅ ډګرکي دسیالۍ جوګه شوي نه دي او په ټولیزډول ترې لږترلږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ټولنیزپړاو وروسته دي .... (۴ )دې اودې ته ورته نوروعوامل ونه یوازې داچې پښتانه یې له خپلو ګاونډیو څخه ٌیو ټولنیزپړاو ٌوروسته پاته کړي دي ، بلکې دهغوی دژبنیو ګړدودو تر منځ اړیکې یې هم سره لیرې ساتلې سوې دي. دپښتو د بېلابېلو لهجو ویونکي ان تردا نزدوکلونو پورې لاهم یو دبل په ژبه باندې په پوهېدلو کې جدي ستونزې درلودې. دیوې پښتو دمنځ ته راتګ له پاره دهغې د ویونکو ترمنځ یووالي اونزدېکت ته اړتیا سته. هرکله چې دغه ارمان تر سره سي بیا به دژبې دیوکېدلو له پاره یوه کوچنۍ هڅه هم ډېر کار وکولای سي. دژبې دویونکو ترمنځ نزدېکت ځانته مشخصه ټولنیزه او اقتصادي زمینه غواړي. دټولنیزاو اقتصادي ژوند په یوه مشخصه مرحله کې دغه راز نزدېکت ممکن کېدلای سي. دغه ټولنیزه او اقتصادي مرحله ځینو پوهانو د سرمایه داري نظام ټینګښت بللی دئ اودژبې دمعیاریت خبره یې ددغه راز یوه نظام په سته والي کې ممکنه او . (عملي ګڼلې ده چې ترډېره ځایه یې خبره دمنلوړ هم ده (۵

لکه وړاندې چې مې اشاره ورته وکړه ،پښتانه درې خلورلسیزې وړاندې یو دبل په لهجو ډېر لږ پوهېدل.اوس دا ستونزه لږڅه مخ پر حلېدو روانه ده. زما خپله د پوهنتون تجربه دیوه عیني واقعیت په توګه داده چې دپښتوژبې دویونکو ترمنځ دلهجوي اختلاف له امله له بده مرغه فاصله سته. موږچې دپوهنتون په لیلیه کې دلومړي ځل له پاره دپښتو دبېلابېلو لهجو له ویونکو سره دیوځای کېدو زمینه وموندله، هلته په دغه واقعیت باندې ډېرښه پوه سوو. هورې به موږته یو دبل پر ټوکو خندانه راتله. که موږ کندهاریانو به پخپلو منځو کې ټوکې کولې او ژبني ظرافتونه به مو یو بل ته سره تبادله کول ، پکتیاوال او ننګرهاریان به اریان راته تللي و اوپوښتنه به یې کول: داتاسي پرڅه خاندئ ؟ دغه رازموږ یووخت دوردګو د ټوکو د اورېدلو پروخت له هم داسي حالت سره مخامخ سوو . له دې څخه ښکاري چې درې څلور لسیزې وړاندې لاد پښتنو محصلینو ترمنځ د لهجو په پوهېدنه کې مشکلات موجود ول. دا ستونزې اوس ورو ورو د حلېدو پرلور رواني دي خو مزله ته لا ډېرموړونه پاته دي. نوګویا هغه شرایط چې له دې ټولو لهجو څخه دیوې معیاري . لهجې دراوتلو له پاره لازم دي ، لاتراوسه پوري نسته

دنړۍ د نوروژبو تجربو راښوولې ده اولکه تاسي چې دانګلیسي ژبې په برخه کې ولوستل ،دمعیاري ژبې ترټاکلو وړاندې باید دهغې دلهجو ټول لغات حتی المقدور راغونډ سي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتوکي داکارخولاڅه کوي ، دپښتولهجولغوي زېرمي له سره کتلي سوي نه دي. دپوهاند زیار صاحب انفرادي هڅي په دې برخه کي دستاینې وړدي خوکافي نه دي. که د پښتو دټولو لهجوله کتني څخه مراد هغه هڅي وي چي د افغانستان دژبپوهني داطلس برابرولو پروخت (۱۳۴۱ـ۱۳۵۱ ش) سرته رسېدلي وې ، نو دهغو څېړنو په سرنوشت خوتر۲۰۰۰م کال پوري ددغي موسسې مدیر اروابناد داکټرالهام لاهم خبرنه و. اروابناد الهام په دغه کال لیکلي دي:" ... دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو دپوهنځي له ځلمو پوهانو څخه یوټیم جوړشو ،چي اول وروزل شي اوبیادژبو په ثبتولولګیاشي. په دې ډله کي زیار، اڅک اوپالوال هم برخه لرله. دې ډلې ... دژبني ګړدود یزاطلس دتدوین لپاره یې ښایسته ښه مواد ثبت کړل. په آخرکې دغه موادیونسکوته وسپارل شول چې دافغانستان دآریاني اطلس ورڅخه تدوین اوبیاخپورشي .خوله بده مرغه تراوسه پوري دهغه څرک ماته ونه لګېده." (۲) داروابناد الهام دغي پوښتني ته پوهاندزیارپه حاشیه کي کښلي دي چي" دغو پوښتنوغبرګون دکتاب په متن کي دئ. ددغه اطلس دپروژې یوبل فعال غړي ډاکټرپالوال خولادغه موادکافي هم نه دي بللي. ده څوکاله وړاندي داسي لیکلي دي:"... دغه دسره او مستندولیکنوله پاره کافي ځکه نه بولم چي یوخویودژبپوهني موسسې غړي ددغي وظیفې دصحیحي بشپړوني له پاره پوره نه وه تربیه سوي. دوهم ـ دوی په لازمه موادواووسایلو مجهز نه چي دموسسې غړو کارځني اخیستی دایران له (Questionery) وه. دریم ـمم هغه دپوښتنو کتاب پاره ترتیب سوی و نه دافغانستان له پاره. څلورم ـ که څه هم دافغاني ژبو داطلس پروژه دیونسکوله خوا څخه حمایه کیدله مګربیاهم د موسسې دغړوله پاره دکاراوسیدني اوحمل ونقل مصارف اونور تسهیلات برابرسوي نه وه. ځکه نوپه نامساعدو شرایطوکي دصحیحو
اومستندوکاروغوښتنه یوه غلطه توقع ده." (۷) ماله اروابناد پوهندوی نوراحمدشاکرڅخه اورېدلي وه چي ددغو څېړنو یومتن دکابل پوهنتون دژبواوادبیاتوپوهنځي په الماریو کي ده پخپل لاس قلف کړی ساتلی و. پوهاندزیارصاحب اوس په دغه ترخه حقیقت خبرکړو چي دغه دلسوکلونو دکارثمره دحزب وحدت په لاس د کابل دجنګوپرمهال داورپه لمبوکي لولپه سوه اوډاکټرزیارصاحب یې کله کله چي موقع ورته میسره سي دسویس دهیوادله کاپۍ څخه ګټه اخلي (۸) په هرصورت دمطلب خبره داده چي ددې ټیم دکلونو زیار او زحمت ثمره لا تراوسه دسویس له الماریو څخه راوتلي نه ده اوپه پراخه توګه عامه استفادې ته وړاندي سوي نه ده. هرچاته دسویس

(c) ketabton.com: The Digital Library



)د تګ امکانات نسته چي استفاده ځني وکړای سي. د پښتو لهجو څېړنه که سوې هم ده نو د جوړښتو شکلونه به یې په انفرادي توګه ثبت سوي وي. دلغوي پانګي ثبت خولا تراوسه په (structures کړو غاړو ولاړ پاته دئ. که څوک دا ادعا کوي چي دلغوي پانګي ثبت هم بشپړ سوی دئ ، دا نو تر . یوې شاعرانه غټبازۍ په ها خوا بل څه نسي ګڼل کېدلای

پوښتنه دا ده چي دیوې پښتو او یوه لیکدود له پاره هڅي ولي ځای ته نه رسېږي ؟ ولي یې مخالفین پیدا کړي دي ؟ هرو مرو څه خبره سته. خامخا ځیني عیني او ترذهن د باندي علتونه موجود دي چي د دغي مخلصانه هڅي په لار کي خنډ لوبږي. د دې پوښتني جواب په دې ساده استدلال کي نسي موندل کېدلای چي له نوي بدلون سره تل زاړه عنعنه پال مخالفت کوي. دا راز استدلال تر علمي تا داوزیات پرسیاسي بنسټ ولاړ دئ. د پښتو دیوه واحد لیکدود او واحدي ژبي له پاره خود چا خبره زاړه دود پال پرلویه لار ایله کړئ ،حتی په نوي پوهنه او ژبپوهنه سمبال کسان لا پر یوه لار روان نه دي او د معیاري لیکنۍ ژبي پرتا کلو باندي په یوه خوله نه دي .ښاغلی زیار صاحب پخپله وروستۍ مرکه کي وایي چي د وی یو پروسیجر د مرحوم حبیبي او مرحوم خادم او ډاکټر دولت محمد لودین په ګډون لا سلیک کړ خو خادم صاحب" بیا مخالف شو او ویې ویل چي زه د حبیبي صاحب او دده د پیروانو لار په رسمیت نه پېژنم او بغاوت یې وکړ..." (۹ )حقیقت دا دئ چي زموږ د مشرانو استادانو علامه رشاد ، اروابناد روهي ، مرحوم الهام ، اروابناد شاکر، مرحوم عطایي ،رفیع ،ډاکټر پالوال ، او نورو لیکنۍ ژبه له هغي ژبي سره چي موږ ته د معیار په نامه راښوول کیږي ، له مځکي تر اسمانه توپیر لري او حتی پخپلو منځو کي هم یو له بله سره فرق لري. دا پوهان چي ما یې تاسي ته نومونه وړاندي کړل ، ټول د ژبي خوا خوږي او پر پښتو مین کسان وه او دي. زما خپل استنتاج دا دئ چي د دې لاري اصلي خنډ پخپله د پښتو ژبي او پښتنو په اوسني ټولنیز، اقتصادي ، قبیلوي او سیاسي حالت کي دئ ، دې کار ته د پښتو او پښتنو په نه امادګي کي دي. هغه راز آمادګي چي ما یې د نورو ژبو په برخه کي یادونه وکړه. له دې بنیادي عامل سره چي نور واړه او کوچني عوامل ملګري سي نو . بیا د ریشا صاحب په اصطلاح" خبره بېخي غړکه سي"

تاسي وړاندي ولوستل چي په انګلستان کي د باسواد و خلګو د فیصدۍ په پام نیولو سره لا هم د ستېنډرډ ژبي د خوځښت هڅي چي له ۱۴ ـ ۱۵ میلادي پېړۍ څخه راپیل سوي وې ، ایله د ۱۹ پېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرکي دنسبي بریالیتوب اوعمومیت مرحلې ته ورسېدې. خود پښتنود عمومي بېسوادۍ په ستهوالي اود بې ثباتوحکومتو، انقلابو او پاچا ګښتیو په موجودیت کي څرنګه ادعا کولای سو، . چي دپښتوله پاره د معیارانفرادي هڅي دبري لوړ پوړ ته رسېدونکی دئ

په کوچنیو اوارځکي عواملوکي یوعامل پخپله ددغه خوځښت د لارویانو په عمل اوکړوکي پروت دئ ، پخپله په پوهاندصاحب زیارکي پروت دئ،چي ددغه حرکت موسس اوتیوریسن دئ. (۱۰) پوهاند زیارصاحب دخپلوعقایدواو نظریاتو پر سموالي باندي دومره ډاډه دئ ، چي حتی دیوې سالمي مشورې دمنلو له پاره لاهم تیارنه دئ. دی خپل ځان ته ټاکلي اصول اوخپل استنتاجونه دکاڼي کرښې بولي. پوهاند الهام په دې برخه ډېره محتاطانه اشاره لري اولیکي" زیار... په ډېرو برخوکي په خورازیات باوراوټینګارغوځ حکمونه کوي اوښايي کومه ورځ دی پخپله هم یوځل بیاپرې کتنه وکړي."(۱۱) پوهاند زیارصاحب په دې برخه کي دوستانه انتقادته لا" غاښ ماتونکی" جواب ورکوي. زه ددوی دغه عادت ددوی پرسیاسي اوایډیالوژیکي تفکر باندي تاوانوم.
زیارصاحب په سیاسي لحاظ په یوه داسي ایډیالو ژیک محیط کي رانښکېل سوی و، چي په لیکنۍژبه کي یې د سختو او حتی پارووونکوجملواوعبارتوکارول ، له طبقاتي دښمن سره دنه پخلا کېدني مضبوط دلیل ګڼل کېږي اوپه محاسنوکي یې شمېري. پوهاند صاحب زیارله دغي ایډیالوجۍ سره خپل عقیدتي اړیکي هیڅکله هم پټي کړي نه دي اوتل یې په زغرده بیان کړي دي. داددوی دسیاسي زړه ورتیا لوی ثبوت دئ خوله بده مرغه یې ددوی علمي دریځ ته زیانونه رسولي دي. ددغي ایډیالوژۍ په ادبیاتوکي د ټولونړیوالو نورمونو پر خلاف ، دسیاسي مخالف له پاره د" ځنځیري سپي" لقب ورکول رواخه ، چي دستاینې وړکاردئ. دوکتورزیارد خپلي معیاري لیکنۍژبي د منځ ته راوړلودحرکت مخالفان هم په دغه شان ادبیاتو وهل اوټکول. ددوی له یوه جوړسوي لغت سره چي چا مخالفت کړی دئ ، دوی یې په مقابل کي غاښ ماتونکی جواب ورکړی دئ. دوی پخواني مشران پوهان په انک ( توهین )سره دودپال وبلل اوله دودپالوسره یې شعار" وړاندي دنوي دورانسازه .... پرلور" ورکاوه. له دودپال څخه بـه خلکود" مرتجعینو اورجعت پسندو" معنا اخیستله. پوهاندصاحب په یوه مرکه کي چي په کتابي شکل چاپ سوې ده ، ددغومخالفو (دانشمندانو په باب ډېرزیاتی کړی دئ چي وايي: "کاروان به تیرېږي اوسپي به غپېږي" (۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوې پښتو !خوځښت هغه وخت خپل علمي ارزښت له لاسه ورکړ، چې د ثور انقلاب په ارزښتونو کې وګڼل سو . دا هغه وخت دئ چې پر هیواد باندې د کمونیستي او سویټیستي استبداد ډاروونکې ښپې مسلطې وې. له هر انقلابي عمل ؟سره مخالفت له سرسره لوبې وې. دا مخالفت که د سرپه زیان تمام سوی نه وای نو لږترلږه خوله وظیفې څخه د برطرفۍ اوله بې سرنوشتۍ سره د مخامخ کېدلو په بیه هرومرو تمامېدئ. د دغې واهمې اغېزه وه ، چې پوهاند ډاکټر الهام لا د مقاماتو د ترټني له ډاره ځان په " ذهني کارګرانو " کې وشمېره (۱۳) چې زما یقین دئ پخپله د الهام مرحوم په نزد به هم یوه بازاري سیاسي اصطلاح وه. د ژبې د معیاري کولو له دغې مشخصې انقلابي هڅې سره د پښتنو پوهانو ستر غیر ګوندې اکثریت مخالفت ډو له ملاحظات درلودل. دغه وخت له بده مرغه د هیواد علمي مرکزونه له صلاحیت لرونکو مقاماتو څخه خالي سوي وه. اروابناد حبیب الله تږی ، استاد شپون ، ډاکټر پالوال د مهاجرت لاره اخیستې وه. علامه رشاد د ثور انقلاب له شامته په نامردۍ سره تقاعد ته سوق سوی و. له علمي مرکزو څخه لیریتوب او هغه هم د بې وخته تقاعد په نامه، علامه مرحوم د ځان په حق کې ناحقي ګڼله او دې کاردونه ځورولی و ، چې ډېر کلونه یې له خپل نامه سره " متقاعد پوهاند " کېښښ. اروابناد روهي که څه هم د هیواد خپلواکۍ ته ګواښونو سخت ځوراوه ،خو نه یې غوښتل له انقلاب سره په مخامخ مخالفت کې ودرېږي. د پوهنتون غیر ګوندې استادانو هسې شپه سبا کوله. د ژبپوهنې پر ډګر یوازې پوهاند زیارپاته و اوله هغه سره د انقلابي دولت ټول امکانات او مساعدتونه ملګري سول اوله هغو څخه په استفادې سره یې د معیارکورنګې ته پونده ورکړه.دا حرکت یوازې او یوازې پرفردې اراده ولاړ حرکت و او د هغه وخت صلاحیت لرونکو مشرانو پوهانو ټولو ور سره لیکلی . او نالیکلی مخالفت څرګند کړی دئ

خو د انقلاب ځواک د چامخ نه کاته او نتیجه دا سوه ، چې پر پښتو خوارکۍ باندې دا نابللې مېلمه وتپل سو. دا چې اوس د هغه له پاره تاریخي سوابق جوړېږي او د پخوانیو ژبپوهانو نومونه اخیستل کېږي ، دا روابناد الفت او نورو مشرانو له خولې د موافقې په باب نقل قولونه لیکل کېږي ، ټولې هغه افتراګاني دي چې مفتري به یې خدای ته ور وړي.دا افتراګاني هغو هڅو ته ورته دي لکه د پټې خزانې مخالفینو ، چې د علامه حبیبي ، استاد کامل او نورو مشرانو ترمړینې وروسته را منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وې. زمایوه ساده پوښتنه داده چي که دغه ژبپوهان د چا خبره ددې نوي جوړې سوي پښتوپلویان وه ، نویې بیاولي همدا ژبه نه لیکله.ددغو پوهانو او ژبپوهانو دلیکنې ژبي په : خوند خوڅوک مړېږي نه. تاسي دا څو عبارتونه وګورئ

اروابنادبینوا په هغه ژبه لیکنه کوي ، چي دده خپل پښتانه یې په ورځنیو خبرواتروکي کاروي. : تاسي دده دالاندي متن ولولئ

"دپخوانو پښتنودعامي طبقې اوغریبانو خوهمدوني دلاسه وسوه چي پښتویې دزمانې دهررازطوفاني هرج ومرج څخه په خپلو سینوکي وساتله اوتردې وخته یې راورسوله. په سووسوو اورژبي شاعران پکښې پیدا سوه اودخپلي ژبي ادب یې ترخپله وسه پوري ، دنوروپه زروکالو روزل سووژبوله ادبه سره تقریباً څنګ پرڅنګ ودراوه. که څه هم دوی شاهان نه وه،مګربیایې هم خپل دغریبۍ په کورکي دملي پانګي زیاتولودپاره رازراز(پټې خزانې) راغونډې کړي دي ، چي اوس یې کله دسلیمان ماکوله کیږدۍ څخه نیمه چپاوسوې خزانه راباسي اوکله دمحمدهوتک پر(پټه خزانه) چي دپښتودهررازمرغلروډ که ده پیښېږي..." (۱۴)په دغه پښتومتن باندي به دمعیار محتسبین هرومرو دسیمه ییزي لهجې نوم کښېږدي، خوزما پوره باور دئ ،چي دپښتود هري . لهجې ویونکي ته په زړه پوري دئ او خوښېږي یې

داروابناداستادګل پاچاالفت پښتوخود (خو ) ځای نه لري. سرتر نو که داولس پښتوده اوټول : پښتانه چي یې ولولي ، هرومروبه ژبي پر ټکوي. دایوه نمونه به یې ولولو

"دانسان په وجودکښې دوه شیه ډېرعزیزمعلومېږي چې یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي. له دماغ نه . علم اوفلسفه پیداشوه اوله زړه نه شعر او ادب

اروپایان زړه دعواطفواونفسي احوالوځای ګڼي ، مسلمانان دایمان او عقیدې ځای ته زړه وایي. صبر،رحم،کرم، شجاعت،سخاوت دزړه کار دی. عشق اومینه په زړه کښې وي شعرله زړه نه الهام اخلي اوله زړه سره کارلري.... دعواطفوروزل دزړه کاردی اوشعرته دعواطفواو احساساتودظهوراوتجلیاتوکوه طورواېلی شو .... همدغه عواطف او احساسات چې دشاعرله زړه (نه الفاظوته رانقل شي شعرترې جوړشي او په زړونواثرکوي". (۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رشاد خولکه پخپله چي درونداومتین شخصیت و ، لیکنه یې هم درنه او په عین درنښت کي بیا(که یې د معیارمحتسبین په سیمه ییز تورونه کړي ) خوږه ده . راځئ چي و یې لولو:

"په نړۍ کي دریابونه ډېردي اوپه هغو کي د کښتیو څه کمی نسته. زه چي ګورم په دغو کښتیو کي د پښتنو کښتۍ یوه خښمېدلي تندبادپسي اخیستې ده اوپه ډېره تیزي سره یې دنابودۍ دګرداولورته پوري وهي. زموږد دریاب داوبوپرمخ نوري کښتۍ هم لیدلي کیږي خوهغه دې توپاني بلانه دي پسي اخیستي. زه نه پوهېږم چي د پښتنوپه کښتۍ کي دامقناطسیت څنګه پروت دی چي زموږد دریاب له هري غاړي څخه هرتوپان چي پیدا سي وخپلي خواته راکشوي. زماپه خیال کېدای سي توپانونه د پښتنوپربلاوهلې کښتۍ مین وي اوله هره یې بادبانو مچولوته په ډېره لېوالتیارادانګي .

آدپښتنوخوا خوږو ! بلامو واخلم لیخي راوغړئ اوپایخې رابډوهئ، یوه ډله دبدبختۍ د مقناطیس په لټه کي سئ که مو وموند د دریاب تل ته یې ارتاوکړئ چي بیا دنړۍ مخ ونهویني ، بله ډله د کښتۍ (هغه بادبانونه وشکوئ چي د توپان بلاپرمینه ده . (۱۲

اروانبادکاندیداکادمیسن سرمحقق محمدصدیق روهي چي کله یوه علمي موضوع لاهم بیانوي ، ژبه یې پرچانه درنېږي. تاسي دده د لیکنۍ ژبي جوړښتونو ته فکروکړئ چي څومره روان دي:" میتود په اصل کي د٠میتودوس ) په بڼه یوناني کلمه ده چي په لغت کي طرزالعمل (دیوې چارې د سرته رسولوطریقې ) ته ویل کېږي. په عربي ــ دري ــ پښتو ژبو کي د میتود په ځای د اسلوب،طریقې،روش، دودکلمې هم استعمالېږي. میتودو لو جی د میتود پوهنې معنی لري. میتودولوجي دفلسفې یوه څانګه ده چي په عام ډول دعلم اوپه خاص ډول د هرځانګړي علم د څېړنې منطقي اصول بیانوي." ( ۱۷). دژبي رواني یې له دې امله ده چي د سوچه توب ناروغي ورلوېدلې نه ده. دافادې له پاره یې دخیل غیر پښتولغتونه کارکړي دي هم یې مطلب په ښه توګه په . بیان کړی دئ او هم یې دژبي خوند په زیات کړی دئ

اروانبادپوهاندحبیب الله تږی هم دمطلب اداینه دلغاتوترسوچه توب نه قربانوي. دی لیکي:"کوم څېړونکي اومولفین چي وایي ترکي خلجیان دزابلستان په ځایي خلکو کي منحل شوي اوپه نهایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په پښتو غلځیانو بدل شوي دي هغوی په حقیقت کې دا خبره تصدیقوي چې لږترلږه د دوهمې او دریېمې هجري پېړۍ په حدودو کې وزابلستان ځایي او سېدونکي پښتانه وو ، ځکه جهان نامه وایي چې ترکو خلجیانو خپله ژبه بایلوده اودزابلستان دځایي او سېدونکو ژبه یې زده کړه . که ترکو خلجیانو دزابلستان دځایي خلکو ژبه زده کړې وي ، که د غلځیانو ژبه تراوسه پښتو وي اوغلځیان او خلجیان هم سره یو شی وي ، نو دخلجیانو دمهاجرت په وخت کې به دزابلستان دځایي او سېدونکو ژبه هرومرو پښتو وه . که نه وي نو نه باید خلجیانو پښتو زده کړې وي او نه .(باید دغلځیانو ژبه پښتو وي.″( ۱۸

داروانښاد پوهاند دوکتور محمد رحیم الهام ژبه هم د دخیلو لغاتو پرمخ خلاصه ده : ″په همدې ترخ کې دانستیتوت ترجوړېدو مخکې او وروسته ډېر کسان دعصري ژبپوهنې دزده کړې لپاره بهرنیو هیوادو ته لېږل شوي وو اوولېږل شول ،چې په هغو کې عبدالاحد یاري ، نوراحمد شاکر ، حبیب الله تږي او ماپخپله په امریکا کې ، عبدالحکیم هلالي ، لودین ، پولاد ، ماه ګل ، په شوروي اتحاد کې . ، اڅک په هندوستان کې اوزیار په یورپ کې دژبپوهنیزو علمونو لوړې زده کړې ترسره کړې

داخلک په هیواد کې دژبپوهنې په بېلابېلو څانګو کې په تدریس ، تحقیق او ترجمو بوخت شول اوله خپلې وسې سره سم یې کم یا زیات علمي خدمتونه وکړل. دتږي اوزما توجه اوتمرکز به زیاتره پرعمومي تشریحي ژبپوهنه باندي واوتدریس موکاوه ....″ (۱۹) په دې لنډ مثال کې تاسي وینئ چې . اروانښاد الهام مطلب په ډېره روانه ژبه بیان کړئ دئ

د(تحقیق ، تدریس ، ترجمو ، توجه ، تمرکز ،... ) لغتونه یې پیریان پر سترګو نه دي راغلي .ځکه نه دي راغلي ، چې دی پوهېدئ چې د دخیلو لغتونو ادې اوباباچې دهرځای وي ، خو چې ژبې ته ننوتل . ، دهغې ژبې خپل مال ګرځي او په استعمالولو یې څوک نه ګناهکار کېږي

داستاد شپون نثر خوبیا په بل لایزار کشش لري. زه پکښې ورک وم چې کومه برخه یې انتخاب کړم ، : اخرمي د(ګټیالي ) له اول مخ څخه اوله برخه راواخیسته

″داد کا پرشی لانه وراغلی اوهرشی هماغسې و چې پلرونورا پرېښې وو. غم ښادۍ ټولي آشناوې هسې نه وچې دنیا ګل وګلزار وه خوموږورسره روږدي وو ، قادراوحاجی زرداد لاهم خپل سودونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړل ؛ شاه محمد دوکاندارلاهم چې مې تللې دړه یې وهله ؛ موړهلکانولاهم دګاونډو دهقانانود پالیزنه ختکي غلاکول ؛ کوډګرې اوفالبینې لاهم خورجینې په شاکورپه کورګرځېدې ؛ دکلوملایان لاهم دکونډوا وهلکانوسره پرتوګ ښکلي ګیرکېدل. خوهرڅه پرخپل ځای وو اوکه چاشکایت درلود نودخپلې ټنډې اوتقدیرنه وریېښنه شوې وه ....

پوهاندزیارصاحب چې دخپلې جوړې کړې ژبې پرخلاف لیکنه وکړي نودهرچا لپاره ډېره خوندوره، محاورې ته نژدې اوکره وي لکه دالاندې مثال چې ماپه تصادفي توګه رااخیستي دئ :

" استادحبیبي ددغه لرغوني فرهنګیالي هیواددیوه پیاوړي پوهاند، لیکوال، څېړونکي اومؤرخ په توګه خپل ټول ژوند همدا رازعلمي څېړنوا وپلټنوته وربښلی اوځنګه چې (لټونکي موندونکي دي) نو د داسي ډېروپټوخزانو پر را برسېرونه بریالی شوی هم دی. د غوریانو، سوریانو،لودیانو، لویکانو، دسوات اوکونړد امیرانو او داسي نورو افغاني اوبیاپښتنو واکمنانو اوسوبمنانو برسېرونه اوپېژندنه یې ددغوخبروځلاندي بیلګې او ساري بلل کیږي." (۲۰) خوچې دکره ژبې لیوالتیااورولاړه سي، نوبیاځوانانوته پښتو ګرامرپه داسي ژبه ورزده کوي،لکه دالاندي بیلګه :

" په پښتوکې کړاوون هم له پښوییزچاراوهم له رغاونیزپلوه یو مخیز آریاني دی او مرستیالکړونه، لکه (ول،بودن) اوشو(شدن) هیڅکله په هندي کې نه وو، بلکې یوازې (هو) او(تها) پکې کارول کېږي. همدارنګه په پښتو کې مخکړونه یاکړوال مختاړی (فعلي پیشوند) دودلري اوپه هندي کې یې څرک نه لګي. په پښتوکي اوسترمهال له وسمهال کړسره د(به) وییکي په ملتیاجوړېږي، حال داچې په هندي کې اوسترمهال له یوه ستاینومیزروستاړي چې له آره یې کړواله ده، رغېدنه مومي (لکه کرونګا) دغه روستاړی دستاینوم په څېرنرینه او ښځینه، یوګړي اوډېرګړی لري اواوړون مومي."یا"... موخه داچې پښتودپارسۍ په پرتله داوستااو زړې پارسۍ ترمینځه یومنځوال اکر یادریځ لري اود نوماوړون له پلوه په یوه زیات لرغونې پړاوکې ټیکاو مومي ؛ هرګوره د کړاوړون له پلوه پښتوزیات ونجون موندلی دی." (۲۱) نوچې له یوې خوا موضوع ترخه علمي موضوع وي او له بلې خوا یې ژبه دغسي نابلده وي، دلوستونکي اریان دي نوخدای مل سي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تیرو مثالو څخه به تاسي ته څرګنده سوې وي ، چي د پښتنو ټول پوهان او ژبپوهان هغه ژبه نه . لیکي ،چي موږ ته د معیاري په نامه را ښوول کیږي

لکه وړاندي چي مي وویل ،دژبي د معیاري کولو له هڅي سره مخالفت هغه وخت زیات سو چي دا هڅه د ثور انقلاب له ارزښتونو سره وتړل سوه . ما ته په لومړي سرکي دا سي ښکاریدله چي له دې حرکت سره د مخالفت اساس به هغه د چا خبره له ٌعلي سره محبت نه بلکي له معاویه سره دښمني وي ٌ خو وروسته مي پښتو ژبي ته د دې حرکت په تاوانو سرخلاص سوا و د پوهانو اند ښنې را ته معقولي . ثابتي سوې

لکه د ثور انقلاب د دفاع له پاره چي د ټولني د دانسته وو کسانو پر ځای له ٌ العوام ٌ څخه کارو اخیستل سو ، دغه راز د معیاري ژبي دا او سنی خو ځښت هم له څو ګوتو په شمار محدودو او معدودو منلو لیکوالو پرته نورد خالي ذهنو پښتو مینو زلمیانو پر اوږو بار سو او په پر مخ بېولو کي یې له هر راز ماکیاولیستي لارو چارو څخه کار و اخیستل سوا و اخیستل کېږي. د دغو زلمیانو معصومو مغزو ته د معیار محک دا سي تلقین سوی و ، چي که چا د پښتو افعال ( سو ، سي ، .... ) پــــــه ( شو ، شي ، .... ) و کښل ، ګویا معیاري پښتو یې ولیکله . څرنګه چي په دغه او سني د چا خبره کره پښتو کي شین سالاري واکمنه ده ، ځکه یې نو د معیار په نامه منلې ده او نور یې په ګټه او تاوان کي ری نه دئ وهلئ .کنه ، زما یقین دئ چي همدا زلمي له دغي نوي را ټوکېدونکي . پښتو سره دا ن د پاسه مشکلات لري خو پر خوله یې نه راوړي

د مسئلې یو بل خوا شینو ونکی اړخ دا دئ ، چي پښتانه د نزدې یو ې نیمې پېړۍ را هیسي د یو ې نامطلوبي او تپل سوي کرښي له امله تردوو بېلا بېلو اقتصادي او ټولنیزو نظامو نولاندي ژوند کوي . دې عیني واقعیت د کرښي د دوا ړو خوا وو پښتنو په فرهنګي او کلتوري او ژبنۍ برخه کي توپیرونه ایجاد کړي او له بده مرغه په ځینو برخو کي یې توپیرونه ژور کېږي. د دې عیني واقعیت مسخه کول او پر هغه باندي سترګي پټول د مسئلې واقعبینانه چاره نسي کېدلای . دې بېلا بېلو نظامو د دوا ړو خوا وو پښتنو ته د ژبنیو او فرهنګي فعالیتو یو له بله بالکل جلا زمینې برابري کړي دي .دا روا ښا د دنو میالي دا خبره خورا ژوره ریښه لري چي ویلي یې وه ٌ هغه آزادي چي جعفرا ځګزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په بلوچستان کې د نظامي جنرال د کلکې دیکتاتورۍ په دوران کې لري ، نو میالي یې په ټوله ژوند کې ، حتی د معتبرۍ په حالت کې لاهم سلمه برخه په خوب نه ده لیدلې.ٌ (۲۱) د دواړو خواوو پښتنو سیاسي دلچسپیو هم د فرهنګي او ژبني فعالیت جریان ته تاوان رسولی دئ. د کرښې په یوه خوا کې د پاړسي ژبې درباروا کمنۍ او په بله کې د پنجابۍ

حاکمیت پښتو ژبه د فرهنګي ژوند په ډګر کې دیوې دوهمي او دریمي ژبې درجې ته راټیټه کړې ده او د ضرورت ژبه سوې نه ده. د همدې واقعیتونو د اغېزې له امله په پښتو کې دیوې معیاري لیکلارې او لیکدود درامنځ ته کېدو او پر هغه باندې د بشپړ توافق په لاره کې خنډونه او ځنډونه لوېدلي دي.د کرښې د دواړو خواوو خواخوږو پښتنو د ډېرو لسیزو په دوران کې د دې خنډونو او ځنډونو چاره بې له دې چې د مسئلې عیني او واقعي حالت ته پاملرنه وکړي ، د مېلمستیاوو د مېز . د سر په فیصلو باندې کړې ده او طبیعي ده چې اغېزه یې نه ده ښندلې

خبرې به سره راغونډې کړم او خاتمه یې به په دې عبارت بشپړه کړم: یوه ژبه چې نه د دولت په سطحه قانوني ملاتړ ولري او نه د ملت په سطحه کې د سواد پیاوړې سابقه ولري او تر همدا نن ورځې پورې یې لا د الفبې د بشتړتابه هڅې ته اړتیا په اولیتو کې راځي نو پر هغې باندې د نورو ژبو په تقلید د معیاریت جریان ازمویل او په دې ډول یې له خپلو ویونکو څخه پردۍ کول به له ظلمه پر ته بل څه وي. زه نه پوهېږم چې د معیاریت په مینه کې ډوب لیکوال د دغه واقعیت په لیدلو او کتلو کې ولې ړانده دي ، چې د دوی په دغه نوې ژبه باندې د دوی خپل پښتانه باسواده پوهنتون لیدلي . او لیسانسه ورونه نه پوهېږي

وګ :ګوربت مجله ، هماغه کال ، هماغه ګڼه ، هماغه مخ (۱)

د دغه رازلاسوهنو ښه پرېمانه مثالونه د ښاغلي ډاکټرپالوال په نوي کتابٌ معیاري پښتوٌ کې (۲) . لوستلای سئ

مرادېې ماقبل فیوډالي قبیلوي پړاو دئ. م. هـ (۳)

پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼاکې ـ ۱۰۴ مخ (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



. اروابناد الهام هم دغه شان وړاندیزکړی و چي یادونه یې په مخ کي تاسي ولوستله (۵)

پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکې ــ دویم ، دریم مخونه (۶)

پښتو چاپي آثار ـ ۲۵۹ مخ ـ ۱۳۵۷ ش کابل (۷)

ښکلا مجله ـ څلورم کال ـ دریمه ګڼه ـ ۵۴مخ (۸)

ښکلا مجله ـ ۴ کال، ۳ ګڼه ۵۰ مخ (۹)

داخبري مي باید د عقاید و د تفتیش په معناونه ګڼلي سي. زه د هر انسان عقیدې او افکاروته .(۱۰)
. دزړه له کومي درناوی لرم

پښو او پښتانه د ژبپوهني په رڼا کې کتاب ته د پوهاند داکترمحمد رحیم الهام یادونه ـ پنځم مخ (۱۱)
.

زیار ـ د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری ـ ۱۵۵مخ (۱۲)

پښتو پښو یه ـ سریزه (۱۳)

پښتو روزنه ـ ۳۹ مخ (۱۴)

لیکوالي ـ ۷۸مخ (۱۵)

د علامه مرحوم له نوي چاپ سوي اثر ( ادبي نثرونه ، .... ، ۲۰ مخ شخه (۱۶)

وګ: د پښتو ادبیاتو تاریخ ـ ۱۹ مخ (۱۷)

وګ: پښتانه ـ ۸۲ ، ۸۳ مخونه (۱۸)

د پښتو او پښتانه کتاب ته سریزه ـ دریم مخ (۱۹)

وګ: نو موړکي مورخین ته د پوهاند زیار صاحب سریزه ـ دریم مخ ـ ۱۳۵۹ش (۲۰)

پښتو او پښتانه .... ۷۷ ـ ۸۲ مخونه (۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي ـ ۱۲۷مخ (۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه باید وسي ؟

اوس چي د معیاریت په باب زما خبري تقریباً بشپړي سوې او د دغه خوځښت په باب مي خپل انتباهات ټول بې پردې بیان کړل ، پرهغو باندي به دا خبره هم ورزیاته کړم ، چي زه د معیاري لیکني پلوی وم ، پلوی یم او پلوی به یې اوسم. د رنو لوستونکو به زما په دې کوچنوټې کتابګۍ کي ځیني هغه لغتونه ، اصطلاحات او ترکیبونه هم لوستلي وي ، چي د همدې جریان په بهیرکي نوي منځ ته راغلي دي. معنادا چي زه د هغو اصطلاحاتو استعمال ته هم حاضریم چي زما ژبه او فهم یې د هضمولو ورتیا لري .زما مخالفت له هغه اسلوب او جریان سره دئ چي اوس د معیاریت په نامه د پښتو ریښې ورکاږي او تاسي ته مي د هغه په معرفۍ کي خپل وس نه دئ سپمولئ. خدای دي وکړي چي د زړه په خبره سره پوه سوي یو.مګر دا خبره هم ترلمرراته ثرګنده ده، چي نه زما پرخبره څوک غوږنیسي او نه زه په یکړسرد دغه اعتیاد مخه نیولای سم. د دې سرکښه بهېرلاري ته راوستل ډله ییزکار او مفاهمه غواړي ، مسئولانه عمل غواړي ، د موضوع په جدیت سرخلاصیدل غواړي ، د پټو سترګو تقلیدي کارونو دربدل غواړي .... له دې لیکني څخه زما مراد دراتلونکي نسل ته خپلي غاړي خلاصول دي. ما چي دا هرڅه لیکلي دي ، له خپلي خوږې پښتو سره مي د مینې په جذبه کښلي دي. اوس به د همدغي مینې په جذبه خپل څو وړاندیزونه درته وړاندي کړم او د(خذ ماصفادع ماکدر ) مقولې په ویلو به درڅخه رخصت واخلم .

ــ د مروجو لغاتو له پاره د نوو لغاتو له جوړولو څخه د یو څو کلونو له پاره د نصوح توبه وکاږئ. همدا چي موجوړکړي دي ، درته بس دي. پرېږدئ چي پښتو اریانه په دې کي څونه هضمولای سي. دراتلونکي له پاره که څوک تحسین کېدل ،که نفرین کېدل ، همدا جوړسوي ورته کفایت کوي .

ــ که د نوو علمي او تخنیکي لغتو له پاره دلغت جوړوني اشتهادرولاړه سوه،ترجوړولو وروسته یې سمدلاسه د ټول افغان ، بینوا او نورو ویب پاڼو له لاري د نظر اخیستلو له پاره وړاندي کړئ. ترمشورې د مخه یې کورټ مه عاموئ. دا کار که د ننه په هیواد کي ممکن وای خو بیخي به ښه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هورې اوس د پښتو او پښتنو له پاره نه حمايه سته نه زمينه. دا سي لوبه روانه ده ، چي که يې خداى . مه کړه همدا سي دوام وکړ، نه به پښتو پاته وي نه پښتانه

ــ د(سو ) او(شو ) نفاق اچوونکي اورته پيک( پکه ) مه وهئ. دا بهير خپل طبيعي جريان ته پرېږدئ. که يو وخت د ختيځي لهجې په شان ، چي ( سو ) يې ترتاريخي اوژبنيو عوامولاندي په (شو ) بدل کړ او لويديځي لهجې هم دې بدلون ته غاړه کښېښوولـه، خوترښو به لاښه سي او کنه ، په دې باندي نه د پښتو کورورانېږي نه د پښتنو. ختيځي لهجې د غه (سين ) په فرمان جاري کولو سره په (شين) نه دئ بدل کړئ. اوس هم له هماغه تاريخي تجربې څخه کارواخلئ. که د معياري ليکني لارويان د (شين ) له کاروني سره د زړه مينه لري ، نو دي پر همدې مسئله دې ډېر ټينګارنه کوي ځکه هرڅومره چي پرهمدې موضوع ټينګار کېږي ، هغومره د (سين ) عمراوږد ېږي. قوي او غښتلي تلفظونه خپل کار پخپله کوي. که (شين) خپل قوت په دغه تاريخي ازموينت کي په طبيعي ډول ثابت کړ،دلويديځي لهجې هرويونکى به يې د( مورنس پارسي وايي ) په مصداق په . ويلو او ليکلو باندي فخروکړي. او که دا نه وي نو په زورکلي نه ودانيږي

ــ د پښتنو پر باسواد کولو باندي دي بايد زورواچول سي. پښتو ليکنه دي ورزده سي. د هري لهجې . پښتو چي وي ، پروانه لري ځکه دلهجو د هرم سربيرته يوې پښتو ته رسيږي

ــ د پېړيو پېړيو د خيلو لغاتو په اړولو او پښتو کولو باندي مه خپل وخت ضايع کوئ مه انرژي. د غه . وخت د پښتو يو بل کتاب ليکلو ته وروباسئ

پښتو او پښتانه د خيلو لغتونه دي خوار کړي. د خوارى عوامل يې نور دي ، چي ماورته په متن کي . ځوواره مکرري اشارې کړي دي

ــ پښتون د مدنيت په ګېنه سمبال کړئ چي پښتو پخپله ورسره مدني او کلتوري سي. د ښځ له خوا . آس ته کيزه (قيضه ) مه وراچوئ

ــ د نشراتو د بې شمېره تعدد مخه ونيسئ. لږ خپروني ډېري حمايه کړئ ، ويې ولولئ او بل ته يې . ولولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



. ـــ په پښتو ژبه دهري ځانګي کتابونه وژباړئ ، ويې ليکئ او خپاره يې کړئ

ـــ د معيار په پلمه لغتونه مه وژنئ . پرېږدئ چي پښتو ديوه مفهوم له پاره شل لغته ولري.
. دټولو د کارولو هڅه وکړئ

ـــ له لهجو سره مسئولانه چلند وکړئ . دې واقعيت ته ځير سئ ،چي لهجه په پښتنو کي لا تراوسه هم دتقدس درجه لري. له مقدساتو سره بېباکي د کورپاېي نړوي. دلهجو مرګ وژوند هم طبيعي جريان . ته پرېږدئ. ناحقه خپل ځانونه مه په خوني کوئ

ـــ دهري لهجې ويونکي چي ياست ، دخپلي لهجې لغتونه راټول کړئ او خپاره يې کړئ.
داکار همدا نن شروع کړئ. له لهجوي زېرمي سره که اصطلاحات (ګړني) راخوندي سي ، خودزوی (زېری به وي.(١

زه له خپلي پلرنۍ مبني څخه په فرسخو ليري پروت يم. له زلميو کندهاريو خبرونکو څخه هيله (١) کوم چي دخپلي لهجې لغتونه راغونډ کړي. که ماته دمرستي اړتيا احساس سي ، زه ملاتړلی . ولاړيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په پښتو ٔ یې وکاږم که ٔ پرپښتو

ضمیمه

په دې برخه کې زه خپلې هغه لیکنې راوړم چې په بېلا بېلو وختو کې مې د کره لیکنې او نیولوګیزمونو په باب خپرې کړې دي. په دې ډول غواړم وښیم ، چې په دې

هکله زما هڅې نوې نه دي او له ډېره وخته مې خپل نظریات او په ځینو

برخو کې اند ېښنې له لوستونکو سره شریکې کړې دي.په دې لیکنو

کې به لوستونکي ځای ځای پرمکررو خبرو باندې ، چې

. د کتاب په متن کې هم راغلې دي ، پېښ سي

. زه د هغو له بابته بخښنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په پښتو ﹾ يې وکاږم که ﹾ پرپښتو

موږ پښتانه باید د ډېوې مجلې احسان ومنو ، چې په دې تیاره شرایطو کې یې راته په خپله ژبه او پر خپله ژبه د څه لیکلو زمینه برابره کړې ده . په دې لړکې مې د استاد ډاکټر عبدالرازق پالوال هغه لیکنه په ډېره علاقه مندۍ سره ولوستله چې د ډېوې مجلې د دریم کال په لسمه ګڼه کې یې د امریکا رېږغ په نامه خپره سوې ده . د پښتو نشراتو په باب زما په زړه کې له ډېره وخته ځیني خبري راګرزېدلې او د لیکلو زړه مې ځکه نه سوای کولای چې یو خو د چا خبره ؒ الم نشرح هغه الم نشرح ده خو خوله د ملاعثمان غواړي ؒ ، بل مې په ځان کې دوني بیچ هم نه لیدئ چې د دغه رازعمومي جریان په غبرږدي ورسم . اوس چې مې ښاغلي استاد پالوال پدل رامات کړئ نو به زه هم خپل معروضات درته وړاندي کړم . واردواره به یې له ( په ) او (پر ) څخه راونښلوم . د دغو دوو اداتو بېځایه کارولو ځیني ښخوندۍ ، یا باید وو ایم تېروتني پېښي کړي دي . په او سنیو زیاتره نشراتو کې د دغه ادات لکه څرنګه چې باید وي ، نه استعمالېږي او ځای ځای خولادا سي هم راته ښکاره سوې ده چې ( پر ) د (په ) پر ځای په ارادي توګه راوړل سوئ او په پښتو کې دیوراز نوي انکشاف رنګ ورکول سوی . دئ

ؒ په پښتو یې ولیکم ؒ جملې معنا داده ، چې دلیکني ژبه مې پښتو ده ، د مفاهمې وسیله مې پښتو ده ، پاړسي یا انګرېزي یا کومه بله ژبه نه ده او ؒ پر پښتو یې ولیکم ؒ معنا داده ، چې لیکنه د پښتو ژبې په باب ده ، یا یې پر ګرامر ، یا یې پر تاریخ او ادب یا پر نورو اړخونو ږغېږم . زه چې اوس ځیني نشرات لولم زیاتره یې ( پر )د (په ) پر ځای راوړي وي . د مثال په توګه د ډېوې مجلې په همدغه ګڼه کې چې وړاندي مې یادونه وکړه ، یوه جمله داسي ده ؒ ... د مغازو او لویو ځایو نو ښیښې ماتول ، د ماشومانو او ښځو تښتول ، په هغو تېری کول او بیا یې وژل .... ؒ

دلته ؒ په هغو تېری کول ؒ هغه راز معنانه ورکوي ، چې دلیکونکي مراد داده ئ چې له بې سرپرسته ماشومانو څخه په غرب کې داسي ډلې جوړي سي ، چې د مغازو او لویو ځایو نو ښیښې ماتوي ، ماشومان او ښځې تښتوي او ښځو ته بیا بدنامي وراړوي ، بې عفته کوي یې . چې دغه راز مطلب باید ؒ پر هغو تېری کول ؒ وي ، نه ؒ په هغو تېری کول ؒ . د ؒ په هغو تېری کول ؒ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معنا ، چي له دغو تښتول سوو ښځو څخه د نورو ښځو د بېعفتۍ له پاره کار اخیستل کېږي. یالکه . مور چي وو ایو ٌ په ښځویې غلاوي وکړېٌ ، یعني دا غله د جنس له مخي ښځي وې

د ( پر ) دغه راز بېځایه کارول په هیواد کي د ننه هم رواج سوي و . کال مې دقیق نه دئ په یاد ، چي کوم و ، په پوهنتون کي په یوه علمي سیمینار کي ښاغلي زلمي هیوادمل د فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب د مضمون لوستل زما پر غاړه راواچول. پخپله استاد سیمینار ته تشریف نه و راوړی. مضمون د رحمان بابا د مړیني د نېټې په باب نوې څېړنه وه او عنوان یې وٌ رحمان بابا په کوم کال مړدئ ؟ٌ. له دې عنوان څخهٌ رحمان پر کوم کال مړدئ ؟ٌ جوړ سوی و . د استاد مقصد خو دا و ، چي د رحمان بابا د مړیني سنه وښیي چي کومه یوه ده ؟ ۱۱۱۸ هجري قمري که ۱۱۲۸ هجري قمري. خو تر لاسوهلو وروسته د جملې معنا داسي او ښتې وه چي ګویا د لیکوال مطلب دا دئ چي رحمان بابا په څو کلنۍ کي مړ سوی دئ. ٌپر کوم کال مړٌ هم دغه مفهوم افاده کوي. په داسبا چي مې استاد ته د سیمینار بیان کاوه او په ضمن کي مې د څېړني د عنوان یادونه ورته وکړه ، په خندا یې راته وویله چيٌ معیاري کړی یې دئٌ. خوزه پوه سوم ،چي له دغه راز لاسوهلو څخه خوښ نه و. ٌپر کوم کال مړٌ ترکیب مې په ډېره مجله کي هم یووار په سترګه سوی دئ چي په ناسم ډول یې کار کړی و . ما ته دیوې پېښي دوخت د ښوولو له پاره د ( پر )کارول هله غوره ایسي ، چي وغواړو پر کال سربېره یې د میاشتي ورځ هم وښیو . د مثال په توګه :

زه په یوزر ودرې سوه شپږویشتم هجري شمسي کال د دلوې پر شپاړسمه زېږېدلی یم. دلته چي د میاشتي و ورځي خبره راغله نو( پر ) کارول پرځای کار دئ. یا روسانو په یوزرودرې سوه اته پنځوسم کال د جدي پر شپږمه پر افغانستان یرغل وکړ. د ( پر )نور موارد به هم راوړم. پلانی یې په توپک وواژه او هابل یې پر توپک وواژه. په لومړي مثال کي دوژلو وسیله توپک دئ. په چاړه یا سوټي یې نه دئ وژلی او په دوهم مثال کي مطلب دا دئ چي توپک ورڅخه و ، غله پر پېښ سول ، توپک یې څني اخیستی ، ده نه ورکاوه ، ځویې مړکړی او توپک یې څني واخیست. ګویا پرتوپک . ( یې سروخوړ. دا دوه مورده باید سره بېل سي. (۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مقاله د ډېوې مجلې د ثلرم کال په لومړۍ ګڼه ( جنوري ـ ۱۹۹۷ ع ) کې خپره سوه . دهمدې (۱) کال په دوهمه ګڼه کې دراغلي لیک ترعنوان لاندي پوهاند زیارصاحب زما پرپورتنۍ مقاله تبصره . کړې ده . لیک ته په واضح ډول د زیار صاحب نوم نه دئ لیکل سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټکي په ټکي ژباړې ــ تلفظي بېخوندي

دغه بوې په تېرو دوو ګڼو کي د (نوارغزه) پرټکي په ټکي ترجمې باندي خبري سوي دي. په دې باب زما سره یوه خاطره سته چي خپله لیکنه به په همدې پیل کړم. زه چي په کابل کي وم، د باختر اژانس په پښتو څانګه کي مي څه موده د بالمقطع اجیر په توګه او بیا وروسته د رسمي غړي په صفت کارکاوه. د دفتر غړي ټول د پښتو ژبې خواخوږي وو. مشر مو د پښتو ژبې شاعر، لیکوال او په مطبوعاتو کي د نسبتاً اوږدې سابقې لرونکی و. چي رشتیاسي، په ترجمه کي یې خارق العاده استعداد درلود. په دو مره دقت او چټکۍ سره چي ده ترجمه کوله، زموږ دیوه هم له وسه پوره نه وه. له دې ټولو صفتو سره بیا هم د مقاماتو په نزد کړلی و ځکه چي د واکمن ګوند غړیتوب یې نه لاره. موږ ټولو په ژباړه کي یو راز بیروکراتیک او اداري خنډونه درلودل او هغه دا چي د مطالبو په ترجمه کي مو "میرزایي" هم په پام کي نیوله. هغه مو کوله چي اداري مسئولیت ځانو ته متوجه نه کړو. دې کار ټکي په ټکي ترجمې ته اړتیا پیښوله او هغه هم په دې دلیل چي که سبا چا پوښتنه وکړه پلانی ټکي ولي دا راز ترجمه سوی و؟، موږ به ورته وو ایو" چیزی که دخط بود". استاد پوهاند زیار صاحب به هر وخت زموږ له ټکي په ټکي ترجمې څخه ډېر سر ټکاوه. یو وخت د (نوارغزه) له ترکیب سره مخامخ سو. د دفتر په یکتیا والو غړو کي یوه (تړانګه) پېشنهاد کړه، ما (تراډه) وړاندي کړه او بل یوه بل څه. یوه خولا په ټوکـــــو کي (پټۍ) سمه ترجمه ورته وبلله او د (قطع نوار) مثال یې راووړ، چي ډېر موپر وخندل. د مقاماتو له ځپېړي څخه د خلاصون په خاطـــر باید د (نوار) له پاره یوه کلمه پر (غزه) باندي زیاته سوې وای. کنه نو سمه خبره خو دا وه چي یوازي مو (غزه) لیکلې وای. په پای کي دا سي سوه، چي که به له نوارغزه سره زه مخامخ سوم، تراډه مي لیکله او نورو به تړانګه او وزما په خیال د ترجمې د اصلاح په وخت کي دواړه (دغزې په ناوه) اوښتل! چي دا به بیا تر هغو دواړو لا شوډنګ و. کله کله چي به د دفتر د مشر په غیاب کي ما یا بل چا د ژباړل سوي متن د سمولو چانس مونده نو به یا تړانګه تېربدله یا به تراډه. په دا سي حال کي چي (تراډه) او (تړانګه) دواړه له یوې جغرافیایي ساحې سره راوړل، بېخونده ایسېدل. په پای کي لکه چي (تړانګي) میدان یوو ړ او یو وخت مي له بي بي سي څخه هم واوریدله. مشکل دا و، چي له پوهاند زیار صاحب


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته چي هروخت به پرموږ را ګرزېدی او ګټوري لارښووني به یې راته کولې ، نورنونه یوه ټاکلې موسسه وه چي ژبه دي کره کړي اونه هم یوه واحده مرجع. د اژانس پښتو څانګې یو راز پښتو لیکله اوورځپاڼو بیا پرخپل سر ډنګوله اوبل رازژبه یې لیکله. په داسي حال کي چي د اژانس ژبه باید تر ټولو غوره ، کره ، خوندوره او د اولس ژبې ته نزدې او په اصطلاح معیاري ژبه وای داځکه چي ډېرو خلکو اورېدله. د کابل راډیوویندویو به بیا د نویو کلمو په تلفظ کي پرابلمونه درلودل چي د څونا سمو تلفظونو په باب به څو کرښې وروسته وړغېږم. په نړۍ کي د مطبوعاتو ژبه تربل هر ځای ډېره کره او فهم ته نزدې ژبه وي مګر زموږ د اژانس د ترجمې په څانګه کي ، چي غړي یې ټول زماډېرصمیمي دوستان او پرپښتني کلتورمین خلک وو ، د دفتر له مشراویودوو تنو پرته چي د پښتوژبې په لیکنه اوژباړه کي یې سابقه درلوده ، نورټول زما په ګډون غیرفني خلک وو او یوازي د ماموریت د تغیرو تبدیل په لړکي یادیوې ګولې مړۍ پیدا کولو په خاطرتر اژانسه رارسېدلي وو. همدا علت و ،چي د مطبوعاتو په ژبه کي بېخوندي لیدل کېدله او د خلکو له ژبې څخه ورو ورو پردۍ کېدله. په دې برخه کي پښتو یوازي نه ده ، بلکي پارسي ډېره پردمخه ده. اوسنۍ لیکلې پارسي . خو د اولس له ژبې سره بېخي ډېره فاصله لري

د تلفظي بدلون په برخه کي به زه یو څو کلمې د نمونې په توګه راوړم چي اولس یې یو راز او کابلي . سوو پښتنو او دهغو په تقلید یې مهاجر سوي پښتانه بل راز تلفظ کوي

دنده ـ دې کلمې دوظیفې ، مصروفیت په معنا مطبوعاتو ته له څو کلونو راهیسي لار موندلې ده. په لویدیځه لهجه کي یې د ( بنده )پر وزن تلفظ کوي یعني فشاریې پردوهمه څپه راوړي. د کراچي په ښار کي مي له پښتونخوا څخه دراغلو پښتنو له خولې هم د دغي کلمې تلفظ کټ مټ دلویدیځي لهجې د تلفظ په شکل اورېدلی دئ. په پښتو تشریحي قاموس کي یې هم فشارپرورروستۍ څپه راوړی دئ. خو د کابل راډیو دویندویو په پیروۍ یې ځیني کسان فشارلومړۍ څپې ته ورکوي او د :(لنډه ـ داوږدې ضد ) پروزن یې تلفظ کوي چي زما په خیال سمبده غواړي. دغه راز

اغېزه ، خواله، وړانګه ـ دا کلمې ګرده پرورروستۍ څپه فشار لري. پښتو تشریحي قاموس ( اغېزه ) نه ده راوړې خو ( خواله )ته یې پرورروستۍ څپه فشارورکړی دئ. په رواج سوي تلفظ کي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لو مړۍ څپې ته فشاروركول كېږي چي ما ته د كندهاريانو په اصطلاح په زامه كي خوندنه راكوي. ځكه ( خواله )كه دلو مړۍ څپې په فشارتلفظ سي د ( خوا +له ) شكل اخلي ، چي ( ثنګ ته )معناوركوي. (( خواله مي راسه چي خواله درسره وكړم ) ) يعني ثنګ ته مي راسه ، چي زړه درته تش كړم. ماته خوسمدلاسه ددغو كلمو په باب په كلاسيک ادب كي د څېړني امكانات نسته خو د ( . هربنده خپله يې كرونده ) متل مي د (هربنده خپله يې دنده ) په شكل ترستركوسوى دئ

البته داخبره بايد وسي ، چي تلفظونه مقدسات نه دي، چي بايد بدلون ونه مومي. لكه دكلموشكلونه چي بدلېږي ، دغه رازيې تلفظونه هم پرله اوړي. خوكه دتلفظ اوښتني التباس . پېښاوه ، هلته نوبياكلكه پاملرنه غواړي چي مثال يې ماپه ( خواله )كي وړاندي كړ

د سمبر ۱۹۹۲ ع ۱۴

(ټورنټو ـ كاناډا(۱

دالنډه ليكنه مي (( ډ يوې ) ) مجلې ته ولېږل خولكه چي دچاپ د واري تر رسېدو وړاندي ډ يوه (۱) . له بده مرغه خاموشه سوه اونوره چاپ نسوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر پښتو کره لیکنه باندي د نیولوجیزم سیوری

د ژبې کره کول یوه اکاډمیکه اړتیا ده. د نړۍ د ټولو ژبو ویونکو دا اړتیا حس کړې او ور سره سم یې د خپلو ژبو د بېلابېلو ګړدودونو (لهجو) څخه یوه سمه، سوچه، پر اصولو برابره او ټولو ته د منلو وړ ژبه را ایستلې او عامه کړې ده. د کره کولو په بهیر کي د یوې ژبې وینګ (تلفظ) لوستنګ او لیکل درې سره په پام کي نیول کیږي. تر کومه ځایه چي ما ته معلومه ده د نړۍ په ټولو متمدنو ژبه معیاري ژبه وي او د هغې له مخي وګړي خپله ژبه سموي. د (Media) هیوادونو کي میډیا پښتو ژبې کره کېدل هم د وخت غوښتنه ده او د خوښۍ ځای دئ چي دې بهیر ته له تېرو د پرشو پنځه د پرشو کلونو راهیسي ډېر پام اړول سوئ دئ. نیولوجیزم (لغت جوړونه) د ژبې د کره کېدني یوه برخه ده. دا چي موږ ته د پښتو نیولوجیزم څرکونه د امیر کروړه رانیولي تر حمزه شینواري پوري رانښول کیږي، معنا یې دا نه ده چي په دغه اوږده واټن کي د ژبې د معیاري کېدلو له پاره هلي ځلي کېدلې. د امیر شېر علي خان، امیر حبیب الله خان او امیر امان الله خان په وختونو کي چي د پښتو د رواجېدني له پاره کوم تلاښونه سوي دي د ژبې د معیاري کېدني عنصر پکښې کورټ نه لیدل کیږي او نه د هغه وخت واکدارانو او د پښتو ژبې خواخوږو د معیاري کېدني اړتیا محسوسه کړې وه. دا د ژبې د ژوندي کېدو او بابېدو له پاره لومړنۍ هڅي وې چي موږ یې د احسان بشپړ منونکي یو. که تاسي د امیر شېر علی خان د وخت پښتو نظامي لقبونه او د امیر امان الله خان د وخت پښتو مرکې لیکنۍ ژبې ته ځیر سئ، و به وینئ چي د عربي ژبې په پېښبو یې پخپله ژبه کي یو لړ مقلوب اضافي ترکیبونه په پېڅر سره کوترم کړي دي. پخپله د پښتو مرکۍ نوم د پښتو پر معیار برابر نه و (مرکه د پښتو) یې بلله. زما مطلب کورټ دا نه دئ چي خدای مه کړه د هغو خواخوږو هڅو ته په درنه سترګه نه ګورم. د هغوی هلي ځلي د اوسنیو د لاري مشال وې او چا خبره سعي یې مشکوري دي. زما مطلب دا دئ چي د پښتو د کره کېدني هڅي ډېر زوړ تاریخ نه لري. له بده مرغه په تېرو شلو د پرشو کلونو کي چي چا د پښتو نیولوجیزم په وړاندي خپل ملاحظات ښوولي دي، ټولني ته داسي معرفي کیږي چي ګویا هغوی د پښتو د کره کېدني په مقابل کي ټینګار کوي. په داسي حال کي چي موضوع دا ډول نه وه او نه ده. پر پښتو باندي د عربیت تر اغېزې لاندي د ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکیبونو عمومي توب تېول پښتانه خوا خوږي ځورول. د ملایی پښتو دغو عبارتونو (په کتابو کي یې دفقه راوړي دي)، (نیت د لمانځه د اختر داسي دئ)، (شهادت ورکوم په وړاندي د محکمې)، (بر قراره دي وي تخت و بخت د پاچا د اسلام) او دې ورته جوړښتونو زموږ پر ژبه سیوري اچولئ دئ. د دغو جوړښتونو د سمون له پاره له طلوع افغانه رانیولې بیا د وخت تر پښتو ټولني پوري ټولو د خپل اهلیت و صلاحیت په اندازه کار کړئ دئ او دا چي کافي و یا نه و، بېله خبره ده. زما مشاهدات راښیي د کره کېدني (معیاري توب) بهیر چي هر وخت او په هر نیت پیل سوئ دئ، پای یې پر لغت جوړني (نیولوجیزم) دربدلئ دئ او نوري چاري ځني پاته سوي دي. زما د مسالې پر همدغه اړخ باندي غواړم خپلي لیدني او کتني بیان کړم او ورسره سم د دغه بهیر د ځینو نورو اړخونو په باب هم وږغېږم.

لکه وړاندي چي مي وویل د پښتو نیولوجیزم څرکونه موږ ته له امیر کروړه رانیولې بیا تر حمزه شینواري پوري راښول کیږي، خو د دغه بهیر د چټکتیا او زیاتي را برسېرېدني زمانه له تېرو درو لسېزو را پیلېږي. دغه کلونه دي چي د پښتو لغت جوړوني یا نیولوجیزم د اړتیا او څرګندتیا په برخه کي شعوري هڅي پیل کېږي او ور سره سم یې پلویان او مخالفین میدان ته راوزي. د نیولوجیزم بهیر که چا پیل کړئ که یې کړلئ دئ، دواړه د پښتو ژبي خوا خوږي وو او دي. دواړه له خپلي ژبي سره د مینې په مقصدلاس و پښې وهي. دا نه د جګړې ذکر دئ او نه د سیاست میدان چي ځوک پکښي ماته خوري او ځوک پکښي بریالی کیږي. که د پښتو نیولوجیزم یا د پښتو کره لیکني بهیر ته په دغي روحیې سره ځوک وګوري اوو یې څېړي زما په خیال ګټه به یې ډېره وي. نیولوجیزم په حقیقت کي د پښتو کره لیکني د لوی بهیر یوه کړۍ ده. نوري کړۍ یې د زړو لغتونو را ژوندي کول (ارکاییزم)، له ګړدودونو څخه د لغاتو را ایستل او د دغه راز له نورو ژبو څخه را پورول دي. لکه وړاندي چي مي وویل د پښتو نیولوجیزم منظم او سیستماټیک بهیر له تیرو درو لسیزو را پیلېږي خو د ارکاییزم برخه یې یو څه مخکینی تاریخ لري او کله چي موږ د پښتو د لرغونو لغتونو د بېرته را ژوندي کولو او یا له محاورو څخه و لیکني ته د را لېږدولو پر بهیر وږغېږو، نو د انصاف په حکم باید د فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب (۱) هلي ځلي له پامه وانه چوو. استاد د لرغونو لغتونو یوه لویه برخه نظم او نثر ته را نقل کړې ده او ډېر داسي لغتونه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه کي کارولي دي چي په محاوره کي وو خو قاموسونو ثبت کړي نه وو. ارواښاد استاد ګل پاچا الفت د (لودي پښتانه � د پوهاند رشاد تالیف) په سریزه کي لیکي: ٌ.... ښاغلی رشاد په پښتو لیکلو کښي داسي لغاتو (زاړه لغات � م. هوتک ) ته زیات مایل دئ او د پخوانو په شان ځیني زاړه لغات په زاړه ډول استعمالوي، دا کار د ځینو مړو یا نیمژواندو لغاتو د ژوندي کولو د . پاره ښه دی او ده پکښي هو دغه ګټه لیدلې ده ٌ

د دغو لغتونو لیست زما د همدې لیکني تر بحث وتلې خبره ده ځکه نو نه پر ړغېږم. داسي ښکاري چي د کره لیکني بهیر اوس یوازي نیولوجیزم ته را لنډ سوئ دئ او نوري برخي یې په دومره جدیت نه پالل کیږي لکه د نیولوجیزم دا . د کره لیکني له پاره چي ښاغلي استاد پوهاند زیار صاحب کوم لارښود کتابونه (پښتو لیکلار ) او (ویي پوهنه ) کښلي وو اوس د انځروني ګل سوي دي. نوم یې ستنه خو موندل یې سخت دي دا ځکه چي پر هیواد باندي د نازل سوو بخولو (فاجعو ) له شامته د فرهنګي زېرمو په ګډون زموږ هر څه پوپنا سول. په هغو کتابونو کي د کره لیکني عمومي اصول او ورسره سم یې یو شمېر مثالونه راوړل سوي وو. خو د هغو په دوام نور تشریحي او تفسیري کتابو ته هم اړتیا وه او سته. د مثال په توګه د پښتو فعلونو د ګردان په برخه کي چي د (ورسېدئ، ورسېدلئ، ورسېدو، ورسېده، ورسېدلو، او رسېدو ) په وړاندي (ورسېد ) د استاد په نظر معیاري ګڼل سوئ دئ. (ګوربت مجله، دویمه ګڼه، لومړئ کال، ۷۴ مخ) د دې لړۍ د ښه تراپوهېدلو له پاره په کار وه او ده چي د پښتو فعلونو د ګردانونو چوکاټونه په یوه مجموعه کي ولیکل سي او په پراخه بیمانه تکثیر سي.زما د معلوماتو له مخي د روسي او فرانسوي ژبو په زیاترو ډیکشنریو کي د افعالو د ګردانو یوه لویه برخه د ضمیمي په توګه ور سره چاپ سوي دي. د افعالو غیر منظم ګردانونه خو یې هرومرو راوړي وي، ان د منظمو افعالو ګردانونه یې هم ورسره مل کړي وي. په روسي ژبه کي خو د پدیړونو ( ) د ګردانونو غټي غټي مجموعې په ځانګړې توګه په غټ تېراژ خپرې سوي دي او د هر چا لاس ته ور رسېږي. په پښتو کي دا کار په پخوانیو کتابو کي یو څه سوئ دئ خو په اوسنیو کي یا نه دئ سوئ، یا زه نه یم پر پېښ سوئ. زما پیشنهاد دا دئ چي د پښتو افعالو د ګردانو مجموعې دي هم چاپ سي او په هغو کي دي د مثال په توګه د (ورسېدل) مصدر ټولي صیغي درج سي (زه ورسېدم، ته ورسېدې، دی ورسېد ، تاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېدا ست،دوی ورسېدل، مونږ ورسېدلو )دغه راز نور افعال هم درواخله.په دی ډول به نو د ( ورسېدلم، ورسېدلې، ورسېدلاست، ورسېدلو ) د لیکلو مخه نیوله سوې وي، ځکه د استاد په . نظر غیر معیاري دي

زه چې اوس د کره کتني اوسني بهیر ته ګورم لارویان یې له نیولو جیزم (لغت جوړوني ) پرته له نورو اړخونو څخه لار چپوي زما په خیال په دې برخه کي یو څه عیني ستونزي ستله. د مثال په توګه په ارکاییکو لغتو پسي د زړو متنو لټول یا له ګړدودونو څخه لغتونه را غونډول خو ستونزمن کار دئ ځکه نو د پښتو ویی پانګې (لغوی زېرمي ) نور درې اصله د هېریدو په درشل کې دي او یوازي د کاغذ پر مخ سته خو په عمل کي نه پلي کیږي. ښاغلي صمیم صاحب د جملو د جوړښتت په برخه کي ډېري خواری ګالي، خورا ښه، پر اصولو برابر، خوندور رغښتونه راښیي خو څوک یې لږ مراعتوي. علت یې دا دئ چي د پښتو د سوچتابه شوقیانو ته دا ډېره اسانه ده چي لغتونه پښتو کړي او نور نو ورته خوشاله وي چي ګني کره لیکنه یې وکړه. دا بهیر که د خوند و شخوند خواوي لري د پاملرني او اندېښني وړ اړخونه هم لري چي یادونه یې زه یوازي او یوازي په دې نیامت کوم . چي پر خپله ژبه او خپلو هم ژبو مې زړه خوږیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



: د لوستنګ او وینګ ستونزي

پښتو الفبې (ابېڅې) لا تر اسه پر دې نه ده بریالۍ سوې چي د ژبې ټولي ږغېزي ځانګړتیاوي دي وښولای سي، د خج له پاره خو هډو څه سته نه. پښتو ته نوري جوړوني د کتاب، مجلې، ورځپاڼې له لاري رسېږي، له لیک څخه د پښتو لغت سم لوستنګ که ناشوني نه دئ نو ستونزمن خو هرو مرو دئ. له دې ستونزي سره زه پخپله مخامخ سوئ یم ما د پښتو د پخوانی مقنن او د دفتر څښتن (شېخ ملي) نوم وار د واره په کتاب کي ولووست، یو وار به مي وزن ورته (لړګی) وټاکه، بیا به مي پر وزن ووایه او کله به مي له (ادې) سره په یوه قافیه کي برابر کړ په پای کي د (National) د ملي : خوشحال خان یوه بیت له جنجاله خلاص کړم

په سوات کي دي دوه څیزه که خفي دي که جلي

مخــــــــــزن د دروېزه دئ او دفتر د شېخ ملي

. ګویا (ملي) د (جلي) پر وزن دئ

اوس مي د پښتنو له خولې (بیلګه، دنده، خواله، اغېزه) په څو رازه اورېدلي ده، علت یې دا دئ چي دوی هم پورتني لغتونه د لیک له لاري زده کړي دي، زما په اورېدو خو د دې څلورو سرو لغتو فشار پر وروستۍ څپه دئ ، او د (لنده یا ډنډه) پر وزن باید وویل سي. په اولس کي مي پر لومړۍ څپې فشار نه دئ اورېدلئ، د کراچي په ښار کي د اوسېدونکو پښتنو په منځ کي د (دنده) لغت ډېر باب دئ، (په څه دنده لګیا یې؟) هغوی یې هم فشار دوهمي څپې ته ورکوي، ما ته دا خبره لا سمه روښانه نه ده چي په وینګ کي بدلون ته نیمګړتیا ویلای سو که نه؟ وینګ خو به د چا خبره د قرآن توری نه وي چي که په ناسم ډول تلفظ سي، له سره ایمان ځي. خو زما په فکر که له ناسم وینګ سره التباس پېښ سي نو بیا د اند ښښنې وړ خبره ده. (خواله) که د لومړۍ څپې په فشار وویله سي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خوا-له) یعني (طرف-ته) مانا ورکوي، (خواله مي راسه) یاني (څنګ ته مي راسه) خو که فشار لومړی ځپې ته ورکوو نو بیا (د زړه راز)، (د زړه د درد خبري) مانا لري. د دغي ستونزي یو اړخ د ښاغلي استاد پوهاند زیار صاحب په سپارښتونو کي بیان سوئ دئ (ګوربت مجله ۷۸ مخ، ۸ نومره) خو هوري یې د خج له بابته سمعي ولفظي ټکرته اشاره نه ده سوې. هلته د (لرښت) او (لګښت) ټکر ته ګوته نیول سوې ده. زما په ګومان د خج ستونزه هم جدي ستونزه ده او تر هغو چي موږ سمعي و بصري وسایل و مومو � سمدلاسه که له فونومیک الفبې یا نورو اشارو څخه کار واخلو، ښه به وي. د لیک له مخي د لغت زده کول یوه بله ستونزه هم لري او هغه د ټایپیست له خوا نا سمه لیکنه ده. لکه (ښېلنګونه وتړنګونه) چي یو ځای د (ښېلنګ او تړنګ) په شکل راوړل سوئ دئ (ګوربت مجله � ۷۸ مخ). د ناسم لوستنګ او وینګ ستونزه د پښتو الفبې (ابېڅې) د څو واره اړولو را اړولو په خاطر څو چنده سوې ده. موږ ته له پخوا څخه د پښتو ټولني فیصلې پرتې وې او له هغه سره مو ځانونه عیار کړي وو. ما پخپله سره له دې چي د ښونځي په لومړیو ټولګیو کي مي (کښې) هم لووست او هم مي کیښ، خو کله چي مي هغه هېر کړ او پر ځای یې له (کي) سره هم په لیکلو او هم ویلو کي عادي سوم، ناڅاپه د باړه ګلی فیصلې را باندي راغلې ((سپېدې)) ته چي به مي څه لېږل، مجبور وم چي د شلو دېرشو کلو عادت پر خلاف کار وکړم. د (یاګانو) یو راز لا هم د (نیولوجیزم) په (Neologism) کارولو بیا بل غم پېښ کړئ دئ. له اوږدې یا سره میني خو ښه واړاوه! په اوږده یا سره د نیولوجیزم وینګ که یوه انګرېز ته واورول سي، نو به یا په پوه نه سي، یا به له خندا ورته شین وي. د جوړونو په برخه کي دا خبره منم چي دا کار د مسلکي پوهانو Suffix او Prefix دنده ده خو اوس زه پکښې یو راز انحصاریت وینم. زما مخي ته اوس سم دلاسه د له پاره دوه لغتونه چي دواړه د ژبې د مسلکي پوهانو له خوا کارول سوي دي، د (مختاړي او روستاړي) او (مخوندي اووشاندي) په شکلونو کي پراته دي، خو دا دوهم ته یې څوک زړه نه ښه کوي. (پروفیسر ګل جنان ظریف ورته مخنیاښی او وروستیاښی ټاکلي دي). د کره لیکونکو په لیکنه کي هم کله کله د (خو) ځای موندل کېدلای سي. د مثال په توګه (ښېلنګ د یوه تاړي... په زیاتونه یا پیوندونه له یوه ساده ویي څخه رغېدنه مومي) له (رغېدني مومي) پر ځای ماته (رغېږي) فصیح و خوندور ښکاري. د (په) او (پر) د کارولو په برخه کي بیا هم ملاحظات لرم. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وانښه پر خوله رسی پر غاړه) کي خو (رسی پر غاړه) د چا خبره د خدای رضا ده، مګر (وانښه پر خوله) نو د (حسن او حسین غزا) ده. ذهن مي یې هیڅ نه سي منلای. زه د (وانښه پر خوله) څخه داسي مفهوم اخلم چي (وانښه) د خولې (د پاسه) پراته دي. نور مثالونه یې (مچ پر پزه)، (برېت پر شونډو) دي. چي (مچ) او (برېت) دواړه په ترتیب سره د (پزي) او (شونډي) د پاسه دي. (وانښه) خو باید (په خوله) کي وي نه (پر خوله). که دا لاندي مثالو ته ځیر سئ و به وینئ چي په ټولو کي (پر) د (د پاسه) په مفهوم راغلئ دئ.

پاس پر کمر ولاړه ګله

نصیب د چا یې او به زه در څېړومه

++++++++

چي مازیګر سي زړه مي ښه سي

پر ګودر جوړ سي د منګیو کتارونه

++++++++++

++

ــ پر څه ټګ سړي واوښتم، پر خوله یې غوزار کړم

ــ پر خره سپور خر ځیني ورک

ــ ولي مي پور نه راکوی؟ وروره! نادار یم ناګاره نه یم، څه وخت مي لا د خدای پر اویجه پرېږده که خدای کول پر رشه به دي غاړه دروباسم.

ــ ښځي په ښراوو کي وایي: د مغزي پر دړه غوزار سې، دا کار د کړو و چي تا وکړ.

ــ جنګ پر غله دئ، غله په کندو کي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې مثالو څخه به څرګنده سوې وي چي (پر) د یو شي د پاسه مفهوم ښندي. ځکه نو (وابنه پر (خوله) معنا (وابنه د خولې د پاسه) او (وابنه په خوله) یعني (وابنه په خوله کي نیولي .

دا چي ویل کېږي ٌله (په) سره (کي) هرومرو باید راوړل سيٌ ، زما په خیال قاطع حکم نه دئ. تاسي دا لاندي مثالونه ولولئ چي اولس یې په ورځنیو خبرو کي کاروي :

ـــ پلانی پیاز په ګنډه په ډوډۍ پسي ګرزي. یعني ډېر غریب دئ .

ـــ پلانی ډېر خواګرځن عادت لري، نصوار په خوله ،خبري کوي .

ـــ زوی مي کور پرېښوو زه په منډه ځیني راغلم .

ـــ هلکه ! په ماشه ګوتي مه وهه، نه وینې چي توپک ډک دئ .

یا دا لنډۍ هم واورئ :

ګل مي په لاس درته ولاړ یم

یا مي ګل واخله یا رخصت راکه چي ځمه

په پورتنیو مثالو کي ضمني (کي) سته خو حذف سوئ دئ .

ٌطالبان غواړي پر ټولو قومونو (لږکیو) د پښتنو کلتور ومنيٌ (ګوربت مجله � دویمه ګڼه � ۱۲ مخ) (کلتور) په قومونو منل کیږي، نه (پر قومونو). که د (منلو) پر ځای (تپل) وای نو (پر قومونو) ورسره جوړېدل. (طالبان غواړي پر قومونو (لږکیو) د پښتنو کلتور و تپي)د (په) او (پر) بیځایه کاروني د متقدمینو متونو ته هم لار موندلې ده. د احمدشاه بابا دېوان په نوي چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۹۹م کال) کي د بابا کلام کي د (په) پر ځای (پر) د سوتي په زور ځای سوئ دئ او ګویا د بابا کلام معیاري سوئ دئ. آیا دا کار به مو په څېړنه کي بې لاري نه کړي ؟آیا راتلونکي په دا سي فکر ونه کړي چي د (پر) دغه راز کارول له احمد شاهي عصر څخه را پېل سوي دي. زه دا کار د لوی . استاد علامه حبیبي خبره" پر پښتو خوارکی باندي ظلم" بولم

د پښتو لغت جوړوني د څلورو اصلو فېصدی خو کوړت په پام کي نه نیول کیږي. مېږه هغه دئ چي ډېر یې جوړ کړل. له څوارلس سوو کالو راهیسي عربي دود سوی لغت ته دا سي په کرکه کتل کیږي لکه چي دا نن چي د چلنارو الو لښکر زموږ پر خاوره راتوی سوي دي. که چا د (هیواد) پر ځای (وطن)، که یې د (لامل) پر ځای (علت، سبب) وکېښ د (ناکره) ګوزار پر کیږي. پر د خیلو لغاتو چي پېږی واوړي نور نو د ژبي خپل مال وګرزي. د دري ژبي په کمالاتو کي یو دا راوړي چي دري ژبي خورا ډېري د خیلي کلمې په ځان کي دا سي هضم کړي دي چي څوک د پردي لغتونو خیال نه سي ورباندي. پوهاند دوکتور جاوید په خپله یوه لیکنه کي لوستونکي (سبا ناري)ته وربولي او لیکي چي مېز، صندلي، چاینکه، قاشق، نعلبکی ټولي پردی کلمې دي یوازي وچه ډوډی (نان) د دري ژبي خپل مال دئ مګر دوی هیڅ کله و مېز، صندلي، چاینکه، قاشق، نعلبکی ته لغتونه نه جوړوي. موږ لګیا یو شنبه و یکشنبه پښتو کوو ! د عربي ژبي د خیلو کلمو چي زمږ ژبه په دې څوارلس سوه کاله کي و نه خوړله، نور یې هم نه سي خوړلای. زما دا خبري باید په هیڅ راز د (ملایي عربیت) په تر منځ راښکیل یو . له یوې خوا مو Extremism مانا تعبیر نه سي. خبره دا ده چي موږ د دوو (جرګې) ته (حل و عقد)، (روغتون) ته (مستشفی) رواجېږي له بلي خوا مو د سلګونو کلو دود سوو کلمو ته هر څوک په خپل سر نوي بدیلونه ایږدي. د سیاست په ډګر کي خو مو ددوو ایکستریمزمو په انډ و خر کي وطن بایلو � نه پوهېږم چي په ژبنی برخه کي به څه شي د لاسه ورکو؟ دري ژبه چي د دومرو د خیلو کلمو سره نه مره سوه نه تر سیالانو کمه، پښتو به ولي سي؟ تاسي تلوېزیون د منصور له داره راکښته کړئ نوم به یې خدای خیر کړي. (مېږه یې دار ته خېژاوه � میرمني ورته وویل چي ماته له ښاره کوښي راوړه !) د دود سوو نومونو له پاره نوو ټاکنو سمه نتیجه هم نه ده ښندلې. (کوته سنګي) هیچا هم (میرویس میدان) نه کړ او (خوشحال مېنه) هزارګان لا هم په داغه نامه بولي. د ځینو لغتونو دوبلیکېټونه بیخي د ورکېدو په حال کي دي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(تلوار) کلمه خو هډو کاریږي نه. او داسي نوري هم ډېري بېلګي سته. ځیني چي په لهجو کي پاته دي هم د زکندن سلګۍ وهي. په لهجه کي (سرانښ) د (حریص) په مانا سته مګر د محلي دیالکټ . ټاپه یې خوړلې ده او پر ځای یې د (وړسترګي) ثقیل لغت کاریږي

زما په نزد د نیولوجیزم په برخه کي په مورډ (کډي مو باریږي، زوی مي را ملا که) کانه سوې ده. موړته اوس د ځان او ژبي د فنا و بقا مساله پرته ده (کره) و (ناکره) خو یې پر لویه لار پرېږده. که د کوچني ملا اذان اورئ نو کومه فیصدي چي د پښتو د لغوی زېرمي له پاره د کره لیکني د لارویانو لخوا اینبول سوې ده ، هغه مراعات کړئ. او که مراعات نه سي نو به پښتو ژبه د نیولوجیزم تر ګونډو لاندي سي او په دې ډول به د هند و اروپایي ژبو په چوکاټ کي یوه بله ژبه وزېږي او نوم به (یې نو ګوره چي څه وي ؟(۲

د مارچ لسمه ۲۰۰۰

ټورنټو � کاناډا

. علامه رشاد مرحوم د مقالې دلیکلو پروخت ژوندی و (۱)

دا لیکنه په ګوربت مجله کي (لومړي کال � څلورمه ګڼه � اپرېل، مي ۲۰۰۰ م) خپره سوه. په (۲) ورپسې ګڼه کي ښاغلي آصف صمیم د هغې او ښاغلي شپون د لیکني په جواب کي یوه مقاله خپره کړه (لومړی کال � پنځمه ګڼه � جون، جولای ۲۰۰۰ م). په دې مقاله کي دینولوجیزم پراړتیا خبري سوي وې ، چي ګټوري خوبیخي ډېري وې ، مګرزمادا ند ښښنوجواب ځکه نه و ، چي زه خودنیولوجیزم له واقعي او اصولي مفهوم سره مخالف نه یم. نیولوجیزم خودنوو علمي ، ساینسي ، تخنیکي ، سیاسي نومونو له پاره روا دئ ، نه په ژبه کي دخورلسوپېړیو اوږده عمرلرونکولغتوله پاره. ددې لیکني جواب ماوکیښ او ګوربت مجلې ته ورولېږئ. دخپرېدو په باب یې پوره ډاډه نه . یم. دغه جوابیه مقاله به د همدې ضمیمې په ۱۲۹ مخ کي ولولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمتروکواوارکاییکو

## لغتونوپه ژوندي کولوکي دعلامه رشاد(رح) هڅې

د پښتوژبي اوبلي هري ژبي لغوي زېرمه دخلوروچینوله لاري شتمنه کېدلای سي. یوه یې دمتروکواوارکاییکولغتونو بیرته ژوندي کول او بابول ( دودول ) دي. نوري درې یې له لهجوڅخه رااخیستنه ، له نوروژبوڅخه پورونه او دنویولغتونوجوړونه ده. متروک لغتونه یووخت په ژبه کي مروج لغتونه وو اوپه ورځنیومحاوروکي کارېدل. دې پوښتني ته چي ولي دزمانې په تېرېدلوسره دالغتونه له استعماله لوېدلي دي ، ژبپوهان جواب ویلای سي. زه یې نه صلاحیت لرم اونه لایسنس. خودومره پوهېږم چي ځیني لغتونه دخپل ژوند په اوږدوکي له عمومي ژبي څخه لهجوته رامحدودسي اوبیاپه ټاکلې جغرافیایي ساحه کي دکورنیوترچوکاټه پوري دګوښه کېدلو پروسه تعقیب کړي اوورپسې له استعماله ولوېږي چي دانوزماپه فکردیوه لغت ( ویي ) مړینه بایدوبولو. دارکاییکواومتروکولغتونوبیاژوندي کول یوه ژبنۍ دنده ده چي ځیني پوهان یې په مینه اومسئولیت سره پالي. علامه رشاد(رح) یوله دغو پوهانوڅخه و، چي دزړولغتونوراژوندي کول . او بیرته رواجول یې د پښتوژبي دغناله پاره ګټورکارباله اوپه ټینګه یې پاله

اروابناداستادګل پاچاالفت پخپله هغه تقریظ ډوله یادونه کي ، چي د پښتوټولني درئیس په توګه یې دعلامه رشادمرحوم د( لودي پښتانه ) دکتاب په سرکي راغلې ده اوپه هغې کي یې دعلامه استادله خوادزړو لغتونودکارولوپه برخه کي ، سربېره پردې چي داکارېې دافادې د ګرانولوسبب ګڼلی دئ ، بیاهم داسي کښلي دي:"... ښاغلی رشادپه پښتولیکلوکښې دغسې لغاتوته زیات مایل دی اودپخوانوپه شان ځیني زاړه لغات په زاړه ډول استعمالوی ، داکاردځینو مړو یا نیم ژواندولغاتودژوندی کولودپاره ښه دی اوده پکښې همدغه ګټه لیدلې ده. زه داکتاب (یودروندااثرګڼم اوخپل ملګری ته ددغه بریالیتوب تبریک وایم." (۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه استاد مرحوم چې د متروکو لغتونو د ژوندي کولو تلاښ کاوه ، حق یې درلود .ځکه که دا لغتونه په ورځنیو خبرو اترو او لیکنو کې کارنه سي او له استعماله ولوېږي نو وروسته مري. زما د خپل ژوند تجربې راښوولې ده یو زیات شمېر لغتونه ، چې ما څوکاله وړاندي په لیکنو کې لوستل ، اوس یې ان د خپلو ښاروالو اولهجه والو په لیکنو کې لړ وینم او بېرېږم چې که دابهېر . همداسي روان وي ، یو وخت به د دغو لغتو د پاتاله پاره لاسونه پورته سي

زما د مشاهدې له مخې موږ په تېرو دوو درولسیزو کې ( بدای ) او (موږ ) لغات په ( شتمن ) باندي تري تم کړل ، (یرغل ) مو په (برید ) له منځه یووړ ، (ایلچي ) مو په (استازي ) ورک کړ ، (جنګ ) مو په (جګړه ) وواهه ، (وطن ) مو په (هیواد )نېستي کړ، (غولی ) مو په(انګړ) پایمال کړ ، (تاداو ) موپه(بنسټ) له بېخه وکیښ ، (ربړه ) موپه (ستونزه ) پسي واخیستله ، (لیکه ) موپه (کرښه ) پاکه کړه ، (کوچنیواله ) په (وړکتوب ) ووژله ، (جنګیالی ) موپه (جګړه مار ) ښخ کړ ، ( اخته ) (بوخت ) او (مشغول ) مو په (لګیا ) الیش کړل ، (تلاښ ) موپه (هڅه ) نفی کړ، (کړنه ) موپه (غندنه ) محوه کړه ، (نجلۍ ) موپه (جنۍ ) ترپښولاندي کړه ،( کرار ) مو په ( ورو ) وخوړ، (په ) مود (پر ) په فتوا مسخه کړ اولالګیایو د مسخه کولو او محوه کولو دابهېرپسي پالو او په ځان نه پوهېږو چي دخپلي ژبي لغوي زېرمه مو د چونګښو د هغه منګوټي په شان ګرزولې ده چي (( یوه وراچوو ، دوې بیرته ځني غورځي )) . دغه معادل لغتونه اوس نویو زلمیوته داسي ښوول کېږي لکه داچي یوازني اومعیاري لغتونه وي اودا نورغیرمعیاري ،بې خونده او پردي لغتونه. ددغو معادلو لغتونو . پررنګ وخوند زه هیڅ اعتراض نه لرم خواند ښښنه مي ددا نورو لغتود مړیني په باب زیاته ده

دلغتونو مرګ وژوند یوه طبیعي پېښه ګڼلای سو خوکه وساتل سي اوله مرګه وژغورل سي دژبي غنااورزیاتوي ، دمطالبو دافادې وسایل غښتلي کوي اوپراخوي یې او دکلام رنګیني ورډېروي. کاظم خان شیدا که ( رنګین الفاظ ) د (شعرد پیکر ) له پاره ( رخت وزېور ) بللي دي ، زما په خیال د( نثر ) دناوي ښکلا هم ورزیاتولای سي اوددغه راز ښکلا د جلووتماشه هغه وخت کولای سو ، چي دژبي دکره کولو اخلاص دهغې دسوچه کولو اومحدودولو په لېونتوب راڅخه الیش نه سي. ماته چي یو وخت پخپل وطن کي دژوند کولو نېکمرغي میسره وه نومي دڅه مودې له پاره دپښتو ترجمي په یوه ځانګه کي کارکاوه. هورې موپارسي مطالب اوخبرونه په پښتو اړول. دژباړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جریان کي که به د( اظهارنمود ، ابرازکرد ، وانمودکرد ، خاطرنشان ساخت ، افزود ، خاطرنشان نمود ، خاطرنشان کرد ، اضافه نمود ، اضافه کرد )له رنګارنګو عبارتوسره مخامخ کېدلو ، یوازي اویوازي موپه ( څرګنده کړه ) یا کله کله ( زیاته کړه ) ترجمه کاوه. که به مایابل چا دهغه پرځای ( وښوول ، وښودل ، وویل ، ښکاره کړل ) عبارت راووړ ، دنه معیاریتوب په ګناه محکومېدی اوپه اصطلاح تصحیح کېدی به.ماته به له خپلي ژبي څخه دلغتونوپردغه رازایستلوباندي هم غوسه راتله اوهم به خواشینی کېدلم. غوسه به په دې راتله چي دمعیاریت له علمي مفهوم سره ولي لوبي کېږي اوخپه به په دې وم چي زموږژبه خوله لویه سره دومره خواره لاهم نه وه. داخواري یې اوس ور په پېښه کوو . د ډېروپه عصرکي موږدانګرېزي ژبي ستهون د انواعوله پاره ( ډېره ، تیږه ، سخره ، کرکنډه ، کاڼی ، شګه ، ګوسه ، غرګی ... ) درلودل. اوس د معیاریت په هڅه یوازي ( تیږه یا ډېره ) کاروو ، دانور ټول له استعماله ورو ورولوېږي. ګویا په بدویت کي مودیوه مفهوم له پاره اووه اته واریانته درلودل خونن په یوویشتمه پېړۍ کي دمتنوعو رنګارنګو لغتونوپه پوجي کولونوکان باسو .

علامه استادمرحوم له دخیلولغتونوسره دومره زیاته دښمني نه درلوده. متروک لغتونه یې زیاتره په شعرکي کارول اوپه نثرکي یې ددخیلولغتونوپرکارولوصرفه نه کوله. کوم هدف چي استاد مرحوم په څېړنوکي پاله ،لنډه تنګه ژبه ددغه هدف درسولو ترعهدې نسوای وتلای. زه پخپله په سرسره له دغه رازستونزي سره مخامخ سوی یم. ماد پښتنوقومونوداتنیکي جوړښت په باب یوه څېړنه کړې وه. دهغې په باب په یوه کتاب کي یادونه هم سوې وه. ماغوښتل چي پخپله یوه بله لیکنه کي خپل استدلال ته دپیاوړتیاله پاره ددغه کتاب حواله ورکړم خومشکل مي داو چي په کتاب کي دکارول سوي ژبي له اسیته نه پوهېدلم چي زماڅېړنه پکښې تایید سوې ده که ردسوې ! علامه استادخپله څېړنه په هغه رازژبه کښلې چي استفاده ورڅخه عامه کېدلای سوای. خوشعرېې بیا دمتروکولغاتودژوندي کولوله پاره وسیله ګرزولې وه. دوی به زماپه فکرداحقیقت په پام کي نیولی و چي دلغتونوپه بابا و انا( نیا ) پسي څراغ وپلته رااخیستل دژبي د متخصصینو مشغولا بایدوي. یولغت چي په یوه ژبه کي کي پېړۍ پېړۍ تېري کړي وي ، باید دخپلي ژبي مال یې وبلل سي اودافادې په عملیه کي یې په کارولوباندي څوک ونه شرمېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته چي کله د حمید د ( نیرنګ عشق ) مطالعه میسره سي ، ډېر خوند پر اخلم او د شعري ښایست و رنګینۍ له خاطره خوښې د پښتو ژبي او پښتنو له پاره ستر ویاړ بولم. د ښاغلي استاد صمیم دا خبره دزړه له کومي منم چي وایي نیرنګ عشق ٌ زموږ منلي شاعر عبد الحمید مومند په ډېره خوږه او روانه پښتو مثنوي په خورالوړ ادبي قوت ژباړلې ده ٌ (۲ ) خو پر څنګ سمدلاسه دا خبره ذهن ته راسي چي آیا دغه ویاړ به د رنګارنګو د خیلو لغتونو له کارولو پرته زموږ پښتنو په نصیب سوی وای ؟ او په یوه محدوده ومحصوره ژبه به دغه راز شهکار نړیوالو ته د وړاندي کېدو جوګه سوی وای. زه خو وایم . هیڅکله نه

استاد مرحوم به تل ترنویو جوړونو د زړو لغتونو ژوندي کولو ته ترجیح ورکوله. دی د نویو جوړونو په اړتیا پوه و او داکارېې د نني نړۍ د علمي پرمختګونو او ورسرسم یې د نویو ساینسي او سیاسي اصطلاحاتو د منځ ته راتلو د بهېر د چټکتیا له خاطره یو ژبنی ضرورت ګاڼه او په دې لارکي یې اخیستل سوي ګامونه په کلکه ځارل. زما په یاد دي یو وخت یې په تیلفوني خبرو کي راته د(چارواکي ) نوې جوړه سوې کلمه خورا ډېره وستایله. خو پخپله یې د لغت جوړونو په برخه کي عملي برخه نه اخیستله. مسلمه خبره ده چي په دې برخه کي یې تربل هرچا هم علمي صلاحیت درلود او هم کفایت. نو داکارېې ولي نه کاوه؟ ځکه یې نه کاوه چي استاد مرحوم د ژبنۍ زېرمي اینبي وو او په Preiorities د بېلابیلو له پاره پخپل علمي و ادبي فعالیت کي ځانته اولویتونه هغو کي له لهجو څخه د لغتونو اخیستل او بابول او د متروکو لغاتو د وهم وار رواجول د دوی د . مثمر کار په سرکي راغلي وو

زما په فکر علامه استاد (رح ) دا بل حقیقت هم په پام کي نیولی و ، چي د نړۍ د ژبو د پرمختیا پړاوونه دهري ژبي پخپل ځانګړي علمي و ادبي و تاریخي دریځ پوري تړلي دي. ځیني ژبي د پرمختیا په داسي یوه پړاو کي وي چي دلیکدود یو والي او تجانس ته یې ترهرڅه وړاندي باید چاره وسنجول سي خو ځیني بیا تر دې پړاو قرنونه وړاندي تیري سوي دي. زه خو وایم که یو څوک د خپلي ژبي . دلیکدود پر توحید باندي کار ته اړتیا احساس کړي ، ځان او خپله ژبه باید ورته سپکه و نه ایسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ږزیاتره وختونه د دغه راز حقارت ښکار سوي یو او په نتیجه کي مو ادبي وژبنیو غځښتو ازیو ته لاس اچولی دئ. د نړۍ له ډېرو پر مختللیو او بډایو ژبو سره مو د سیالۍ او برابرۍ غیرواقعبینانه ادعاوي سرکړي دي. په داسي حال کي چي دژبو پرمختیا او سمبالتیا دهغې دویونکوله پرمختګ او سمبالښت سره سیده اړه لري. د پښتو ژبي د بشپړتیا او کره تیاله پاره د نورو ژبو له تجربو څخه ګټه اخیستل یو معقول او پرځای عمل دئ خو هره تجربه باید د خپلي ژبي د واقعي حالت په پام کي نیولو سره تطبیق سي. داسي کالی په واغوستل سي ، چي پرتن یې برابروي. دا قانون د ټولني دژوندانه په ټولو اړخونو کي جاري و طاري دئ. که یو ملت پخپله خاوره کي اورګاډی ونه لري او و اکمنان یې له نورو دولتو سره د سیالۍ په انګېزه داټومي پروګرام د تطبیق په سوچ کي سي ، زما په فکر به یې هم ځان خطا ایستلي وي هم نور. خپله ژبه هرچاته هم خوږه وي هم اصیله. د چا خبره ( کارګه و ایي زما سپینککیه زویه ، جرګی و ایي زما پستکیه زویه ) . په دې لړکي د پښتو انکشاف و انحطاط ، خوږوالی و تریخوالی ،زیږوالی ونرموالی ، پرمختګ و شاته تګ ، بډایي ونېستي پخپله په پښتنو اړه لري په بل هیچا اړه نه لري. دهغې دغنا او بډایۍ له پاره که څوک د پښتو د خپل واقعي حالت له په پام کي نیولو پرته د نړۍ د نورو ډېرو پرمختللیو ژبو د انکشاف پړاوونه د سوټي په زور پر خپله ژبه باندي تطبیقوي ، نتیجه به یې هغه راز وي لکه

زموږ سوسیالیستانو او سویټیستانو چي د افغاني ټولني د وړاندي بېولوله پاره د پخواني شوروي اتحاد نسخې ټکي په ټکي عملي کول غوښتل او په نتیجه کي یې هیوادله او سنیو سیاسي و ټولنیزو مصیبتونو سره مخامخ کړ. دلغت جوړوني خبره باید د ژبي ماهرانو ته پرېښوول سي خو په ژبه کي په مروجو دخیلو یا غیر دخیلو اخښلو بخښلو لغاتو باندي باید په دې خندنۍ پلمه لاس ونه وهل سي چي ګویا ، دا کار ایرانیان هم کوي ، المانیان یې هم ، .... ، ځکه یې موږ هم باید وکړو !

د هرچا او هري ژبي اولویتونه توپیر سره لري او دا هغه خبره وه چي علامه استاد (رح) هروخت پرې ټینګار کاوه. په ( افغان ولس ) نومې مجله کي د دوی له خولې څخه پر را نقل سویو خبرو باندي زه هم شهادت ورکوم چي ویلي یې دي" ... د نوو لغاتو ضرورت زه هغه وخت احساسوم چي موږ ټولي لهجې را ټولي کړي وي او ددې څخه نور مایوس یو چي په لهجو کي نور څه نه دي پاته او یا فرضاً ادب مو ټول داسي ذکر کړی وي ، بیان کړی مووي ، چاپ کړی مووي ، دخلکو په لاس مو ورکړی وي ، چي هیڅ نه وي پاته ، نو اوس موږ وضعي ته ضرورت لرو . نو تر هغه وخته چي مو دا کار نه وي کړی ، د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعی له پاره قدم اخیستل تقریباً د ژبې پر د غه برخه باندي چي د ا په لهجو کي ساتل سوې ده ، یو ظلم دئ.ٌ (۳) زه به دومره پرزیات کړم چي له ( نوي وضعي ) څخه د استاد(رح) مراد دمروجو لغتونو له پاره وضعه کول دي. نوي ساینسي وفني وعلمي اصطلاحات له دې حکمه څخه . مستثنا دي

زموږ د منلي استاد پوهاند دوکتور زیار صاحب د خولې خبره ده چي وايي ٌ... دلري اوبري پښتونخوا یوه سیمه او خېل اوزی رانه پاتې نه دی چي څه له پاسه دوه سوه کتابچې مي پرې (۴ )ډ کي کړې دي. د پښتو ویپانګې دویمه برخه ( زړه پانګه یا ارکاییزمونه ) څېړاند دوست او استاد صمیم خپاره کړي او نوې پانګه یا نیولوجیزمونه هم ما په یولس زریزسیندګي کې له چاپه راکښلي....ٌ (۵) . خو د خو اشینی خبره داده چي دغه ستره زړه پانګه همدا سي لاس نه وهلې په کتاب کي بندي پاته ده او څوک یې د ژوندي کولو او رواجولو هڅه خو پرېږده ، د کارولو توصیه لاهم نه کوي. زموږ ډېر زور پر نیولوجیزمونو دئ او بس همدا مود ژبې د کره کېدني تاداو ګرزولی دئ. علامه رشاد(رح) زړې پانګي ته ډېره پاملرنه کوله په تېره بیا په شعر کي. او دا پاملرنه یې یوازي د خپلي لهجې پانګي ته نه وه بلکي د پښتو ټولي لهجې یې په پام کي وې. طبیعي ده چي په دې لړکي یې د خپلي لهجې زاړه لغتونه ډېر کارولي دي. ما یو وخت په یو شعر کي ( دوړدوړکه ) استعمال کړې وه. علامه استاد سمدلاسه د عبد القادر خان خټک دا بیت راته وو ایه، چي په هغه کي : شاعرد ( بړبوکی ) ویی د کندهاری لهجې ( دوړدوړکي ) له پاره راوړی دئ

که سفله ښتن د جاه شي په دا څه شو ؟

په معنی بړبوکی پـــــورته کړخسړی

او وروسته یې د دغي کلمې په باب مشرح تفصیل ورکړ او زیاته یې کړه : د عبد القادر خان خټک په کندهار چاپ د یوان کي دا کلمه ( بړبوګی ) ثبت سوې ده. په پخوانیو خطي نسخو کي ګاف هم د کاف په شکل لیکل کېدلی او د بړبوګی په ثبت وضبط کي د دغي قاعدې اغېزه کړې ده. ما ته یې . د بړبوکی د استعمالولو توصیه هم وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل وخت یې د ( ترمي ) او ( کوشیر ) کلمې راته تشریح کړې او ویې فرمایل: دا کلمې زموږ او ستاسي . په کندهاری لهجه کي نه کارېږي ، زده یې که او په لیکنه کي یې استعمالوه

زما یقین دئ چي د ژبو د اطلس د برابرولو په باب د ساحوي ریسرچ په ترڅ کي به د سیمه ییزو لغتونو لویه برخه ، چي په ټاکلې جغرافیوي محدوده کي ایسارپاته دي ، ثبت سوي وي. په دې کي به ډېر داسي لغات هم وي ، چي نن یې معادل نیولوجیز مونه کارېږي. کاشکي د دغو لغاتو د خپرېدو له پاره هم هڅي سوي وای او یوازي په کتابچو کي یې په ثبت بسنه نه وای . سوې

په دې ترڅ کي مي یوه بله د یادوني ضمني خبره هم پرزړه باندي راغله او هغه د ژبو د اطلس د برابرولو په برخه کي د یونسکو او افغاني ټیم د کار او فعالیت په باب ده. موږ ته دا خبره معلومه ده چي په دغه افغاني ټیم کي یو فعال او هڅاند غړی پوهاند دوکتورزیار او دده پرڅنګ د ټیم نورو غړو اروابناد الهام ، ډاکټرعبدالرازق پالوال ، استاد حبیب الله پښتون زوی جاج ، استاد پوهندوی نوراحمد شاکر او استاد بایزید اخک هم شامل وو او په مینه وجدیت سره یې خپلي څېړني مخ ته بېولې. د دې ټیم له غړو څخه له نېکه مرغه دوکتورزیار ، ډاکټرپالوال ، استاد بایزید اخک ،استاد پښتون زوی ژوندي دي.استاد پوهندوی شاکرپه کاناډا کي اوسي ،په فزیکي لحاظ ژوندی دئ خوله بده مرغه داسي ناروغي په پوري ده چي درغېدلو امید یې لږ دئ (۲) . موږ له دغو ښاغلو څخه ټینګه هیله لرو چي د خپلو کلونو کلونو زیار او کړاو په باب راتلونکي ځوان نسل ته معلومات ورکړي. زموږ هیواد د حوادثو او توپانونو مېنه ده. خدای مه کړه د دوی ارزښتمن زیار د توپانو ښپې له ځانه سره یونه سي او تري تم یې نه کړې او یا سبا یې بل څوک د ځان مال ونه ګڼي .

د علامه استاد رشاد (رح) د لیکني او تدریس په ژبه دده هرشاګرد او لوستونکی پوهېدی او پوهېږي . دده شعر د زړو او متروکو لغاتونو سره سره هرچا ته خوږ او د پوهېدلو وړو او دئ. دده په زرګونو شاګردانو کي څوک یو تن لاهم نسي موندلای چي ودي وایي: زه د استاد په تشریح او لوست نه پوهېدلم. دده د افادې ستاینه د هرچا پرخوله وه. داولې ؟ داځکه چي دده ژبه له پښتانه قامه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردی نه وه . له بده مرغه نن پښتانه دهغي ژبي په پوهېدلو کي مشکلات او ستونزي لري ، چي د
. (کره ) په نامه ورښوول کېږي

. (علامه استاد رشاد دي پاک خدای وبخښي او ددوی کاردي تل د پښتنو زلمیو دلاري مشال وي (۷

محمد معصوم هوتک

اوکویل ـ کاناډا

نومبر ۲۰۰۵ ع ۲

رشاد ـ عبد الشکور ـ لودي پښتانه ـ (ب) مخ ، پښتو ټولنه ـ ۱۳۳۲ ش (۱)

. دعبد الحمید مومند کلیات ـ (پینځه) مخ ـ دانش خپرندویه ټولنه ـ ۱۳۸۳ ل (۲)

افغان ولس مجله ـ شپږم کال ـ لومړی ګڼه ـ ۴۲ مخ . دلمبې مجلې د ۱۳۸۳ ل کال د ۴ ـ ۵ ګڼې په (۳)
. حواله

داشمېره په ( استاد زیار ـ د پښتني فرهنګ یوځلاند ستوری ) نومي اثر ، ۱۴۹ مخ کي ( ۱۰۴ ) بلل (۴)
. سوی دئ

افغان ولس مجله ـ شپږم کال لومړی ګڼه ـ ۹۹ مخ (۵)

پوهندوی نورا حمد شاکر ددې مقالې ترلیکلوځه دپاسه یو کال وروسته د ۲۰۰۲ ع کال دجنوری په (۲)
. ۱۲مه دپنجشنبې په ورځ په ټورنټو کي مړ او دافغانانو په هدیره کي ښخ سو

دالیکنه په کندهار کي دعلامه رشاد (رح ) دلومړي تلین په مراسمو کي ګران سعید لودین (۷)
ولوستله او په کندهار مجله څلرم کال ، پنځمه او شپږمه ګڼه ( لېندی ، کب ـ ۱۳۸۴ ل ) کي چاپ
. سوې ده . ددغه تلین په مراسمو کي ما (هوتک ) له بده مرغه ګډون ونسو کړلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا یوه مي لا واورئ، نور نو ستاسي خوښه

موږ پښتانه اوس د ډیموکراسۍ د تمرین په حال کي یو . په هڅه مو لا نه ده اخیستې. زه دا خپل ځان درښیم چي ځوک مي خبره را غبرګه کړي، لږ څه سره وپېچل سم. خو خیر دي وي دا تمرین به نه پرېږدو . که یې نن د سهلو وس نه لرو ، سبا ته به یې پیدا کړو . خبره مي د ښاغلي استاد صمیم صاحب کوله."که اباسین راغلی نه وای" ښه عنوان، ښه استدلال او ښه وړاندیز. لوستلو یې خوند راکړ. دوه پښتانه خوا خوږي باید یو له بله سره همدا سي د زړه خواله وکړي. ما پخپله تېره لیکنه کي له نیولوجیزم سره په اصولو کي مخالفت نه دی کړی. ها د چا خبره ګوته مي خدای مه کړه (اسلام) ته نه ده نیولې، (مسلماني ما ) ته مي نیولې ده. د خوښۍ ځای دا دئ چي استاد صمیم زما له معروضاتو سره په مجموع کي موافقه ښودلې ده او په لړ کي یې تر ( ډېره پر حقه )بللی یم. کومو ځایو ته چي یې (خو )اېښی دئ هغه حاشیوي خبري یا د کلي بیان څنډي دي چي شمېر یې اته دئ.زه به اتو سرو ته یو څه توضیح ورکړم .

ښاغلی استاد وایي" د ژبي د ویپانګي په بشپړتیا کي ریشتیا هم چي څلور واره آرونه -۱ (ارکاییزم، ډیالکټیزم، نیولوجیزم او اډاپټیزم) د دې زنځیر څلور پخې کړۍ دي، خو زما په اند د لاس په ګوتو کي هم د اړتیا او استفادې د ارزښت له مخي توپیر جوت دی...." زه هم سل په سلو کي همدا خبره کوم. زه غواړم هغه فیصدي عملي سي چي د کره لیکني بنسټ اېښوونکو اېښې ده او په دې برخه کي دومره دوګماتیک نظر هم نه لرم چي که په سلو کي پنځه ویشت، دېرش سوه زما به چیغي پورته سي. یه، زه وایم اوس خو موږ هغه نوري درې برخي بیخي هېري کړي دي. ښاغلي استاد د امیر عبدالرحمان خان د درباریانو د نکل په راوړلو سره پر دوو خبرو ضمني اعتراف کړی دئ یو دا چي پر نیولوجیزم باندي تراندازې زیات زور اچول د (ګونګوټیو )خوړل دي، نه د وڅکو . او بل یې په دې نکل زما هغه خبره تایید کړې چي موږ په اولس یا پخواني ادب کي د لغاتو و موندلو له بهیر څخه په دې دلیل (لار چپه ) کړې ده چي ارکاییزمونه خو (همېشه پلټل کېدای شي )، راځئ نیولوجیزم ته پونده ورکړو. او په دې پونده کي مو د پښتو خوارکۍ نوکان وایستل. زه خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي صمیم صاحب په دغه جمله کي هیڅ راز نیمګړتیا نه وینم چي وایيٌ د انحوی ترکیب یا اسمیه جمله دوه فاعله لريٌ کلمات به یې د آر له مخي عربي وي خو دې کلمو زموږ په ژبه کي د څوارلس سوه کلن ژوند په ترڅ کي د اقامي سند تر لاسه کړی دئ. زه یې کورټ پښتو جمله بولم. د پښتانه له خولې راوتلې ده او بل پښتون له قاموس پرته پرې پوهیږي. د ژبي دنده (وظیفه) هم دغه ده.

۲- د استاد صمیم دوهمه څرګندونه زما د لیکني یو حاشیوي ټکی دئ او د زیاتي تبصرې وړ یې نه بولم. زه بالکل موافق یم چي اروابناد دوست شینواری د ارکاییزمونو په راغونډونه کي نه هېرېدونکي هڅي کړې دي. اروا دې ښاده وي. او ټول پښتانه یې کار ته په درنه سترګه ګورو. ما چي د فاضل استاد رشاد صاحب خبره کړې وه، مطلب مي دا و چي هغوی ارکاییک لغتونه په نظم و نثر کي کاروي. له دې پرته مي بله خیره په زړه کي نسته. ما ته چي څوک د پښتو د پیاوړتیا په لار کي یو کوچنوټی ګام واخلي، د سترګو تور ښکاري. اروابناد دوست شینواری خو د پښتو (ستورو) په کتار کي راولم.

۳- په دې یادونه کي د ښاغلي صمیم صاحب زما پهٌ نو ورته خوشحاله ويٌ جمله سر نه دئ خلاص سوی. علت یې دا دئ، چي کنډویې لوستې ده او پر (وي) باندي یې ختمه کړې ده. که یې تر پایه لوستې وای، سر یې په خلاصېدئ.

۴- د باره ګلیِ له پریکړو څخه وار د واره زما محترم استاد پوهاند زیار صاحب سر ټکولی دئ او ما ته یې هم جرأت راکړ چي څه پر ووایم. په لوی لاس چي څوک ودانه ورانوي نو نتیجه یې هرو مرو دا راز وي چي ان استاد صمیم صاحب لا د باړه ګلیِ د غونډې د برخه وال په توګه (دقیق خبر نه یم) د هغې فیصلې نه مراعاتوي. نه (کښې) لیکي نه (پکښې) بلکي (کي) او (پکي) کاږي. د پښتو اکاډیمیِ مشر ښاغلی ډاکټر راج ولی شاه خټک خو هم د همدغو نه مراعاتېدو له لاسه ژاړي.

(ګوربت � ۴ګڼه � اپریل � می -۲۰۰۰) هغه د چا خبره، وایي (د کال خواریِ مي ولاړې، سپیني روپیِ مي ولاړې!) پاته سوه د لیک د بدلون خبره. روښانیانو که له ځانه لیکدود را ایست خو په هغه وخت کي د دولت لوانیي خبرهٌ افغاني لفظ مشکل و لوست کښن مه شهٌ. دغسي دروېزه یې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالخاني ليکدود هم دروا خله. اوس خو ٌ افغاني لفظ لوست کښښ شهٌ دا چي ځيني مشرانو او خواخوږو سليقه يې بدلونونه پکښي راوستي دي، د هغو اغېزه خو کورتې صفر ده. نه باب (دود ) سوي دي، نه چا منلي. نه د وزير محمد ګل خان مرحوم ليکدود کوم پيرو ومونډ ، نه د خادم صاحب مرحوم، نه د خان شهيد او نه هم د قلندر صاحب. داهسي ٌ عبث دارو مردک دي، فتح خان يې ډزوي. ٌ

**۵-** په دې يادونه کې د پريفيکس او سوفيکس خبره پاته سوې ده او پر ځای يې ويل سوي دي چي زه (هوتک ) ولي په (س) باندي د (شول) د مرستيال فعل او د هغه د بېلا بېلو صيغو د ليکلو پهٌ امتيازٌ کې د خپلو مشرانو استادانو (علامه حبيبي او پوهاند رشاد ) په پيروۍ کې ونډه نه اخلم؟

ښاغلې صميم صاحب. زه خو دا ونډه اخلم او د خپلو استادانو پر پله باندي په منظم ډول روان يم خو د (سانسور) استبداد دا واک راڅخه اخيستی چي لوستونکو ته خپل د زړه بيان په هغه (ډول و شکل) وکړم، لکه غواړم چي يې. که يو وخت درته زما د ليکنو د اصلي مسودو د کتلو فرصت برابر سو، تاسي به ووينئ چي په (شول) کي مې د (س) له امتيازه ! ښه پوره ګټه اخيستې ده. خو د خپرونو چلوونکي زما ليکني هغه راز نه چاپوي لکه زه چي يې کاږم. ان زما څخه يې دا واک هم اخيستئ چي جملې دې پر خپل زړه برابري وترم، لغتونه دې پر خپله سليقه ورته وټاکم. زه (پر پښتو ليکنه باندي. . . ) وليکم، دوی يې (پر پښتو ليکنې. . . ) کړي. زه (د انصاف په حکم )وکاږم، دوی يې (د نياو په پريکړه ) کړي. (ګوربت � لومړی کال � ځلرمه ګڼه ) . زه (سول) وکاږم، دوی يې (شول) کړي. زه (په) وليکم، دوی يې (پر ) کړي. زه (دوې وڅکي) وليکم، دوی يې (دوه وڅکي) کړي (هيله � دريم کال � شپږمه ګڼه) . زه (رانيوی) د (خريدم) په معنا وليکم، دوی يې (راونيو ) د (ګرفتم، ګرفتار کردم) په معنا کړي. زه خپلې ليکني د دوی د اسانۍ له پاره په کمپيوټر کي چاپ وروليږم خو چي وروسته خپله ليکنه لولم ((ږيره زما وي اختيار يې د قاضي غلام ) ) . نو ښاغلۍ صميم صاحب. ما اريان خو د خپلو استادانو پيروۍ ته څوک پرېږدي نه. هغه آثار چي ما . پخپله يا تر خپل نظر لاندي خپاره کړي دي، هورې تاسي پکښې دغه (پيروي) مونډلای سئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- په دې برخه کې ښاغلي صمیم ورور زما په شپږو اوو بېلګو کې چې راوړي مې وې، له ټولو سره موافق ښکاري. یوازې یې له یوې سره خپله نه موافقه ښوولې ده او هغهٌ پر قومونو باندې... د کلتورٌ منل دي. په دې برخه کې به د خپلې ادعا د ثبوت له پاره د اولس دا دوې وراشې په ډېر صمیمیت وړاندې کړم :

. ــدا یې قباله، په چا یې منې

. ــد چا پلار یې ولاکه په ومنې

له (منل) سره د (پر) ویییکې نه سي راتلای. که یې څوک د فاعلیت و مفعولیت په دلایلو (په چا . منې). په هغه کې نو څه سي ویل کېدلای. د پېچومې اوبه دې په زور خېژي

۷- دلته (سرابښ) تر (وړسترګي) بسیط بلل سوی اوٌ ورباندې دربدلٌ ښه ګڼل سوي دي. ګویا زما له نظر سره موافقه ښوول سوې ده. ما هورې د (تلوار) کلمه هم راوړې وې چې (هډو کاربړې نه). په دې برخه کې لکه چې هم موافق وي. خو دا چې ما دې پر (وړسترګي)باندې د محلي ډیالکټ ټاپه وهلې وي، یوه غلط فهمي شانته ښکاري، یا به ښاغلي صمیم ورور زما عبارت هورې سم لوستی نه وي. ما په خپل عبارت کې غوښتي دي وښیم چې (سرابښ) د محلي ډیالکټ ټاپه خوړلې ده ځکه نو له استعماله لوېدلې دئ. (وړسترګي) دا ټاپه نه ده خوړلې. د مجلې په اووم مخ کې زما عبارت سم را نقل سوي دئ خو د تبصرې په وخت کې خبره ورانه سوې ده او داسې یې انګېرلې دي چې ګویا ما (هوتک) پر (وړسترګي) باندې د (محلي ډیالکټ ټاپه) لګولې ده ؟ ما ((وړسترګي)) ثقیل بللی دئ او ثقیل خو نو دئ. د خوشحال بابا او معزالله خان مومند او ګنج پښتو مثالونه یې د ((ثقلت)) بار له اوږو څخه اخیستلای نه سي. که یو لغت په اولنیو متونو کې راغلی و، معنا یې دا نه ده ،چې هرو مرو دې فصیح وي. که داسې وای نو پیر محمد کاکړ به ولې ویلای چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرزا شعر به ښه و ، ولــي دریغه

په وحشي الفاظو ده کړ ویران شعر

دغه برخه د اروابناد پوهاند علامه حبیبي له لیکني څخه په یوه اوږده اقتباس پای ته رسېدلې -۸ ده. دا خبري اروابناد علامه لکه ښاغلي صمیم صاحب چي اشاره ورته کړې ده ۳۱ کاله وړاندي کړي دي او د لغاتو د وضعه کولو پر عمومي اړتیا او اصولو یې رڼا اچولې ده. هغه وخت د هیواد په فرهنګي کړیو کي یو راز نظم ټینګ و. که به د لغاتو وضع ته اړتیا پیدا سوه، د پوهانو په سلا مشوره به لغت ورته وټاکل سو او دود به سو. دا کار به سوکه و خو اصولي و. داسي نه و چي هر چا په خپل سر، حق و ناحق جوړوني کولې. کله چي د لغت جوړوني بهیر سر واخیست نو بیا تاسي وګورئ سره له دې چي علامه حبیبي مرحوم د جوړونو اړتیا مني خو له روان بهیر څخه څه راز سر : ټکوي؟ غوږ راته کښېږدئ. علامه حبیبي وایي

"د پښتو نثر چي اوس په متبوعاتو کي لیدل کیږي یا له راډیو اورېدل کیږي د نورو ژبو تر اثر لاندي یو کړ غېړن نثر دی چي باید تصحیح او د پوهېدلو وړ سي � د ژبي اصلي بڼه او د ادا ډول او قواعد وساتل سي ملفوظ او مکتوب سره لیري نسي � له ځانه جوړ کړي کلمات پکښې کوترم نسي... په هر صورت اوسنی نثر چي کومي خواته روان دی د علمي ټولنو د توجه وړ دی. زه پر دې بېرېږم چي سبا به د لیکوالو او عامه خلکو پښتو دوني سره لیري سوي وي چي یو د بله به نه سره پوهیږي... ځني خلک په ښه نیت د پښتو د سوچه کېدو ته اړم سوي دي له ځانه کلمات جوړوي او په پښتو یې ور ننباسي چي نور خلک نه په پوهېږي. د ژبي دغسي سوچه کول که په ښه نیت وي هم د ګټي پر ځای تاوان لري او یوه نامفهومه د پېرانیانو ژبه ځني جوړوي. دا کار د یوه سړي نه دئ. ښایي چي د پښتو ژبي یو ګڼ د پوهانو انجمن دا کار وکي او هغه هم په داسي وخت کي چي ژبي عمومي څېړنه او پلټنه سوې وي او هغه کلمې چي په ژبه کي موندلی نسي بیا وضع سي � د ژبي د سوچه کولو فکر لږ څه افراطي هم ښکاري ځکه چي پر کری مځکه داسي ژبه نسته چي د نورو ژبو . له کلماتو څخه کورټ سوچه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي پرېږدئ چي د پښتونثر د ګردو دخیلو کلماتو سره د دې ورېسي چي علمي او فکري او ادبي او ګران او پېچلي مفاهیم ادا کي چي علمي او فکري پانګه یې ډېره سوه او دا خوار بشرکی یې لږ څه غټ او تکړه سو بیا هغه هر څه چي وغواړي زغم به یې ولري مګر اوس شیدو رودونکي کوچني ته د غټ سړي خواړه مه ورکوی چي سبا به یې په چاره پوري اریان یو .ٌ(وګورئ: پښتو چاپي آثار په (دوو تېرو پېړیو کي � ۲۲-۲۳ مخونه � کابل - ۱۳۵۷

د ژبي یو بل ماهر دوکتورٌ د زړو یا مړو کلماتو پښتو کونه او د نوو لغاتو جوړونه یو راز ساري او حیاتي مبتلا یيٌ ګڼلې ده او زیاتوي چي د دغي ساري ناروغۍ په مقابل کيٌ او مه ځوانان لکه متعلمین او محصلین معافیت نه لريٌ او ژر په مبتلا کېږي (وګورئ هماغه اثر � ۲۷۰-۲۷۱ مخونه) زه د دغي ساري ناروغۍ د شیوع نخښي نښانې اوس وینم ځکه مي نو غاړي خلاصي کړې . (.نور نو ستاسي خوښه (۱

سکاربورو � کاناډا

سپتمبر ۲۰۰۰ ۲۸

. دا جوابیه مقاله د ګوربت مجلې اداري ته ورولېږله او ښایي خپره کړي یې وي(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپلمۍ وهڅولم

څوورځي وړاندې مې دخپل مصروف ژوند په سرګردانيو کې دومره وخت وموند چې په انټرنيټ کې د ٌ سپلمۍ پاڼهٌ وګورم. په دغه پاڼه کې مې د( داود جنبش هم په سيند لاهوشو ) مضمون ولوست : چې په دې لنډۍ پيل سوی و

مينې دې داسې لېونی کړم

په لاره ځم په لوټوولم زيارتونه

او په هغه کې مې يوه ګيله ډوله يادونه دځان په باب وليدله. ګيله داسې وهٌ... معصوم هوتک هم دعلم په هسکو څوکوزماله شره خلاص بويه ، چې هرڅومره معياري ژبه په لغتوهم ووهي ، له علمه . يې ګټه اخلم ، غاښ پر غاښ کښېمنډم خوليکني يې لولمٌ

زه دمضمون ليکوال ته ددوی دهغه درناوي له امله کورودانی وايم چې زماليکني له ناخوښۍ سره سره لولي. دايې داکاډميک چلند يوه نخښه ګڼم. خدای دې تل پرهمدې چلند ټينګ ولري.
ماپخپلو ليکنوکي کوم داسې څه نه دي موندلي چې هغه دې دپښتوژبې دمعياري کولوهڅوتهٌ لغته ورکولٌ وي. زه دبل هرپښتانه په شان له خپلي ژبي سره مينه لرم اوغواړم چې داژبه غني سي ، موادواوکتابونه پکښې زيات سي دعلم اوپوهني په هره برخه کي دپښتنواړتياوي ورپوره سي په پښتنوکي دکتاب لوستلواوڅه ليکلوروحيه اوعادت پياوړی سي.... دې عالي هدف ته درسېدو په لاره کي ترخپله وسه اوامکاناتوپوري هڅي هم کوم. خوددې هڅوله پاره خپل اصول لرم ، خپل نظريات لرم اودنورودرنو دوستانواصولو او نظرياتوته درناوی هم لرم. موږپښتنوته په کارده چې دمهاجرت په بېخونده ژوندکي له دې نوي چاپيريال څخه که نورڅه نه وي ، نوداايکي يوه خبره خوبايدهرومروزده کړواوهغه دنورو نظرياتوته په پراخ تندي غوږنيول دي. هرڅه بايد پرخپل ځان تمام نه کړو. خدای شاهددئ چي زه په ځان کي ددغسي روحيې د غښتلي کولوپه لارکي ښه پوره . هڅه اوکوښښ کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته دا خبره نه را معلومېږي چې مانود دغو قلمي هڅو په بهېر کې معیاري ژبې ته څرنګه او چیرته لغتي ورکړي دي. البته د معیاري ژبې د اصولو ، لومړيتوبونو او په تېره بیا د لغت جوړونو په باب خپل نظریات لرم او هغوته پابندیم. په علمي نړۍ کې د ځانګړو نظریاتو درلودل باید د(لغته ورکولو ) په معنا تعبیرنه سي. د پښتو ژبې د معیار د منځ ته راتګ په باب
د خپلو ځانګړو نظریاتو پرڅنګ خوزه په پخپلو لیکنو کې د( سین او شین ) له مسئلې او په یو ، دوو ځایو کې د اوږدې (ی) پرځای دلنډې (ی) له کارولو پرته له نورولرو او برو لیکوالو سره په لیکنه کې هیڅ توپیرنه وینم او زمادې شعوري عادت زمادلیکنو په پوهېدلو کې هیڅ راز ستونزه پېښه کړې نه ده. زما خپله انتباه خو داده چې زما د لیکنو په پوهېدلو کې لراو برلوستونکې هیڅ راز ستونزه نه لري . زما خو ترننه پوري په لیکلې یا نالیکلي بڼه داسي څه په سترګه سوي نه دي ، چې د معصوم هوتک په دغه لیکنه باندي موږ نه پوهېږو.

په څو محدودو افعالو کې په سین باندي د شین اړول دومره وړه او څنګزنه خبره ده چې په معیار پوري هیڅ اړه نه لري او نه په دې برخه کې داولنیو او وسنیو پوهانو له خوا کومه غوڅه فیصله صادره سوې ده. که دا د معیار یوه اساسي برخه وای نو زموږ فاضلو مشرانو استادانو او د پښتو ژبې ستورو(علامه حبیبي،علامه رشاد او اروانباد بېنوا ) به هم داسي نه لیکلای. ما ترننه پوري د هیڅ اله خولې دا خبره نه ده اورېدلي چې د دغه سین او شین داوښتلوله امله دي د علامه حبیبي ، علامه رشاد او استاد بېنوا په کومه لیکنه پوه سوي نه وي یا دي د مطلب په پوهېدنه کې د دغو کلماتو له اسیته ،چې شمېر به یې په مشکل سره لسو ته ورسېږي ، ستونزه ولري. په داسي حال کې چې د هغو سلګونو کسانو فریادونه اسمان ته رسېدلي دي چې د چاخبره په معیاري ! جوړو سوو کلماتو باندي د نه پوهېدلو له امله یې له کلونو کلونو راهیسې وهي او څوک یې پرچیغو غوږنه ږدي. د دې چیغو یوه وړه بېلګه به درنو لوستونکو ته وړاندي کړم. ما څه موده مخکې د سویس دویانا په ښار کې یوه دوست ته خپله یوه نوې چاپ سوې رساله (درنه کورنۍ ) لېږلې وه. په لیک کې یې راته کښلي وه: رساله مې ځکه خوښه سوه چې" ژبه یې همهغه ژبه ده چې علامه حبیبي ، پوهاند رښتین،استاد بینوا او علامه رشاد کاروله. بې مبالغې وایم چې په دې او سنیو زیاترو لیکنو یا نه پوهېږم او یا مې زړه ورته په تنګ شي او هیسته یې وغورځوم." داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادبیاتو دپوهنځی د پښتو څانګي فارغ او همکارو . زما سره دلهجې یو والی نه لري او ترننه . مو دمخامخ لیدني فرصت هم نه دئ موندلی

ددې له پاره چې دخپلو لیکنو د اسلوب او ډول په باب مي ښاغلو لوستونکوته یولړ وضاحتونه . وړاندي کړي وي ، بده نه ده چې یو څه پرعمومیاتو باندي ورڅېړم

دپښتو او نورو ژبو د بېلا بېلو لهجو په ځینو کلماتو کي کانسونینټونه او واولونه توپیر سره لري او دا توپیر مراعاتول هیڅکله هم دمعیار د تر پښولاندي کولو په معنا نه دي بلل سوي. پښتو ژبه خو لا دمعیاریت درجې ته د رسېدو په لاره کي خالپوځي (خاپوړي) کوي ،زه نوري پر مختللي ژبې درښیم چې په هغو کي هم تراوسه پوري چا ددغو توپیرونو مراعاتول دمعیاریت پر ضد کارنه دئ ګڼلی. په هندي ژبو کي د " سري متي ـ شري متي ، درمسال ـ درمشال ، سري دیوي ـ شري دیوي ، سرینګر ـ شرینګر ، سریلانکا ـ شریلانکا.... " په شان کلمات بیخي ډېردي او هیڅ هندی ژبپوه یا عادي لیکوال ځان ته دا حق نه ورکوي چي په دې دوو کي دي یو سم او بل ناسم وبولي یا دي ددې دواړو شکلونو موجودیت دژبې ګډوډي وګڼي. هر لیکوال چي له دې دوو څخه یو استعمال کړي ، لوستونکي پو هېږي چي دده مقصد څه دئ. دا یې لا بله ګټه ده چي په هندي ژبو پوه لوستونکي ته لا داخبره هم څرګندېږي چي ددغي یا هغي لیکني لیکوال په کومه سیمه پوري اړه لري. په انګرېزي کلمې چي د واولونو د استعمال labor او labour د favor او favour د color او colour ژبه کي د له امله توپیر سره لري ، دواړه رواج لري په امریکایي انګرېزي کي یې دوهم شکل او په انګلیسی انګرېزي کي یې لومړی شکل دوددئ. ان تردې چي په قاموسو( ډیکشنریو )کي یې ددغو لغاتو څنګ ته په لېندیو کي دایادونه هم کړې وي ، چي دا شکل یې امریکایي او دابل یې انګلیسي یا استرالیایي دئ. مګر یوه ته یې هم غلط نه دي ویل سوي. دانګرېزی ژبي امریکایي ، انګلیسي ، استرالیایي لهجې ټولي ددې ژبې لهجې دي او هیڅ یوه انګرېزي ژبې پر بل انګرېزي ژبې باندي دخپلي لهجې دمنلو ښځایه او بې هدفه زیار پر ځان نه دئ منلی او نه یې په دې برخه کي وخت ضایع کړی دئ. د عربي غوندي پراخي ژبي مصری ، عراقی ، یمنی ، سوریایی ، فلسطینی او نوري لهجې هره یوه په ځینو برخو کي په ویلو او لیکلو کي توپیر لري خو هیڅکله یو دبل لیکلو او تلفظ ته ناسم نه وایي.. په پارسي کي د( صدا ، آواز ، نداء )کلمات ټول کارول کېږي. هرڅوک یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کي اختیارلري. داسي نه کوي چي یو واریانت یې د معیارپه نامه خوښ کړي او نورېې هیسته وغورځوي. دا ټول لغتونه د پاړسي ژبي دبډایي اودلغوي زېرمي دغنانخښنه ګڼي. خو مورږدهغوی پرخلاف په (ږغ او غږ) کي یوه ته مخ ورکوو اوبل ته نه. که چاږغ وکېښ ګویا کفرېې وکړ اومعیاریې په لغته وواهه. په داسي حال کي چي دا خبره له معیارسره هیڅ اړه نه لري اونه ژبه پارلماني انتخابات دي چي فیصله یې په اکثریت او اقلیت باندي کېږي. زما په نظر (نجلۍ ، جنۍ ، جلۍ ، جن) ، (سوچه ، نګه ، خالص) ، (لیکل ، کښل) ، (ولیکم ، وکاږم) ، (ښکلی ، کښلی ، ښایسته) ، (بډای ، شتمن ، هستمن ، غني) اونورپه سوو داسي مترادفات دخوږې پښتو مروج لغتونه دي اوپالل اولیکل یې دهر پښتانه پخپل انتخاب پوري اړه لري. په دې کي د معیارپه نامه سکه وناسکه راایستل ، دیوه غوره کول اودنورو له رواجه ایستل اوورپسې وژل د پښتو په ګټه .کارنه دئ

د پښتوژبي په ځینو افعالو کي په سین باندي د شین اوښتنه ځان ته تاریخي عوامل لري اوداکارد پېړیو په اوږدو کي عملي سوی دئ. ډاکټرپالوال یې دکوشانیانودواکمنۍ ژبنۍ اغېزې بولي. داوښتون عامل چي هرڅه وي ، زماورسره په دې لیکنه کي کارنسته خودا اوښتون د پښتنو په یوه ټاکلې جغرافیایي محدوده کي راغلی دئ. د پښتوژبي پیاوړي ماهران ټول په دې عقیده دي چي ددغو افعالو دسین شکل لرغونی (آر) دئ.خوزما په عقیده دا چي ځینولهجودغه ځانګړتیا ساتلې یا یې له لاسه ورکړې ده ، یوه بشپړه طبیعي عملیه ده. نه یې پرېښوول کوم عیب دئ اونه یې ساتل کوم ویاړ. دغه طبیعي عملیه زمایادبل پښتانه خپل انتخاب هم نه دئ بلکي دا په یوه مشخصه جغرافیایي سیمه کي دیوه یابل پښتانه درالویږدلوله بابته راپیدا سوی ژبنی واقعیت یا په بل عبارت تاریخي انتخاب دئ چي په پاللو کي یې هر پښتون بشپړاختیارلري. عوام الناس که دا خبره هرراز ګڼي ، دومره مهمه نه ده ،خودژبي ماهران اوپه ژبه پوه کسان چي دیوه ځانګړي تمایل له مخي دغي طبیعي عملیې ته دمعیاریت ترپردې اوپوښ لاندي د کابلیوخبره (باد) ورکوي ، ښه . کارنه کوي اودغه زیاریې د پښتوژبي اوپښتنو په تاوان تمامېږي اوتمام سوی هم دئ

د پښتوژبي بېلابېلي لهجې عیني واقعیتونه دي اوله هغوسره بې پروایي دهغوله ویونکوسره بې پروایي ده. مورږدټولنیزانکشاف په یوه داسي پړاوکي واقع نه یو چي په ټولو پښتنودي یوه ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ایو او په ودې لیکو. دا رازهڅه یو شاعرانه ارمان دئ او ځرنګه چي تروخت د مخه اذان دئ ، ځکه یې نو په عمل کي د تطبیق زمینه لږده. د ټولنیز او سیاسي ژوند په داسي یوه حساس پړاو کي چي پښتانه د خپلي بقا او فناله تاریخي ازموینښت سره مخامخ دي د نورو بې شمېرو بې اتفاقیو پر څنګ یې اوس بیا په ژبه کي د معیار او نامعیارپه نامه دلیکوالو ترمنځ نوري بې اتفاقۍ اچول له پښتو او پښتنو سره ظلم دئ. زه خپل پښتانه ورونه په تینګه را بولم چي له دغه راز درزونو اچولو څخه دي تېرسي. دا کارونه که څه هم له ژبي سره د خواخوږۍ په انګېزه وي خو زما په خیال .نتیجه یې په زړه پوري نه ده

ماته د پښتو ژبې دېري کوچنۍ لهجې لاهم دا همیت وړدي. نه هغوته نا سمي وایم او نه د هغو لهجو د لغاتو نو او وراشو په استعمال باندي خوابدی کېږم. په هماغه لیکنه کي مي، چي پکښې زما په باب ګیله ډوله یادونه سوې وه (سپلمۍ پانه) ، د" غابښ پرغابښ کښېښمنده م" جمله ترسترګو سوه. زه پو هېږم چي (کښېښمنده م ) یا ( کېښمنده م ) زما په لهجه کي د ( کښېښکښېنم ) یا ( کښېښکاږم ) په شکل ویل کېږي. زما په لهجه کي د(منډل ) مصدر په یوه شي کي د بل شي د ننه ایستلو یا چخلو په معنا کارېږي او د چخل عملیه له غابښ سره برابره نه راځي. زه به هیڅکله د(غابښ پرغابښ کښېښمنده م ) عبارت ونه لیکم. زه (غابښ پرغابښ کښېښکاږم ) عبارت د ځان له پاره غوره ګڼم خو ځان ته به بیا هیڅکله دا حق هم ورنه کړم چي د(کښېښمنده م) کلمه نا سمه وبولم. دا اصطلاح په یوه پراخ اولس کي کارېږي او دا پراخ اولس زما پښتانه ورونه دي. پرېږدئ چي د دغه یوه مفهوم له پاره موږ په ژبه کي درې لغته ولرو. زما نظر د لغتونو په برخه کي بالکل روښانه دئ. زه د نوو لغتونو له تحمیلولو سره مخالف یم. له دې خبري سره مخالف یم چي یو څوک خپل له ځانه جوړ سوی لغت د معیار په نامه په زور را باندي مني. د سپلمۍ پاڼې په نو موړي مضمون کي د ښاغلي جهاني څخه هم ګیله سوې ده چي"... هغه قسم کړی چي (سو ) به پرې څوک (شو ) نه کړي او زه یې دا د شاعر په بغاوت کې ور حسابوم... د زهرو غړپ دی تېروم یې."

ګرانه سپلمۍ واله ! دې خبري دي سخت ولړزولم. ما په اصطلاح د معیاري ژبي له پلویانو څخه تل داغوښتنه کړې ده چي د لغاتو جوړولو پرځای دي یو وارلهجې وپلټي ، که یې کوم لغت ورته وموند ، هغه دي واخلي او که نه ، نو بیا دې ورته نوی لغت جوړکړي. زما سره هرکله دا اند ښښنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې وي چي زما پردې رواغوښتنه ولي چاترننه پوري ښه په پراخ نيت غوړنه دئ نيولئ؟. اوس چي مي ستاسي په ليکنه کي ولوستل چي د معيار عاشقانو ته د پښتو ديوې لويې لهجې ايکي يو لغت ( سو ) منلٌ دزهروغرپ دئٌ ، نوباوروکړئ چي سخت وډاربدم. له ځان سره مي وويل: ياخدايه پردې بدبختو پښتنو دي څه بلانازله کړې ده. دوی ته چي د خپلي پښتو ديوې لهجې دلغت کارېدلٌ دزهروغرپٌ ښکاري نوبيا موږ ولي له نورو څخه ګيله کووچي د پوهنتون ، پوهنځي لغات له خپلو ليکنو څخه باسي ؟ خدای دي وکړي چي د سپلمۍ والو دغه جمله زمادمخکينۍ غوښتني . دردولوله پاره جواب نه وي

ماته د حيرانتياځای دادئ چي د جهاني پرشعرباندي خود پښتنو د ټولو لهجوويونکي خونداخلي اودده شعر د ټولوپښتنوخوښ دئ. زما په نظرخوله معياريت څخه مرادهم بايدداوي چي په ليکنه يا شعر باندي لوستونکي پوه سي ، دهغه مطلب ژردرک کړای سي اوليکنه يا شعرېې پرزړوباندي کښېني. آيادجهاني شعرلهٌ سوٌ سره سره د ټولو پښتنوپه نزدمحبوب القلوب نه دئ ؟ که جواب ( هو ) وي. نوزه وايم د جهاني دشعرژبه معياري ده. اوکه ځوک وايي چي نه ، معياري ژبه همداده چي دازه يې ليکم. ماکهٌ په سيندلاهوٌ وکيښ ، که ميٌ په لاره ځمٌ وکيښ ، که ميٌ پښې تويېږيٌ وکيښ ، ټول ځکه معياري دي چي سين مي په شين اړولی دئ ! دې ته نوسرزوري وايي او سرزورۍ ته . نوبيازه هم جواب نه لرم

دژبي معياريت نه دزاړه اونوي ترمنځ دمبارزې په مارکسيستي فورمول ترلاسه کېدلای سي اونه دئ چي که په طبيعي ډول تعقيب نه (process ) دفرمان په وركولوسره. دايواوړد ژبنی پراسس سي ،ژبي ته خوراډېرتاوانونه رسوي لکه اوس چي يې رسولي هم دي. داطبيعي بهېر که پرچا اوږد ېږي يااوږد سوي وي ، وي به. خوتعقيب يې ضروري دئ. له دې بهېرسره دٌ کډي مي بارېږي ، زوی مي راملاکهٌ چلندپه کارنه دئ. اوکه څوک د سوټي د زورچلند ورسره کوي نوکوي به يې. خوتاسي به يې ووينئ چي دامنډه ترکومه ځايه رسېدلای سي. له معياريت څخه بايد دملنډو داسي . شی جوړنه کړوچي بس سين په شين واړوه ، نورنوهرڅه برغزوي چي وايې وايه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه وړاندې چې مې وویل د ژبې د معیار خبره یوه اوږده تدریجي عملیه ده. په انقلابي خېزونو باندې د هغې عملي کول به هغه راز نتیجه ورکړي لکه زموږ منورینو چې غوښتل په انقلابي شعارونو باندې په افغاني ټولنه کې ټولنیزاو سیاسي بدلونونه راولي خو په پای کې یې د غه بدبخت اولس په یوویشتمه پېړۍ کې د مذهبي فناټیزم ترخپېړې لاندې کښېناوه او د ښوونځې له تګه یې . ورته د کفر په اندازه ګنا ه جوړه کړه

ماله ځان سره پتېیلې وه چې پر د غه راز موضوعګانو به خپل وخت او انرژي نه لګوم. خو څرنګه چې په نوموړې لیکنه کې په نامه یاد سوی وم او له بلې خوا د دې لیکنې له امله داند ښنو مارانو وا خیستلم نو درنو لوستونکو ته د خپلو عقاید و د څرګند تیا له خاطره مې دا څو پاڼې . توري کړې. خدای دې وکړي چې د زړه په مطلب مې لوستونکي پوه کړي وي

که زیارت کړم نه رار سېږي

(یا ټګه زه یم یا ټګان دي زیارتونه(۱

محمد معصوم هوتک

د اګست دیارلسمه ۲۰۰۷ ع

اوکویل ـ کاناډا

. دامقاله د ښکلا مجلې ځلرم کال ، پنځمه ګڼه کي خپره سوه (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

: ددې کتاب په کښلو کې له دالاندې ماخذو څخه استفاده سوې ده


ـ پالوال ، عبدالرازق (ډاکټر) ، معیاري پښتو ، ۱۳۸۴ نمریزکال ۱

ـ خیرالبیان ، دکابل چاپ ، ۱۳۵۳ش ۲

(ـ رفیع ، حبیب الله ، ژبپالنه ،پښتوټولنه ، کابل ، ۱۳۶۱ (میزان ۳

ـ بریالی ، عبدالکریم، دپښتولیکدود ،پښتواکیډمي ، کوئټه ، ۲۰۰۰ع ۴

ـ یون ، محمداسمعیل، استادزیار، دپښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری ،۱۳۷۲ ۵

ـ خټک دوست محمد ، بحرالعلوم (لومړی ټوک) ،دمحمد معصوم هوتک په زیار، صحاف ۶ نشراتي موسسه ،۱۳۸۳ل

ـ زیار ،دوکتورمجاوراحمد(پوهاند ) پښتوپښتانه دژبپوهنې په رڼاکې ، ۱۳۷۹ ش ۷

ـ زیار ،دکتورمجاوراحمد(پوهنوال ) ویی پوهنه ،کابل پوهنتون ، ۱۳۶۰ ش ۸

ـ زیار، دکتورمجاوراحمد(پوهاند ) پښتوپښویه ، دربیم چاپ ، ۱۳۸۴ش ۹

ـ روهي ،سرمحقق محمدصدیق (کاندیداکادمیسن ) دپښتو ادبیاتو تاریخ ، معاصره دوره ۱۰ ،۱۳۷۸ش

ـ رشاد ، عبدالشکور، لودي پښتانه ،پښتوټولنه ، کابل ، ۱۳۳۶ش ۱۱

ـ نومیالی ، محمدانور، دپښتنودټولنیزتاریخ مبادي ،۱۹۹۰ع ۱۲

ـ وینس ، رازمحمد ، پښتوکتابونه، پښتوټولنه ، کابل ، ۱۳۳۷ش ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بینوا ، عبد الروف ، پښتو روزنه ، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل. ۱۳۵۲ش ۱۴

ـ هوتک ، محمد معصوم ، میرزا عبد الودود هوتک، ۱۳۷۷ش ۱۵

ـ دخان شهید یاد ، دمقالو مجموعه، د سرحدونو چارو وزارت ، کابل ، ۱۳۷۰ش ۱۲

ـ افغان یاد ، دمقالو مجموعه، کابل پوهنتون ، دژبو او ادبیاتو پوهنځی ، ۱۳۲۰ش ۱۷

ـ رویداد لویه جرګهٔ دارالسلطنهٔ کابل ، ۱۳۰۳ ش ۱۸

ـ ږ یوه ( مجله )، ۴ کال ، ۲ ګڼه ۱۹

ـ ږ یوه (مجله )، ۴ کال ، لومړۍ ګڼه ۲۰

ـ افغان ولس ( مجله )، ۲ کال ، لومړۍ ګڼه ۲۱

ـ افغان ولس (مجله ) ، ۵ کال ، لومړۍ ګڼه ۲۲

، ( ـ لېمه ( مجله ۲۳

ـ ګوربت ( مجله ) ، لومړی کال ، ۲ ګڼه ۲۴

ـ کابل ( مجله ) ، ۱۳۲۵ کال ، ۱۱ـ۱۲ ګڼه ۲۵

ـ ښکلا ( مجله ) ، ۴ کال ، ۳ ګڼه ۲۲

ـ ښکلا (مجله ) ، ۳ کال ، ۲ ګڼه ۲۷

ـ ورځ ( مجله ) ، ۲ کال ، ۳ ـ ۴ ګڼه ۲۸

ـ آئینهٔ افغانستان ( مجله ) ، ۱۰۴ ګڼه ، اکتوبر ۲۰۰۲ع ۲۹

ـ امید جریده ۳۰

ـ دعبد الحمید مومند کلیات، د محمد آصف صمیم په زیار، ۱۳۸۳ل ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د میرزا حنان بارکزي دېوان ، د محمد معصوم هوتک په زیار، ۱۳۷۰ش ۳۲

ـ د عبد الحمید مومند دېوان،دزلمي هیوادمل په زیار،کابل ، ۱۳۶۳ش ۳۳

ـ د د عبد الحمید مومند دېوان ،دصدیق الله رښتین په زیار، پښتو ټولنه ،کابل ، ۱۳۳۰ش ۳۴

ـ د حمید درومرجان ، د سید انوار الحق جیلاني په زیار،۱۹۷۸ع ۳۵

ـ دلوی احمد شاه بابا دېوان ، د مومن موحد په زیار،۱۳۷۸ش ۳۶

ـ دلوی احد شاه بابا دېوان( دېوان هرا ) ، د محمد معصوم هوتک په زیار، ناچاپ ۳۷

ـ د حاجي جمعه بارکزي دېوان ، دزلمي هیوادمل په زیار، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۶۰ش ۳۸

ـ دیوان هجري ،دهمیش خلیل په زیار، پېښور، ۱۹۵۸ع ۳۹

ـ د پښتو ژبې دودې اړتیا اولارې چارې ( دمقالو مجموعه )، ۱۳۷۸ش ۴۰

ـ پښتو چاپي آثار ( دمقالو مجموعه )، کابل ، ۱۳۵۷ ش ۴۱

ـ د پښتو ټولني تاریخچه ،پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۵۲ش ۴۲

ـ بینوا ویب پاڼه ، ۲ نومبر ۲۰۰۲ع ۴۳

ـ ټول افغان ویب پاڼه ، ۱۱زمری ۱۳۸۵ش ۴۴

ـ سپلمۍ ویب پاڼه ۴۵

ـ د سراج الاخبار کلکسیون ۴۶

ـ د طلوع افغان کلکسیون ۴۷

ـ زما متفرق یاداښتونه ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



49 � Tony, Crowley, Standard English & the Politics of Language , N.Y

50 � Encyclopaedia Britannica

51 � Illustrated World Encyclopaedia, N.Y.

52 � Oxford, Current English Dictionary, 1998

53 � Wikipedia Encyclopaedia, ( Inter-net)

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**